


# سټالین

## او د سوسیالیستي اقتصاد تجربه

(د ملګري سټالین د زیږېدني
د ۱۴۲ کلیزې په مناسبت)

سټالین او د سوسیالیستي اقتصاد تجربه

"د سوسیالیزم سره یو فوق العاده نوی، ماډرن، پرمختللی، عالي، صنعتي او تخنیکي اقتصادي سیستم جوړېږي، چې د پانګوالی برخلاف نابرابري، استعمار، د طبیعت سره ټولنیزې- انساني مبارزې ته نه پاملرنه، ورانونکې ځانپالنه (انډوېجوالیزم)، ټولنیزې ناخوالې او فرهنګي کثافات لکه فحشاء غلا، بېکاري، بې وزلي او نور ټول پکې د منظمې علمي پلان جوړونې پر بنسټ له منځه ځي او یوه عالي هوسا ټولنه جوړوي."



# ستالین

# او د سوسیالیستي اقتصاد تجربه

**ژباړه او راټولونه: مدرس**



گـــــوند
اقتصاد
بورژوا
امــــــــــپریالیزم
فلسفه
ډیالیکتیک
نظریه
شــــــــــعوري
ډیکتاتوري
طبقه
سرکښ
کپیټالیزم
پیــــــسې
نیشنلیزم
کــــارگر
پیړی
دولتونه
انسان پالنه
سوسیالیزم
په کار اچونه
تیوري
مارکســــــــــیزم
تـــــاریخی
پرولتاریا
سیاست
تاریخ
اضافي ارزښت
ســـــــــرمایه
حکومت
فیمینیزم
چپ
زیار کښ
بنسټ
انقلابي
مـــــبارزه
ماتریالیزم
ډموکراسي
نیولیبرال
اتحادیه
هیواد
کمونیزم
ټولنه
سود
ایډیالوژي
نړی حاکمیت
سمونونه
مخالفت
ټولنیز ژوند
سوسیالیست
قهرجن
ډموکراتیک

# کتاب پېژندنه

د کتاب نوم:

**ستالین او د سوسیالیستي اقتصاد تجربه**

ژباړه او راټولونه:

**مدرس**

د برېښنايي خپرولو نېټه:

**۲۰۲۰ ز**

(د ملګري ستالین د زیږېدني د ۱٤۲ کلیزې په مناسبت)

# ډالۍ

هغو ملګرو ته چې د سوسیالیزم جوړولو لپاره تر تخیل ور هاخوا، پر عیني تګلارو او میکانیزمونو باور لري.

# لیک لړ


سرلیک ________________ مخګڼه

ستالین، شوروي اتحاد او سوسیالیزم........................................۱

پر کتاب باندي، د ا . م شیري سریزه........................................۱۵


## لومړی ځپرکی

## د ستالین او سوسیالیزم د واکمنۍ د دوران شاخصونه او شمېرې


د سوسیالیستي ټاټوبي ژغورنه ........................................ ۳۳

د نړۍ د حیرانولو پر لور ........................................ ۳۵

د کرنې په سیاستونو کي بریاوي ........................................ ۳۸

سوسیالیزم بریالی کېږي!........................................۴۳

افسانې او واقعیتونه........................................ ۵۱

د پنځه کلنو ستالیني دورو شهکارۍ ........................................ ۵۸

د بریا په موخه د شوروي هوډ ........................................۶٤

د بیا رغوني اتل ........................................................ ٦٦
تېرو وختونو ته د درناوي سره؛ مخ پر وړاندي! ................................. ٦٩

## دویم څپرکی

## د شوروي اتحاد د صنعتي کولو او کرنیزو پالیسیو اړوند ځیني مسایل

د شوروي اتحاد د صنعتي کېدني تجربه ............................................ ٧٤
د شوروي اتحاد د «صنعتي کېدني» لپاره مالي سرچیني له کومه شوې؟..... ٧٨
د صنعتي کېدني د شروع پر مهال، د شوروي اتحاد د پیسو ذېرمه څومره وه؟.. ٨٠
د شوروي اتحاد د صنعتي ماشین د کار څرنګوالی................................ ٨٢
د شوروي اتحاد د صنعتي کولو ځیني لاسته راوړني............................ ٨٦
د صنعتي کېدلو د اقتصاد زوال او د شوروي اتحاد د صنعتي سیستم سقوط ٩١
پر وچکالۍ به هم برلاسي کېږو! ............................................... ٩٧
د ځنګلونو د ایښودلو لړۍ د سړې جګړې په دوران کي......................... ٩٩
پر طبیعت د برلاسي کېدلو د طرحي هیرول.................................... ١٠٢
لومړنی سور او زرغون!............................................................ ١٠٤
پر طبیعت د برلاسي کېدلو طرحه.............................................. ١٠٦
د طرحي له منځه تلل............................................................ ١٠٨

# دريم څپرکی

## ستالیني نظریات او د منتقدینو بدیلونه او لاسته راوړنې (؟) یې


د ستالین د زیږېدنې د ورځې په مناسبت ........................................ ۱۱۱

په سوسیالیستي ټولنې کې ستالیني طبقاتي نظریه او د هغې تاریخي اهمیت ۱۱۶

د پانګوالۍ څخه سوسیالیزم ته د اوښتون د دورې طبقاتي مبارزه ...... ۱۱۸

د سوسیالیستي بریاوو پر مهال طبقاتي مبارزه ................................ ۱۲۰

د نړیوال انقلاب ستالیني نظریه ..................................................۱۳۶

په یوه جلا هیواد کې د سوسیالیزم بریا ته رسېدل په څه مانا ده؟.........۱۴۳

د ستالین ستایونکي زموږ د عصر مخکښ رهبران ول .....................۱۴۸

لوړ برم ..................................................................................۱۴۹

نوی تمدن ............................................................................. ۱۵۳

د وحشت کور ته د ستالین تبعیدول ...........................................۱۵۶

د پاملرنې وړ!........................................................................ ۱۵۸

د ستالین ځپنې او ستالین ځپونکو په اړه ......................................۱۶۳

# سټالين، شوروي اتحاد او سوسياليزم

## (د پښتو ژباړن سريزه او زياتونه)

دا مو ښه وګڼل چي د کتاب د پښتو ژباړي په متن، مفاهيمو او کرښو کي د لوستونکو د ورکېدا د احتمال د لږولو لپاره، په پيل کي د سټالين، شوروي اتحاد او سوسياليزم په اړه يو داسي پېژندنه وړاندي کړو، چي د سوسياليزم او شوروي ماهيت، تاريخ او د سټالين د شخصيت او کړو - وړو په اړه، د امپرياليزم او پانګوالۍ د رسنيو د لوړ شور او ږغ څخه ليري وي، تر څو لوستونکي د کتاب په پيل کي لا د منځپانګي په ماهيت پوه سي او په آسانۍ سره يو کُلي او ټوله ائيز پوهاوی ورڅخه ترلاسه کړي.

## ۱ – سوسياليزم:

د زرګونو کلونو راهيسي انسانانو په بيلابېلو ټولنيزو نظامونو کي ژوند کړی. دا نظامونه د وخت په تيرېدو سره په دوامداره بدلون او تکامل کي وه او دا لړۍ يې لا دوام لري. د ټولنيز ژوندانه دا کمي او کيفي بدلون تصادفي نه، بلکې عيني او د بيلابېلو پروسو د تيرېدلو او اوښتونونو محصول وو او ددغو بدلونونو اصلي او ټاکونکی علت د توليدي وسايلو اوښتون او تکامل وو. په بشري ټولني کي، د نويو توليدي وسايلو د جوړېدلو سره، د انساني شناخت، معرفت، پېژندني او شعور په کچه کي هم بدلون راتلئ او د انساني شعور د پرمختګ سره، بيا د انسان په ټولنيز ژوندانه او د طبيعت او انسان په متقابل تعامل کي هم

کمي او کيفي بدلونونه را منځ ته کېدل. د لومړنيو توليدي وسايلو د جوړېدلو او تکامل سره، ټولنيز توليدي ځواکونه منځ ته راغلل، تر څو د ټولني د اړتياوو د پوره کولو لپاره د توليد چاري پر مخ يوسي، خو دا توليدي ځواکونو چي د هماغه پخوانيو زمانو څخه بيا تر نن ورځي پوري يې د انساني ټولني د اړتياوو د پوره کولو لپاره د توليد عمل ترسره کړی دی، بيا خپله د تاريخ په بيلابېلو پړاوونو کي تر ټولو خوار او ځپلي پاته شوي دي. د لومړنيو توليدي ټولنو څخه تر نن ورځي پوري - د خصوصي مالکيت د را منځته کېدو له امله - داسي اقتصادي مناسبات را پيدا شوي دي، چي د توليدي ځواکونو د کار ګټه يوه اقليت طبقه وړي او د توليدي ځواکونو اکثريت بيا په بې وزلۍ کي ژوند کوي او د ژوندانه د ترسره کولو لپاره خپلي مادي او معنوي اړتياوي لکه کور، کالي، ډوډۍ، امنيت، کار، زده کړه او نورو چوپړونو ته هيڅ - يا ډېر محدود لاسرسی لري. دا مسئله لږ نور په عيني ـ تاريخي بېلګو باندي روښانه کوو. کله چي انسانان په مغاروي او بدوي ژوند کي د اور سره آشنا شول، کرنه يې زده کړل، يو شمېر حيوانات يې اهلي او د جګړې لومړني وسايل يې جوړ کړل؛ ورسره – ورسره يې شعور هم وده وکړل، ژبه جوړه شوه او د انسانانو ترمنځ، لومړني ټولنيز مناسبات منځته راغلل. د دغو مناسباتو د تکميل، د انساني غرايزو او ټولنيزو اړتياوو د ښه پوره کېدو لپاره لا نور توليد ته هم اړتيا وه. د نور توليد لپاره نور توليدي ځواکونه په کار ول، چي يو مخ په توليدي کار باندي لګيا وي. په بشري تاريخ کي، لومړني ټولنيز توليدي ځواکونه، د انسانانو ترمنځ د لومړنيو قبيلوي جګړو اسير شوي بنديان وه، چي «مريان» يې

بلل او له نن څخه سل کاله وړاندي لا هم د نړۍ په بیلابېلو برخو کي ساتل کېدل. پر بادارانو باندي د مریانو حق یوازي د هغوی د نس مړول ول او مریانو به د نس مړولو په بدل کي د خپلو بادارانو د ژوندانه د اړتیاوو د پوره کولو لپاره بیلابېل تولیدي او خدماتي کارونه ورته کول. مریانو د خپلو بادارانو مالونه ساتل، کلا ګاني یې ورته جوړولې، ځمکي یې ورته کرلې او د جګړې وسایل یې ورته تولیدول. د مریيتابه د مناسباتو را منځته کېدني پر مهال، لسګونه لوی ښارونه او تمدنونه را منځته شول. په هغو ښارونو او تمدنونو کي، لومړني علوم، فنون او صنعتونه وټوکېدل. بشري تمدن، د مغاروي ژوندانه په تناسب لوی پرمختګونه ودرلودل، خو دا چي د تولیدي مناسباتو او تولیدي ځواکونو ترمنځ شدید تضاد موجود وو او دا تضاد د وخت په تیرېدو سره انتاګونیستي (چاودېدونکی) شکل ځانته اخیست؛ د یاد انتاګونیستي تضاد د شتون پر بنسټ، د مریيتابه تاریخي دوره په حتمي اوښتون محکومه وه. د مریانو د پاڅونونو، د تولید د نوي وسایلو د را منځته کېدلو او فرهنګي پرمختګونو سره په کراره – کراره د مریتابه په مناسباتو کي کمي او کیفي اوښتونونه راغلل او د ځمکوالۍ (فیوډالیزم) په مناسباتو باندي، د مریتابه د مناسباتو د اوښتون لامل سول. بادرانو، خپلو پخوانیو مریانو ته د کور درلودلو، واده کولو او ورته نوري آزادیاني ورکړې او د مریانو څخه یې په بزګرانو واړول، خو بزګران هم په دې مکلف ول، چي د پخواني بادار په باغ او ځمکه کي کار وکړي. د ځمکوالۍ د مناسباتو له مخي، د حاصل لس پر یوه برخه د بزګر او نهه د پخواني بادار کېدله، خو د ځمکوالۍ په مناسباتو باندي د مریتابه

د مناسباتو اوښتون خپله یو لوی تاریخي اوښتون وو. د ځمکوالۍ په دوران کې، انسانانو، د فلسفې، فرهنګ او اقتصاد په برخه کې لاسته راوړنې درلودلې. پاچاهانو د خدایۍ دعوې پرېښودې. ښارونه زیات شول او نژدې په هر ښار کې د وخت د سنتي علومو علمي مراکز جوړ شوي وه. انساني تمدن د مریتابه د دوران په پرتله وده وکړل. دا اوښتون په واقعیت کې د تولیدي ځواکونو د مبارزې او تولید د نویو وسایلو او نوي تولیدي مناسباتو محصول وو. زر - پنځلس سوه کاله وروسته، په اروپا کې د ځمکوالۍ له ګیډې څخه، د ماشین او نویو تولیدي وسایلو د رامنځته کېدلو سره پانګوالي وزېږېدل. د فرانسې د لوی انقلاب سره بیا د فیوډالي مناسباتو د سیاسي، ټولنیزي او طبقاتي را پرځوني لړۍ پیل شول. په پرمختللو صنعتي هیوادونو کې د صنعتي انقلابونو سره بزګران په کارګرانو واوښتل، کرنه میکانیزه شول او هغو میلیونونو انسانانو، چې پخوا یې ځمکې اړولې؛ نور د ماشین شاته ودرېدل او صنعتي تولیدات یې کول. د فیوډالي نظامونو د نسکورېدلو او نوي پانګوالي نظامونو د رامنځته کېدلو لړۍ د اروپا څخه پیل شوې وه، خو په ختیځو او نورو لیري پرتو ملتونو کې ډېره کراره وه. د پانګوالۍ د ودې سره چې اروپايي استعمارونه را منځته شول؛ مستعمره ملتونه یې د پانګوالۍ د پرمختګونو، تولید، علومو او فنونو څخه بې‌برخې لیري وساتل. د پانګوالۍ د تولیدي مناسباتو د را منځته کېدو سره هم مهاله، په لویدیځ کې د لیبرالي ولسواکۍ پر بنسټونو ولاړ نوي سیاسي نظامونه هم جوړ شول. نوي تولیدي مناسباتو د انسانانو په ژوند کې لوی کمي او کیفي بدلونونه راوستل. علومو، فنونو او هنرونو په بېساري توګه وده وکړل،

خو د تولیدي ځواکونو او تولیدي مناسباتو (کار او پانګې) د تضاد له کبله، د ټولنیز تولید او انساني کار ټوله ګټه - د ټولې ټولنې پر ځای - بیا هم څو محدودو د تولید د وسایلو خاوندانو (پانګوالو) ته تلل. په یوې خوا کې که پانګوالۍ پرمختګ کاوه او د انسان په ژوند کې یې مثبت بدلونونه راوستل؛ ورسره موازي یې په هماغه اندازه ورانی او ویجاړی هم را منځته کاوه. څومره چې پانګوالۍ، په پرمختللو پانګوالي هیوادونو کې پرمختګ کاوه؛ هغومره یې د ډېرو کارګرانو ځبېښاک، ډېرو مستعمرو او ډېرو بازارونو ته اړتیا پیدا کېدل او هغومره ورسره وحشي او میلیټاریزه (پوځي) کېدل. په دغه وخت کې کارل مارکس، په اقتصاد او تاریخ کې د کلونو – کلونو څېړني او مطالعې وروسته دې علمي پایلي ته ورسېد، چې په تاریخ کې د راغلو بدلونونو اصلي عامل د تولید په وسایلو کې د بدلون سره د تولیدي ځواکونو او تولیدي مناسباتو ترمنځ تضادونه دي. مارکس، د خپلو څېړنو په لړ کې په دې پوه شو، چې پانګوالي هم د مریتابه د دورې او ځمکوالۍ په ډول، په حتمي ماتي او اوښتون محکومه ده او د تولید نوي وسایل او مناسبات به انساني شعور ته تر دې هم وده ورکړي او انسانان به داسي یو سیستم را منځته کړي، چې د تولیدي مناسباتو او تولیدي ځواکونو ترمنځ تضاد پکښې نه وي. انسانان به د پانګوالۍ تخنیکي لاسته راوړني وساتي او هغو ته به لا دوامداره او چټک تکامل ورکړي، خو نه د څو کسانو او افرادو د ګټو لپاره، بلکې د ټولې انساني ټولني د ګټو لپاره. د یادي ټولني د جوړولو لپاره، د تولیدي ځواکونو او په پانګوالي ټولني کي د اماتورو روښانفکرانو هڅي او مبارزې په کار دي.

هو، سوسیالیزم هم د پانګوالۍ له بطنه زیږي! په سوسیالیزم کي د تولیدي ځواکونو او تولیدي مناسباتو ترمنځ تضاد رفع کیږي او د تولید پر وسایلو باندي د تولیدي ځواکونو ټولنیز مالکیت حاکم کیږي.

**د سوسیالیزم سره یو فوق العاده نوی، ماډرن، پرمختللی، عالي، صنعتي او تخنیکي اقتصادي سیسټم جوړیږي، چي د پانګوالۍ پر خلاف نا برابري، استعمار، د طبیعت سره ټولنیزي - انساني مبارزې او همږغۍ ته نه پاملرنه، ورانونکې ځانپالنه (انډوجوالیزم)، ټولنیزي ناخوالي او فرهنګي کثافات لکه فحشاء، غلا، بېکاري، بې وزلي او نور ټول پکښې د منظمي علمي پلان جوړوني پر بنسټ له منځه ځي او یوه عالي هوسا ټولنه جوړوي.** ملګری سټالین هم سوسیالیزم داسي تعریفوي:

«سوسیالیزم د لوړو تخنیکي معیارونو پر بنسټ، مخ پر وده صنعتي تولیدي سیسټم ته وایي، چي د ټولي ټولني، ورځ په ورځ زیاتېدونکي مادي او فرهنګي اړتیاوي تر وروستۍ کچي پوره کوي.» (فاسټر، ۱۹۷۰)

د سوسیالیستي ټولني د جوړېدلو شونتیا یوازي تر طرحه شوي علمي کشف پوري پاته نه شول، بلکې را منځته هم شول. په ورپسې برخه کي به د بشر په تاریخ کي د لومړنۍ سوسیالیستي ټولني پر جوړېدلو باندي رڼا واچوو.

## ۲ - د شوروي د سوسیالیستي هیوادونو د اتحاد جمهوریتونه:

د لومړۍ نړیوالي جګړې پر مهال، د لنین تر مشرۍ لاندي روسي بلشویکان په دې وتوانېدل، چي په روسیه کي، د بشر په تاریخ کي د لومړي ځل لپاره سوسیالیستي انقلاب بریالی او د تاریخ څرخ مخ ته کش کړي.[١] د روسیې د اکتوبر انقلاب نړۍ ته خپل سوسیالیستي، ډموکراتیک او مترقي ماهیت ډېر ژر، د استعمارونو ضد غورځنګونو څخه خپل د ملاتړ، د تزاري روسیې د مستعمره شویو سیمو په اړه خپل د سیاست، د تزاري روسیې لخوا تر ستم لاندي قومونو ته د خپلو هیوادونو د جوړولو او ملي آزادۍ د حقوقو ورکولو او د شوروي اتحاد د سوسیالیستي جمهوریتونو په تشکیل سره وښود او وروسته یې بیا د سوسیالیستي اقتصاد په چوکاټ کي، د سوسیالیستي اقتصاد د وړتیاوو په ښودلو سره نړۍ داسي حیرانه کړل، چي د ټولنیز او اقتصادي پرمختګ د سلو کالو لاره یې په لس کاله کي ووهل او په لس کاله کي یې یو وروسته پاته هیواد د نړۍ په دوهم ستر ځواک باندي واړاوه. دا د سوسیالیزم جوړښت وو، چي داسي بریاوي یې شوروي اتحاد ته ور په برخه کړې.

دوهمه نړیواله جګړه، چي د نړۍ د لویو پانګوالي هیوادونو لخوا د شوروي سوسیالیزم د پرمختګ پر وړاندي جوړه شوې توطیه وه؛ هم شوروي اتحاد تر پښو لاندي نه کړ او د سوسیالیزم حقانیت او برتري، په اقتصادي برخه کي، د هغه د چټک پرمختګ لرونکي ماهیت ترڅنګ، بشري او ملي آزادیو ته د

---

[١]- په دې اړه، د لا زیاتو معلوماتو لپاره لوستونکي کولای شي، د اکتوبر انقلاب نومي رساله ولولي.

ژمنتیا او د خلګو په را ټولولو او هغوی ته د سیاسي شعور په ورکولو کي هم څرګند شو. شوروي اتحاد نه یوازي دا چي په خپل قلمرو کي د سوسیالیزم بریالیتوبونه او د سوسیالیزم حقانیتونه وښودل، بلکې په نړیوال تولیدي بهیر کي د سوسیالیستي مناسباتو را منځته کېدل، په نړیواله کچه هم د لویو کمي او کیفي بدلونونو د را منځ ته کېدلو لامل شول، چي اغیزې یې هم پر پرمختللو پانګوالي هیوادونو او هم په وروسته پاته هیوادونو باندي ولویدې.

په پرمختللو پانګوالي هیوادونو باندي د شوروي سوسیالیزم د موجودیت اغېزه دا شول، چي پانګوالي هیوادونو، په خپلو ټولنو کي کارګرانو او زیار ایستونکو ته یو شمېر حقوق ومنل او د ټولنیزو انقلابونو څخه د ویري او ډار په سبب یې یو لړ ټولنیز اصلاحات راوستل. هغه څه چي مونږ یې نن د کار حقوق، د ښځو حقوق، د ماشومانو حقوق او نورو انساني ارزښتونو په اړه پېژنو؛ په لویدیځ کي یې د تامینېدلو سرنخ هماغه د سوسیالیستانو د مبارزو او سوسیالیزم د واک ته رسېدو څخه د پانګوالو په وېري او ډار کي دی، چي پانګوالي هیوادونو هم د هغو حقوقو مراعاتولو ته غاړه کښېښودل.

شوروي اتحاد، د جنوبي امریکا څخه نیولې بیا په آسیا کي، د کوریا تر ټاپو وزمي پوري، د نړۍ په هر کونج کي د استعمار ضد غورځنګونو ملاتړ وکړ او د هغه مادي او معنوي ملاتړ له برکته د نړۍ سلو هیوادونو خپله آزادي واخیستل. د شلمي پېړۍ لپاره د نړیوال امپریالیزم پلان، چي په نړۍ کي د ټولو ملي دولتونو له منځه وړل وو؛ د شوروي اتحاد د جوړېدو له کبله نه یوازي

بریالی نه شو، بلکې په نړۍ کې نژدې سل نور ملي دولتونه هم جوړ شول. ترځنګ یې د شوروي اتحاد سوسیالیستي جمهوریتونو، د خپل سوسیالیستي او مترقي خاصیت له مخي، د نړۍ په کچه، د وروسته پاته هیوادونو سره هر ډول بنسټیزي اقتصادي او تخنیکي مرستي هم کولې، اوس پوښتنه دا ده، چي د شوروي سوسیالیزم په رغوني او بریالیتوبونو کي بنسټیزه او رهبري کونکې ونډه د چا وه؟؟؟

## ۳ – سټالین:

ژوزف ویسارینویچ جوګاشویلي سټالین ګرجستانی بلشویک وو. هغه د زلمیتوب پر مهال لا د مارکسیستي -انقلابي جریانونو سره آشنا او یو ځای شو او د خپلي ځوانۍ ډېر کلونه یې د یو حرفوي انقلابي په توګه، یوازي د سوسیالیستي انقلاب د بریا په موخه مبارزه کړې وه. د دغو مبارزو په لړ کي اووه ځله د سایبریا په کنګل زندانونو کي بندي شوی هم وو او اووه سره پلا یې د سایبریا کنګل زندانونه مات کړي ول. سټالین د اکتوبر د انقلاب پر مهال هم مهم ماموریتونه ترسره کړل، وروسته د خلګو په چارو کي د سوسیالیستي حکومت کمیسار وټاکل شو او همداسي سلسله پر سلسله د خپل عالي ذکاوت او انقلابي صداقت له مخي په ګوندي مقامونو کي لوړ ولاړ او په نهایت کي د شوروي اتحاد د کمونسټ ګوند د عمومي منشي تر مقام پوري ورسېدئ. سټالین چي ځان ته یې د لنین شاګرد ویل؛ نه یوازي په مارکسیزم -لنینزم ښه ژور پوه وو؛ بلکې په عمل کي د تیورۍ د تطبیق ښې وړتیاوي یې

هم درلودې. د ملګري لنين تر مړيني وروسته، د اکتوبر انقلاب د کورنيو او بهرنيو دښمنانو له لوري په يو ناوړه وضعيت کي را ګير شوی او د شوروي سوسياليستي دولت د پرځېدو د ګواښ سره مخ وو. د کمونست ګوند په داخلي تشکيلاتو کي هم د ژورو تيوريکي اختلافاتو له کبله انشعابونه او فرکسيونونه را منځته شوي ول. د هغې جملې څخه ټروټسکي، د نړيوال انقلاب د نظريې په طرحي سره، پر ټولي نړۍ باندي د سره پوځ د لښکر کشۍ غوښتونکی وو او د سوسياليستي انقلاب د نړيوال کېدو پرته يې، په يوه هيواد کي د سوسياليزم جوړول ناشوني ګڼل. بوخارين بيا په سوسياليستي دولت کي د پانګه والو او لويو ځمکه لرونکو د شتون پلوي وو، خو سټالين د دواړو ترمنځ منځنۍ، واقعي، علمي، عيني او د مارکسيزم – لنينزم پر اصولو برابر دريځ غوره کړ. هغه په دې باور وو چي په نوره نړۍ کي انقلابونه پرته له دې چي شوروي اتحاد پر خپلو پښو ودرېږي او يو پياوړی سوسياليستي بلاک تشکيل نه کړي؛ نه شي بريالي کېدلای او شوروي اتحاد هم بايد خپل د پرمختګ لاره په سوسياليزم کي وباسي او د سوسياليزم ماهيت نړۍ ته ور وښيي، نه د پانګوالي پرمختګ له لاري. همدې ټکي ته يې د کارګرانو سره په يوې ناستي کي هم اشاره وکړل او ويې ويل: «موږ بايد د پرمختللي پانګوالۍ نړۍ د پرمختګ د سلو کالو لاره په لس کاله کي ووهو، که نه پانګوالي نړۍ به مو له منځه يوسي.» ټيک هماغسي هم وشول او د سلو کالو لار په سوسياليستي اقتصاد کي د هغه د بلشويکي سمبالوني له لاري په لسو کالو کي ووهل شول او يو وروسته پاته را ګير هيواد د سوسياليزم له لاري يوازي د

لسو کالو په ترڅ کي، د نړۍ په دوهم ابر ځواک واوښت. تر هماغو لسو کلونو وروسته سمدستي دوهمه نړیواله جګړه ونښتل او هټلر، چي خپل اتیا سلنه نظامي ظرفیتونه یې د سوسیالیستي ټاټوبي پر وړاندي پر کار اچولي وه؛ د سټالین تر مشرۍ لاندي سره پوځ لخوا یې کلکه ماته وخوړل او د سټالین تر رهبرۍ لاندي د فاشیزم د شر څخه نه یوازي شوروي اتحاد، بلکي ټوله نړۍ هم خلاصه شول. د دوهمي نړیوالي جګړې وروسته، د نړۍ په ډېرو هیوادونو کي خلقي او سوسیالیستي انقلابونه بریالي شول او سوسیالیزم د ځمکي د مخ ۳/۱ برخه کي واک ته ورسېد. دا هر څه د علمي نړۍ لید په چوکاټ کي په منظمي، دقیقي، علمي او عیني سازماندهۍ سره مخ ته وړل کېدل، نه په تشو خیالونو او شعارونو باندي. په ۱۹۵۳ کال کي چي سټالین په مرموز ډول مړ شو؛ په شوروي اتحاد کي خروشچفي ریژیونیزم واک ته ورسېد. خروشچف د ټولو ستونزو او ناکاریو پړه پر سټالین او دده پر کېش شخصیت اړول او د لومړي ځل لپاره همده د سټالین د دیکتاتورۍ په اړه افسانې او کیسې راویستلې. د مارکسیزم – لنینزم د اصولو او لارښوونو مطابق، یو چاته کېش شخصیت ورکول یو نامناسب عمل دی، خو هغه څه چي د تاریخ د ځینو دورو نابغه انسانانو ترسره کړي، د هغو د ښو یادونه او پر هغوی د لګول شویو ناوړو تورونو دفاع باید وشي. مارکسیزم- لنینزم هم د کېش شخصیت، هم د شخصیتونو د عُقده یې ترور؛ دواړو سره په ټکر کي دی. دا چي سټالین د سوسیالیزم معمار، د دوهمي نړیوالي جګړې ګټونکی او د نړۍ پر ۳/۱ برخه باندي د سوسیالیستي انقلابونو د ترسره کېدو «اصلي طرحه کونکی» پاته

شوي دی؛ نو خامخا به تر بل هر چا ډېر دښمنان هم لري. که د ۱۹۲۰ کلونو راهيسي لا ټروټسکيانو، بوخارينانو او نورو په ده پسي خوله خلاصه کړې وه، خو وروسته له هغه چي سټالين په نړيوال شخصيت بدل شو؛ دده د شخصيت ترور هم نړيوال اړخونه پيدا کړل. د لويديځ رسنيو، درواغجنو تاريخپوهانو او اکاډميسنانو او نورو ټولو د ده د بدنامۍ هڅي وکړې او دا هڅي لا دوام لري.

## ۴ – د علمي نړۍ ليد د لارويانو لخوا د سټالين تائيد علمي بنسټ لري، که عاطفي؟

د علمي نړۍ ليد د لارويانو لخوا سټالين ددې لپاره نه تائيدېږي، چي ګواکي هغه يو افسانوي رهبر وو، يا يې کاريزماتيک او عالي شخصيت درلود. سټالين د علمي نړۍ ليد لارويان په دې تائيدوي، چي سټالين په تيورۍ او عمل (پراټيک) دواړو کي سيده، اصولي او برلاسی وو. هغه د علمي نړۍ ليد پر سيده تګلوري باندي تر پايه روان وو او پلانونه او لارښووني يې د کارګري طبقې د خلاصون او رهبرۍ او د ملي آزادي غوښتونکو جريانونو د هر اړخير مادي او معنوي ملاتړ او عالي انساني ګټو لپاره وه. هغه، د لومړي ځل لپاره د اقتصاد د پلان سوي او علمي سازماندهۍ جوړښت او د هغه اغيزې نړۍ ته ور وښودلې او د بشر په تاريخ کي يې د لومړنۍ سوسياليستي ټولني جوړول رهبري کړل. سټالين نړۍ، بشريت او کارګري طبقې ته د خپلو خدمتونو پر

بنسټ، د علمي نړۍ لید لارویان تائیدوي، نه په دې چي کوم کاریزماتیک یا افسانوي رهبر وو.

## ۵ - د سوسیالیزم، سټالین او شوروي تړاوونه:

په شوروي اتحاد کي د حاکم سوسیالیزم د جوړولو یو اصلي لارښود ملګری سټالین وو. ټولي هغه کمي او کیفي اغیزې چي شوروي او سوسیالیزم پر بشریت لرلي وې، په هغه کي د لنین د شاګرد سټالین د کارونو، وړتیاوو او قربانیو سیوری شته. څوک چي سټالین ردوي، په واقعیت کي لنین ردوي او څوک چي لنین ردوي، په واقعیت کي مارکس ردوي! او څوک چي مارکس ردوي؛ د علمي نړۍ لید، پر طبیعت او ټولني د حاکمو عمومي قانونمندیو او د تاریخ د تګلوري سره آشنا نه دی! نور دي درانه ملګري کتاب ولولي، تر څو دوی خپله شوروي، سوسیالیزم او سټالین په دقیق او علمي ډول وپېژني. د کتاب د پښتو ژباړي څخه مو موخه دا وه، چي زموږ هیوادوال د سوسیالیزم د انساني، عادلانه او چټکو اقتصادي او فرهنګي پرمختګونو لپاره د دا سیسټم د ظرفیتونو سره لا ښه آشنا شي. د خپل ګران او محبوب هیواد افغانستان او زیار ایستونکو خلګو د پرمختګ لپاره فکر وکړي، انګېزه ورته پیدا کړي او د ټولنیز، اقتصادي او سیاسي پرمختګ، د علمي طرزونو او تګلارو سره بلدتیا ومومي. هغه کسان چي د هیواد د چټکي اقتصادي ودي، صنعتي کېدني، هر اړخیز اقتصادي او فرهنګي پرمختګ او ورسره د ټولنیز عدالت غوښتونکي

دي؛ کولای شي دا تجربې ولولي، له هغو څخه یې زده کړي او په خپل هیواد کې د خپلو ځانګړو شرایطو مطابق کار ور څخه واخلي.

## پر کتاب باندي، د ا . م شيري سريزه

د کمونيزم ضد کمپاين زياتوالی –مستعار نوم يې دئ: (سټالين ځپنه!)

دا دی د نړيوال سوسياليزم د پر شاتګ د شلمي کليزي سره، په داسي وخت کي چي نړيواله پانګوالي د خپل هر اړخيز بحران په جال کي را ګير ده او د ژغورني په نيت لاس و پښې وهي -په داسي وخت کي چي د پانګوالي نظام او امپرياليستي دولتونو ترمنځ کړکيچ خپل تر ټولو لوړي کچې ته رسېدلی او د نړۍ بيلابېل هيوادونه يو بل ګواښي، جګړې ته يې را کشوي، اشغالوي يې او د دې ټولو په مقابل کي بيا نړۍ کرار – کرار د بنسټيزو بدلونونو او اوښتونونو پر خوا ځي؛ انسان فکر کوي چي د پانګوالۍ ضد شعارونه او د وال سټريټ تسخيرول، د واشنګټن، نيويارک، لندن، پاريس، روم، برلين، ماډريډ او ډېرو نورو لويو ښارونو په کوڅو کي خوارو او غريبو پرګنو، نور د طبقاتي مبارزې د درواغجنو مدعيانو او په ښکاره د پانګوالۍ د مخالفانو (خو په پټه د پانګوالۍ د ملګرو – پ.ژ) د سترګو څخه خوب وړی او دوی يې دې ته مجبوره کړي دي چي د امپرياليستي ارتجاع په مرسته را ولاړ شي او د کرکي وړ شخصيتونو اضافي، بالابودي او پالتو خبري د غورځول شويو کاغذونو له کثافت دانۍ څخه را وباسي او خپله کمونيزم ځپنه بيا هم د هماغه نه بدلېدونکي شفر [سټالين ځپني] په واسطه لا زيات کړي. آيا دوی په واقعيت کي هم د سټالين ځپني معنی او مفهوم ته متوجه نه دي او په دې نه پوهېږي، چي دغه موضوع تل د [سوسياليزم ځپني] پټ نوم وو او اوس هم دئ؟؟ نه!!

ولي نه پوهېږي؟ څنګه نه پوهېږي؟ ډېر ښه پوهېږي! باید هېره نه کړو چې د دغو درواغجنو کمونسټانو د اول نسل چې امپریالیزم ته زیات نژدې او ګران وه [اوس هم دي] هر یوه یې ټروټسکي، زینویف، کامنوف، بوخارین، یاګودا، رادک او نورو دا پرېکړه کړې وه او په دې باور وه چې د آلماني فاشیزم په ملاتړ به د شوروي ځوان سوسیالیستي دولت را وپرځوي. که څه هم د دوهمي نړیوالي جګړې په ترڅ کي د فاشیسټانو لومړي نسل هم ماته وخوړل، خو د هغو درواغجنو وروستنیو نسلونو ډېرو بدنامو او خطرناکترینو امپریالیسټانو ته غېږه ورکړل. ته به وایې، د خپلو اسلافو یې زده کړي وه! دوی د امپریالیستي دولتونو د سلسله مراتبو د پرمختګ په پوړیو کي ډېر په چټکتیا سره لوړ ولاړل. د بېلګي په ډول، د دغي ډلي یو مخکښ سړی، هاویر سوانا، پخوانی تروتسکیست وو، چي په ځوانۍ کي یې د جګړې ضد اعتراضونه کول، خو وروسته یې د ناټو د قوماندانۍ او د اروپایي اتحادیې د خارجي سیاست د مسئول مقام ته لار پیدا کړل. یو بل بیا، چي په دې وروستیو کي یې یوه علمي –کمونستي ضد لیکنه (د سټالین مسئلې) تر عنوان لاندي خپره شوې؛ لوچیو کولتي وو چي د ایټالیا د کمونسټ ګوند سره د اړیکو پرېکولو وروسته د ایټالیا د بدنامه ګوند (برلسکوني) سره یو ځای شو او د همدې ګوند د لاري یې د نماینده په ډول د دغه هیواد د قانون جوړوني مجلس ته لار پیدا کړل. د سوسیالیزم د تخریب د شلمي کلیزې او د پانګوالۍ د سقوط د پیلېدونکو پړاوونو سره او د هغو فجایعو څخه چي په ورځني ډول د نړۍ په

کونج – کونج کي پېښېږي یا ددې وروسته پیلېدونکي دي؛ د سټالین ځینې بیا پیل د هغو ستونزو څخه د عمومي اذهانو د اړولو پرته بل څه نه دي.

**د دغه کمپاین لمن دومره پراخه ده، چې که د بشریت نني او راتلونکي نسلونه وغواړي؛ د هغه څه په اړه چې نن لیکل کېږي، ویل کېږي او دوی یې اوري او قضاوت ور باندي وکړي؛ دوی به دې پایلې ته ورسېږي، چې د سوسیالیزم ټول تاریخ د وژلو او وینې تویوني پرته بل څه نه وو او د سټالین په مشرۍ بلشویکانو د روسیې د امپراطوریو په جونګړو کي نه خصوصي ملکیت او استثمار له منځه یووړ او نه یې هم د بېکارۍ، بې کورۍ، بېسوادۍ، بې وزلۍ، لوږي، اعتیاد، فحشاء او ډېرو نورو ټولنیزو ستونزو ريښې وکښلې، نه سوسیالیزم د آسمانونو او کهکشان په تسخیرولو بریالی او برلاسی شو (اشاره د لومړي ځل لپاره فضاء ته د انسان د استولو ده. پ ژ) او نه یې دا وران هیواد یوازي د دوو لسیزو په بیارغوني کي، بشپړ کړ، بیا تینګار ګوم: د سټالین په مشرۍ یوازي دوې لسیزي حیرانونکي رغوني – د شوروي اتحاد د سوسیالیستي جمهوریتونه په داسي یو نړیوال سیاسي، اقتصادي او نظامي ځواک بدل کړ، چي په نړۍ کي د هیڅ مسئلې حل د هغه د ګډون پرته شونی نه وو.**

یوازي په همدې سبب ده، چي د پانګوالۍ ارتجاع د خپلي کرکي، دښمنۍ او کینې د بیان لپاره، چي د سوسیالیزم پر وړاندي یې لري؛ هر وخت د سټالین ځینې کمپاین پر لار اچوي. دوی غواړي دا دوره د بشر په تاریخ کي د

لومړني سوسیالیستي رغاوي د تجربې په توګه تر سوال لاندي راولي. ستالین ځینه یوازي د هغه شفري او مستعار نوم دئ. نوري خبري پوچې دي. که نه کوم ټولنیز او اقتصادي نظام په دغومره لنډه موده کي د ملایکو په واسطه جوړ شوی؟ د فاشیزم د ملګرو او همفکرو ننني نسل او د هغو امپریالیستي ملګري، د هر ډول شرم او حیاء پرته - له سهاره تر ماښامه د سوسیالیستي رغاوي د دورې په هکله افسانې را باسي، پرته له دې چي یوه خبره هم، په هغه دوره کي د خپلو طبقاتي او سازماني ملګرو او متحدینو د بې پولي او بې حده وحشتونو په اړه ووایي. دوی، هغه علني محکمې چي د مسکو په محکمو پېژندل شوي وې، او د زیات شمېر ژورنالیستانو او بهرنیو سیاسي نمایندګانو په مخ کي وشولې؛ تر پوښتني لاندي راولي، خو د هغو محکمو په اړه چي ډاکټري آفت ګڼل کیدې (ډاکترانو چي ډېر یې یهودي نژاد وه، د سوسیالیستي رغاوي او جګړې څخه وروسته سوسیالیستي بیارغاوي تر ټولو پیاوړي رهبران او کدرونه د زهرجنو درملو په واسطه وژل) په قطعي ډول سره هېروي. د دوی څخه یو هم نغواړي دا ومني، چي د ۱۹۱۷ د اکټوبر انقلاب د بریالیتوب وروسته، پنځه واره د بلشویکانو ټول وژنه سوې ده:

## اول ځل، د اکټوبر د انقلاب څخه بیا تر ۱۹۲۱ پوري:

په دې دوره کي په شوروي اتحاد کي د حاضرو څوارلسو بهرنیو هیوادونو په ملاتړ د بلشویکانو وژل په نه درېدونکي شکل سره دوام درلود. د باکو د ۲۶ کمیسارانو وژل، د قفقاز د دولتي فدراسیون، لیري ختیځ او سایبریا سیمو د

ټولو کادرونو او ګوندي مقاماتو وژل، ددې ادعاء نه انکار کېدونکي مثالونه او بېلګي دي.

## دوهم ځل، د کورنۍ جګړې پر مهال، د ۱۹۲۱ څخه بیا تر ۱۹۲۵ پوري:

د سپینو ګارډانو د وتلو قوماندانانو (کلچاک او ډنینیکنی) دا خبره تراوسه د خلګو په خوله کي ده، چي ویل یې: «یوه سوځلې آبادي تر هغه ښه ده، چي یو نفر اوسېدونکی یې هم بلشویک وي.» د همدغه قوماندانو په امر، د سایبریا د اوسپني د لاري په هر پنځه کیلومتره کي یې یو بلشویک را وځړوئ. زرګونه کلي یې د هغوی د اوسېدونکو سره وران کړل او ویې سوځل، د سایبریا په ځنګلونو کي یې لسګونه زره انسانان د بلشویک توب یا د بلشویکانو د پلویتوب په تور په ونو پوري وتړل او ژوندي یې په حشراتو او ځناورو باندي وخوړل.

## دریم ځل، د سپین ګارډ جنګیالیو په کورنیو جګړو کي تر ماتي خوړلو وروسته، د خپلو مشرانو د لارښوونو سره سم په ګوند کي غړیتوب اخیستلو ته مخه کړل:

دا پلا بیا په بل شکل سره؛ د توطیې جوړولو د بیلابېلو ډولونو په ګټي اخیستني سره یې، د درواغو د شهادتونو او دوسیو جوړونو له لاري، د بلشویکانو په ښکار اخته شول. د کورنیو جګړو په پای کي، له امریکا څخه شوروي اتحاد ته د پنځوس زره یهودانو تر مهاجرت وروسته، دوی ته نوري لاري – چاري

هم ور پيدا شولې. په دې دوره کي د ځينو ډاکترانو په مرستي (عموماً يهودي او ځيني بهايي نژاده) ګوندي او دولتي مقامات په روغتونونو کي په قتل ورسېدل. دا ډاکټران د سټالين تر مړيني لنده موده وروسته وپېژندل شول او محکمې ته وسپارل شول چي د ډاکټري آفت په محکمو باندي مشهوري وې.

## ځلورم ځل، په دوهمه نړيواله جګړه کي د سرو لښکرو او شوروي د خلګو د ۲۷ ميليونه وژل شويو څخه نيمايي يې بلشويکان ول:

دا بلشويکان د نازيانو او د دوی د کورني ملګرو او اوکرايني نيشنليسټانو د سازمان لخوا له منځه يووړل شول.

## پنځم ځل، د خروشچف د واکمنۍ (۱۹۵۳) څخه پيل، بيا تر نن ورځي پوري دوام لري:

دا قتل عام بيا د سټالين تر مړيني وروسته، د ګورباچوف – ياکليفوف – يلتيسن يهودي باند تر واک ته رسېدو پوري او بيا وروسته دا دئ تر ننه پوري دوام لري. دغه دوره په عمده ډول د بلشويکانو د فزيکي، معنوي او فکري وژلو، د دوی د منزوي کولو او د دولتي او ګوندي ارګانونو څخه د دوی د ليري کولو سره يو ځای وه. دا کار په ټولو حاکمو او غير حاکمو کمونستي ګوندونو کي په يو ډول نه يو ډول ترسره شو او تر اوسه هم دوام لري. دا ادعاء له واقعيت څخه ليري نه ده، چي ددې دورې وژني د ټولو نورو دورو څخه

زیاتي وحشتناکي او تراژیډیکي وې. البته، نه باید داسي فکر وکړو چي کمونسټ وژنه پر همدې ځای باندي پای ته رسېږي، دا ادعاء یوازي د بلشویکانو تر وژني پوري محدوده وه او کمونسټ وژنه په نړیوال مقیاس کي، په بنسټیز ډول د عدالت غوښتني سره یو ځای پیدا شوې او د بهرني او کورني دښمنانو په همکارۍ د نړۍ د لومړني سوسیالیستي هیواد وژنه د شلمي پېړۍ په وروستۍ لسیزه کي (د سټالین وژني) د شفري کلمې سره یو ځای هم د هماغه عمومي وژنو، یوه برخه وه. د امپریالیستي ارتجاع او د هغو د رنګارنګو لاسپوڅو موخه د دغو زړه بوږونکو جنایتونو څخه د متخاصمو (دښمنو) طبقاتو تلپاتي موجودیت ښکاره کول، د انسان د څخه د انسان د استثمار د له منځه وړلو له شونتیا څخه انکار، پرعلمي سوسیالیزم باندي د تورونو لګول او د بشر د وروستۍ ټاکني لپاره د راتلونکي نه شتون وو. په دې واقعیت باندي پوهېدل او د هغه درک کول دومره هوښیارۍ او بیدارۍ ته اړتیا نه لري، چي په ۱۹۵۳ کي، د سټالین تر مړیني وروسته او د خروشچف د واک ته رسېدو سره یو مخیزه سوسیالیزم ځپنه [د جعلي تاریخي اسنادو سره د سټالین ځپني تر عنوان لاندي] پیل شول. لسګونه کمیسیونونه، کمېټې او پلاوي د سټالین د رهبرۍ د دورې د جنایتونو د څېړني او د هغو رسیدګۍ ته جوړې شولې. سلګونه واره یې د هماغه مهال دوسیې او اسنادونه ها خوا – دې خوا کړل او په لسګونه او سلګونه واره یې وشمېرل. د هغو څخه وروستۍ یې د ګورباچوف د لاسپوڅي بانډ یو اصلي غړی الکساندر یاکوفکلیوف وو. د هغه تر سرپرستۍ لاندي کمیسیون، دده تر مړیني یو کال وړاندي په ۲۰۰۵ کال

کې لا فعالیت کاوه او په پای کې چې یې خپله مطلوبه غوښتنه لاس ته رانه وړل؛ په ۲۰۰۴ کال کې یې د ده په امر ټول هغه اسناد او مدارک چې د سوسیالیستي دورې په رغاوي پوري یې اړه درلودل، د هغه د جملې څخه د کاټین د فاجعې اسناد یې، د هیواد د ځانګړو آرشیفونو څخه را ټول کړل او د کرملین په ماڼۍ کې یې پټ کړل. په دې ترتیب سره، د هغه دورې اسنادو ته لاسرسی په کُلي ډول، حتی د روسیې کمونسټ ګوند ته هم، چې د روسیې د پارلمان تر ټولو لوی فرکسیون تشکیلوي؛ ناشونې شول. د دې ترڅنګ د سوسیالیزم تخریب او د شوروي اتحاد تجزیه، د شوروي اتحاد دننه او بهر د پانګوالو ځواکونو د ګډې او سازماندهي شوي همکارۍ په ترڅ کې د چپي فیشنیسټانو او ټروتسکیستانو په جسم کې یو تازه روح پو کړ او هغوی یې په نظري فاتحینو بدل کړل. د فیوډالیزم د پاتي شونو او د پانګوالۍ د ارتجاع کمونسټي ضد تګلارو چې تل دوام لري؛ د اکتوبر د لوی انقلاب تر بریا وروسته او د نړیوال پانګوالي سیستم څخه د روسیې د امپراطورۍ د وتلو سره یې په بې ساري ډول سره شدت واخیست او د شلمي پیړۍ د پنځوسمي لسیزې په منځ کې لا پسي ژور او پراخ شو او د تېرې پیړۍ په اتیایمه لسیزه کې د ګورباچوف، یاکوفلیفوف او یلتیسن د خاین باند د واک ته رسېدو سره تر ټولو لوړې کچې ته ورسېد. دغه دوره، په ځانګړي ډول، د زیاتو جعلي اسنادو، چټیاتو او بې سرچینو افسانو سره یو ځای وه، چې په کُلي ډول سره په شوروي اتحاد کې د کورنیو جګړو او فاشیزم د تېرې، رغوني او بیا رغوني دوره تر پوښتني لاندې راولي. د جعلي اسنادو اړخونه دومره زیات وه، چې د

هغو قيمت د سلو څخه يوې شاهۍ ته کښته شول. په دې ترتيب سره، چېنما احمقانو او د روسيې د اوسني مافيايي دولت ترمنځ د تاوده جوړ جاړي وروسته، هغو د اسنادو جعل په خپل کامل انحصار کي ولوتئ او په لويو نړيوالو معاملاتو کي يې ور څخه ګټه اخيستنه پيل کړل. هغه پاته څه چي اوس شته؛ هر حکومت، هر ګوند، هر تشکيل او حتی هر سړی کولای شي خپل د خوښي سند، په هر تاريخ، په هر عنوان، په هر مهر او هر لاسليک سره، د روسيې اوسني مافيايي – اليګارشي دولت ته سفارش ورکړي او د شرايطو او قيمت پر سر توافق ته تر رسېدو وروسته يې خپل د خوښي په وخت کي ور څخه واخلي. په دې دوره کي، دې واقعيت ته په کتو سره چي ډېر درواغ او ناوړه افسانې جوړوني، چي د سوسياليستي رغاوي او دوهمي نړيوالي جګړې د ورانيو د بيا رغوني په اړه يې درواغ را ختلي او رسوا شوي دي او چنداني پيسې نه ورته جوړوي؛ په کاتين کي د نازيانو وحشتناکه جنايت، چي تر هغه مهاله پوري لږ تر شک لاندي راغلی وو، د روسيې د دولت په لاس کي د جعلي اسنادو يو ډېر مهم او بازار لرونکی جعلي اسناد وګرځېد. د کاتين د موضوع تازه والی د دې لامل شو، چي د روسيې مافيايي اليګارشي، د دولتي اسنادو د جعل ميکانيزم په پراخو برخو کي پر کار واچوي. په همدې اړه، پر ځای ده چي د کاتين پر پېښه باندي يو شمع ولګوو او د هغه واقعيت هم روښانه کړو. نازيانو د جنايت د برعکس ښوولو لپاره په کاتين کي د اسنادو د پراخ جعل سره د کاتين د پېښي د اسنادو د جعل عمليات په (۱۹۸۷ – ۱۹۹۲) کلونو کي د روسيې د ځانګړو آرشيفونو د ټولو

اصلي اسنادو د را ټولولو سره پيل کړل، چې په هغه کې يې د سټالين د رهبرۍ اړوند څو سوه تاريخي اسناد جعل کړل، د شوروي اتحاد د کمونسټ ګوند د سياسي دفتر مخصوص اسناد د کاتين د حادثې په اړه...او نور نور... يې هم پټ کړل.

دا خبره، د ۲۰۰۹ کال د مي مياشتي په دولسمه ګنادي زوګانوف، د روسيې د کمونسټ ګوند مشر او په ۲۰۱۰ کال کې، ويکټور ايلوخين د کمونسټ ګوند د مخکښو رهبرانو او دوما د مجلس غړي دا موضوع افشاء کړل او د اصلي او جعلي اسنادو پاڼي يې د دوما د مجلس د علني صحنې او مطبوعاتو پر وړاندي ښکاره کړلې. د هغه څخه وروسته د روسيې کمونسټ ګوند د هيواد د اساسي قانون په محکمې او وروسته د استراسبورګ په محکمه کي د روسيې دولت مجرم اعلان کړ، خو د روسيې حاکميت د اساسي قانون په محکمه کي د اصلي اسنادو د وړاندي کولو څخه ډډه وکړل. په دې ترتيب سره څه ډول چي تمه کېدل، هيڅ يوې قضايي مرجع د روسيې د کمونسټ ګوند شکايت ته پام ونه کړ. البته مخکې له دې هم د روسيي کمونسټ ګوند د ۱۹۹۳ کال را پدې خوا د دوما د مجلس او دوما د مجلس د ملي امنيت د کميسيون په غونډو، مطبوعاتي کنفرانسونو او ګردي مېزونو کي د روسيې د حکومت بېځايه سند جوړوني افشاء او محکومي کړې. په پای کي، د (د روسيې د افسرانو د سراسري ټولني) په ابتکار يوه ټولنيزه –نظامي محکمه د ۲۰۱۱ کال د فبروري مياشتي پر لسمه نېټه، د زيات شمېر قاضيانو، حقوقپوهانو، تاريخ

ځېرونکو، کارپوهانو، لیکوالانو او سیاسي او ټولنیزو فعالینو په شتون کي تشکیل شول. په دې محکمه کي، ویکتور ایلیوخین د دوما نماینده چې د قاضي پر مقام او د روسیې د مجلس د ملي امنیت کمیسیون پخواني رئیس په توګه یې هم دندي ترسره کړي وې؛ اسناد وړاندي کړل. په دې ترتیب سره، د پارلمان د ملي امنیت کمیسیون په ټولو جلساتو، ټولو مطبوعاتي کنفرانسونو، ګردي مېزونو او همدا ډول په ټولنیزه – نظامي محکمه کي د کاتین د پېښي اړوند د جعلي اسنادو او واقعیتونو مسایل تر بحث او ځېړني لاندي ونیول شول او د روسیې د دولت مجرم والی په ثبوت ورسېد. دا دي هم بې ویلو پاته نه وي، چې د فبروري پر ۱۵ تاریخ، د محکمې د حکم د صدور څخه څه موده وروسته، ویکتور ایلیوخین د مارچ په ۱۹، ۲۰۱۱ کال کي په مشکوک ډول سره ناڅاپه مړ شو.

## د کاتین د پېښي جنایت څه ډول وو؟

د کاتین د جنایت په اړه لومړی خبر د هټلري آلمان لخوا د ۱۹۴۳ په آپریل کي خپور شو او په هغه کي ویل کېدل، چې پولنډي افسران د شوروي اتحاد په امر وژل شوي دي. دا خبر، د پولنډ تر اشغال څلور کاله وروسته، د اکتوبر په ۱۲ – ۱۹۳۹ کال کي د نازیانو له لوري او د فاشیستي آلمان د عمومي قوماندانی له لوري د پنځم هیواد په توګه د پولنډ تر اعلانولو او د هانس فرانک (د نورنبرګ په محکمه کي یو له ۲۴ اصلي جنایتکارانو څخه وو، چې د هټلر لخوا د اشغال شوي پولنډ د سیمو د خلګو د چارو عمومي مسئول او

وروسته د هغه سیمي د عمومي حاکم په توګه ټاکل شوی وو) تر ټاکل کېدو وروسته خپور شوی. د مارچ په ۱۹ – ۱۹۴۳ کي په پراواډا ورځپاني کي د (هټلر د پولنډي ملګرو) ترعنوان لاندي مقاله چاپ شول. په دې مقاله کي زیات شواهد پر دې بنسټ دي، چي څه ډول د فاشیستي المان اشغالګرانو د (بلشویکي تروررونو په ځواب کي) ډله ائیزو وژنو ته مخه کړل. ددې مقالې په دوام کي هغه رازونه ویل کېږي:

«هماغسي چي اوس ښکاره شوې ده، د شوروي د لښکرو د پرشاتګ وروسته په ۱۹۴۱ کي آلمانیانو د پولنډ د پوځ پخوانی پرسونل، چي د لویدیځ سمولنسک په سیمه کي په ساختماني کارونو باندي لګیا وه؛ د لویدیځو سیمو د زیات شمېر اوسېدونکو سره یو ځای، د هغې جملې څخه د شوروي اتحاد د سمولنسک ولایت خلګ هم بندیان کړل. نازیانو د ټول وحشته سره د پولنډ پخواني پوځیان او د هماغه سیمو خلګ ووژل او اوس د دغه جنایت د پټولو کوښښ کوي.» لومړی او اړینه مسئله دا ده، چي د ۱۹۴۱ کال د مني موسم د وژنو پر پېښي، د اجسادو څخه د آلماني ګولیو د را ایستلو، د قربانیانو په لاسو او پښو پېچلي آلماني رسۍ او دغه راز قانوني طبي مدارک او ټولي مسلکي څېړني او لاسته راوړني ښیي، چي دا پېښه د نازیانو، ګورباچوف د باند او د جوزف ګوبلز د نړیوالو پلویانو د ادعاء پر خلاف، د ۱۹۴۰ کال په دوبي کي نه، بلکې د ۱۹۴۱ کال په مني کي پېښه شوې وه او دا هغه مهال وو چي نازیانو د شوروي اتحاد لویدیځي برخي اشغال کړي وې او سور پوځ د هغو

سیمو څخه، د هغې جملې څخه د سولنګ ولایت څخه چي د کاتین ځنګلونه پکښې دي؛ پر شاتګ کړی وو او جګړه د مسکو په څنډو کي روانه وه. د دې ټولو سربېره بل روښانه دلیل دا دئ، چي پولنډي پوځیان د سره پوځ سره نه جنګېدل. د پولنډ د پوځ جزوتامونه او قطعات د جنرال انډرس تر قوماندې لاندي، چي ۹٦ زره پرسونل یې درلود او تر هغه مهاله یې د نازي اشغالګرو سره مقاومت کاوه؛ د سره پوځ د پرشاتګ سره یو ځای، د شوروي خاوري ته دوی هم پر شاتګ وکړ. ګوبلز چي په بې شرمۍ کي یې هیڅ حد نه پېژندئ، حتی د کاتین د جنایت د خپرېدو څو ورځي وړاندي د اپریل په نهمه ۱۹۴۳ کي د مقتولینو ټولنیز هویت هم ټاکلی وو او لیکلي یې وه: «د شوروي ځواکونو په کاتین کي د لسو زرو پولنډي بندیانو په شاوخوا کي د نظامي او غیر نظامي روشنفکرانو په ګډون روحانیون او نور قتل کړي دي.»

ده، په خپلو ورځني یادداښتونو کي د مي میاشتي پر اتمه ۱۹۴۳ کي هم ولیکل: «نه – له بده مرغه د کاتین په هدیره کي آلماني وسلې او مهمات موندل شوي دي، که دا موضوع روښانه شي......» وروسته ګوبلز د هغه د توجیې لپاره فکر کوي او لیکي: «فکر کوم دا هغوی دي، چي موږ د شوروي اتحاد سره د دوستانه اړیکو پر مهال موږ پر هغه هیواد باندي خرڅ کړل او یا خپله شورویانو هغوی په هدیره کي ایښي دي.»

ګوبلز په خوشالۍ سره ادامه ورکوي: «د کاتین موضوع په یوې تعقیب کېدونکي لویي سیاسي مسئلې باندي بدله شوې ده او موږ باید د هري شوني

لاري د هغه څخه کار واخلو!» هماغسي چي وینو، گوبلز د کاتین په ځنگلونو کي لس زره بندیان او په بل ځای کي ۱۲ زره تنه بندیان اعلانوي، خو د روسیې دولت او د گوبلز پلویان د خپلي الهام د سرچینې له مخي خورا مخته تللي دي او دغه شمېره ۲۵ زره بولي. د دغو لنډو تفسیرونو او د گوبلز د لارویانو د ټولو درواغو څخه ښکاره ده، چي د کاتین د جنایت پېښه نازیانو، د سټالینگراد تر ماتي وروسته په ۱۹۴۳ کال کي جعل کړل، امپریالیسټانو تعقیب کړل او د سوسیالیزم تر پر شاتگ وروسته د روسیې دولت هغه د چاپلوسۍ د یوې وسیلې په توگه د روسیې د بورژوازۍ د گټو د تامین لپاره په نړیوالو سوداگریو کي په کار واچول. دلته به څو خبري د پولنډ د ۹٦ زریز پوځ د برخلیک په اړه هم وکړو، چي د جنرال انډرس تر قوماندې لاندي یې د شوروي اتحاد د پوځونو سره یو ځای، د شوروي اتحاد خاوري ته پرشاتگ کړی وو. د ډسامبر په ۲۵ په ۱۹۴۱ کال کي، د مسکو پر شاوخوا د جگړې په تودو ډگرونو کي د شوروي اتحاد دفاعي کمیټې د پولنډ د پوځ پرشاتگ ته د شوروي په خاوره کي اجازه ورکړل، خو له څه مودې وروسته، د شوروي حاکمیت سره د یاد پوځ د قوماندانانو ځیني ستونزي منځ ته راغلې. پولنډیانو د سره پوځ د وسلو په تامیناتو کي د شوروي دولت ستونزو ته د پام پرته، د شوروي لخوا د وسلو د نه ورکولو او د جگړې د سنگرونو څخه د لیري والي په سبب، د شوروي د دولت څخه ناراضه شول. د پولنډ پوځ د نارضایتۍ پر سر باندي سټالین او انډرس د ۱۹۴۲ کال د مارچ پر اتلسمه باندي خبري وکړې. د انډرس په قول، سټالین ده ته وویل: «موږ د جگړې سنگرونو ته د

پولنډیانو د استولو لپاره تلوار نه لرو. پولنډیان کولای شي هغه مهال چې سور پوځ د پولنډ پولو ته ورسېد؛ په جګړو کې برخه واخلي.» خو جنرال انډرس د شوروي اتحاد څخه د پولنډ د پوځ په ایستلو او د متحدینو لویدیځو سنګرونو ته د پولنډي ځواکونو د استولو لپاره ټینګار کاوه. د انډرس د ټینګار په ځواب کې ۸۰ زره پولنډي پوځونه د خپلو ۳۷ زره کورنیو سره د ۱۹۴۲ کال د سپټامبر په میاشت کې د بریتانیا د نفتي تاسیساتو د ساتنې لپاره د ایران له لارې عراق ته واستول شول. په پای کې هغوی، د افریقا د شمال د جګړې په سنګرونو او د مونته کاسینو په شاوخوا کې، په ایټالیا کې په جګړو کې برخه واخیستل. له هغوی څخه ۱٦ زره یې په داوطلبانه ډول په شوروي اتحاد کې هم پاته شول او هماغسې چې سټالین وړاندیز کړی وو؛ د پولنډ پولو ته د سره پوځ د رسېدلو وروسته د جګړې لیکو ته سوق شول. دا وه هغه ربښتیا!!! د دغو ټولو سپکو هڅو په مقابل کې د تاریخ د څرخ محرکین او د ټولنیز عدالت پیروان (کمونسټان) باید په خپل ټول توان او طاقت د تاریخي واقعیتونو د روښانتیا، د سیاسي ځواک د ترلاسه کولو په لار کې د علمي سوسیالیزم د حقانیت د اثبات او د ستم او ځبېښاک څخه د خلاصې نړۍ لپاره کار وکړي. هغه اصلي علت چې زه یې د دې کتاب ژباړلو ته وهڅولم همدا وو. په ځانګړي ډول بیا دا چې د ګنادي زوګانوف تالیفات، چې د فلسفي علومو ډاکټر، د روسیې د کمونسټ ګوند رهبر او د شوروي اتحاد د متحدو کمونسټي ګوندونو صدر دئ؛ د سوسیالیستي رغاوي او سټالین د دورې د واقعیتونو په اړه ډېر څه لري. دا کتاب، یا په سمه مانا، همدا کتاب ګوټې رساله

د ملګري زوګانوف د نورو ارزښتناکو اثارو له ډلي څخه دي. دا کتاب که څه هم د حجم د اړخه کم او کوچنی دئ، خو د مضمون او د بحث وړ موضوعاتو له اړخه، ډېر غني دئ او هغو ته چي د کمونستي غورځنګ او سوسیالیستي رغاوي د تاریخ تحریفولو، په ځانګړي ډول هغه چېنمایانو ته چي د امپریالیزم او نړیوالي ارتجاع پر اسنادو او تبلیغاتو باندي مین دي او غواړي د هغه له مخي د واقعیتونو څخه انکار وکړي؛ د واقعیتونو په څټک باندي یو ښه مضبوطه ګوذار ورکوي. د کتاب د ژباړي او خپرولو څخه موخه د نړۍ د تاریخ د هغه درنې دورې تحقیق او څېړنه ده، چي د هغه په لړ کي د لومړي ځل لپاره پر ځمکي او تولیدي وسایلو باندي خصوصي مالکیت لیري او د انسان په وسیله د انسان استثمار له منځه ولاړ، د بې کورۍ او بېکارۍ ریښې چي د بشري ټولني لوی معضلات او د ټولنیزو – اخلاقي مفاسدو او انحرافاتو منشاء وه؛ وچي شوې، د لومړي ځل لپاره د بشر په تاریخ کي فضاء د شوروي انسان په تسخیر کي راغلل، په ډېرو تولیدي، فرهنګي، علمي، فني او ټکنولوژیکي برخو کي ډېري جالبي بریاوي ترلاسه شولې. زموږ موخه له دې کاره څخه د سوسیالیزم څخه د [ډېري] د درواغ ماتولو، د هغه دورې د نا روښانه اړخونو روښانول او د هغه د کمزورو او پیاوړو ټکو د پېژندلو لپاره یو هڅه ده. ځکه په تېر مهال د ښې پوهېدني پرته د ښې راتلونکي جوړول به هم د تېر وتنو سره یو ځای وي او موږ چي هم د راتلونکي د جوړولو هڅه کوو؛ باید بیا ځلي هغه تېروتني ونه کړو. دا کتاب ګوتې یو طوفان دئ، چي د علمي

سوسياليزم، کارګري طبقې او ټولو استثمار شويو کسانو پر ضد درواغ او تورونه د ځانه سره وړي.

د سټالين تر رهبرۍ لاندي د شوروي اتحاد د لاسته راوړنو شميرې د خلګو او پرګنو افسانوي برياوي او اتلولۍ، په بيلابېلو برخو کي د ټولنيز عدالت او آزادۍ د دښمنانو له لاري وارد شوي مادي او انساني تلفات، په ځانګړي ډول د فاشيزم او نړيوال امپرياليزم له لوري، هغه که له دننه څخه وې، که له بهر څخه؛ د بحث وړ دي او د کمونستي غورځنګ او لومړني سوسياليستي هيواد په تاريخ کي هماغه کليدي ټکي دي، چي تش په نامه چپيان او د دوی ډموکراټ هڅونکي په عمدي او قصدي ډول پر هغو سترګي پټوي او دا هماغه تاريخي اصل دئ، چي د راتلونکي تاريخي دورې جوړونکي [کمونسټان] بايد ور څخه خبر وي.

«موږ بايد شوروي اتحاد، په يو داسي هيواد چي د خپلواک اقتصاد او خپلواکۍ لرونکی او پر کورني بازار باندي متکي وي؛ واړوو. د دې لپاره چي زموږ هيواد د نړيوالي پانګوالۍ په زېړنده باندي بدل نه شي، ددې لپاره چي زموږ ټاټوبی د پانګوالۍ د ضميمې په توګه د هغه د عمومي نظم پر لوري پراختيا ونه کړي، بايد خپل اقتصاد داسي سمبال کړو، چي د پانګوالۍ د يوې ګټي راوړونکي موسسې په توګه نه، بلکې د صنايعو او کرني په اتحاد باندي د يو واحد اقتصاد په چوکاټ کي وده وکړي.»

د سټالين له ويناوو څخه د ګوند په څوارلسمه کنګره کي- ۱۹۲۵ کال –

# لومړی څپرکی

## د ستالین او سوسیالیزم د واکمنۍ د دوران شاخصونه او شمېرې
## ګنادي زوګانوف

## د سوسياليستي ټاټوبي ژغورنه

په ۱۹۲۲ کال کې هغه مهال چې د کورنۍ جګړې اور مړ شو، یوسف ویسارینوویچ سټالین د هیواد مشري پر غاړه واخیستل. هغه ته د هیواد چارې د پرګنو د ناپایه جګړو وروسته د یو ویجاړ اقتصاد په ډول په لاس ورغلې وې. د روسیې د خلګو لپاره جګړه، د لومړۍ نړیوالې جګړې په شکل کې، د ۱۹۱۴ څخه پیل شول او څلور کاله وروسته په کورنۍ جګړه باندې بدله شول. د هیواد د اقتصادي اوضاع په اړه، د دغې دورې په پیل کې چې په تاریخ کې په سټالیني دورې باندې ثبت شوې ده، واقعیتونه داسې وایي:

« د ۱۹۲۱ کال په پیل کې د صنعتي تولیداتو حجم ۱۲ په سلو کې وو. د کانونو او سرچینو لویه برخه ورانه شوې وه. یوازې ځینې کارخونې او کارځایونه فعاله ول. ویجاړیو، کلي او ښارونه دواړه پر سر اخیستي وه.»

ډېرو معاصرو تاریخپوهانو، ددې دورې په ارزیابۍ کې یوازې د کورنۍ جګړې ویجاړۍ تائید او د پاملرنې وړ ګرځولې ده، دا یې هېره کړې ده چې روسیه په ۱۹۱۴ کال کې د جګړې له لاسه څومره خرابه شوې وه. حتی د هغه دوران ورانې روسیې د نړۍ پام لا ځان ته خپلاوه. په تدریج سره، په کراره – کراره او ډاډ سره، هیواد د نړۍ په تاریخ کې د لومړني سوسیالیستي هیواد په توګه، د نړۍ د ټولو مترقي ځواکونو پام ځان ته واړوئ، خو د پانګوال نظام قواعدو د دغسې هیواد د ځواک د ښکاره کېدو زغم نه درلود. سټالین خپل د دوران ستونزې په ښه ډول سره درک کولې او په صراحت سره یې دا

تشخیصول، چې شوروي پر پښو درېدلو لپاره ډېر لږ وخت لري، تر څو هم خپلواک پاته شي او هم په آزادانه ډول پراختیا وکړي. سټالین د ګوند او خلګو دندي په مشخص ډول سره وټاکلې. ده وویل:

«موږ د ۵۰ – ۱۰۰ کال پوري د پرمختللو هیوادونو څخه شاته پاته یو. موږ باید دغه واټن د لسو کالو په ترڅ کي ووهو. یا به دا کار کوو، یا به موږ ماتوي.»

خلګ، د سټالین له لوري په ټاکل شوي دندي باندي پوهېدل، ځکه د خلګو د اکثریت ګټي یې منعکسولې او دا دنده د سوسیالیستي ټاټوبي او سوسیالیزم ساتنه او پالنه وه. د هغي دندي ټاکل او تشخیص د خلګو وحدت ټینګاوه. په همدې سبب، موخي ته رسېدل شونې شول او د نړۍ د حیرانتیا لامل وګرځېدل. په دې اړه د تان فرانسوۍ ورځپاڼي د کال ۱۹۳۲ د فبروري میاشتي په ګڼه کي ولیکل:

«د شوروي اتحاد سوسیالیستي جمهوریتونو د بهرنیو مرستو پرته د صنعتي کولو لومړی پړاو په بریالیتوب سره سرته رسولی.» نن انحصارکونکي، د باد راوړو پیسو خاوندان، او دلالان باید دغه خبري ته پام وکړي. هغه مهال، هر روبل چې خزانې ته راتلئ؛ د صنعتي پراختیا، رغوني او کلیو څخه د ملاتړ لپاره ګټه ور څخه اخیستل کېدل.

## د نړۍ د حیرانولو پر لور


د شوروي اقتصاد د اقتصادي پراختیا په اړه د سټالین په دوره کې حتی د لویدیځ ډېرو تیراژ لرونکو ورځپاڼو هم لکه د انګلستان فایننشل ټایمز ونه شوای کولای سترګې پټې کړي. دغه ورځپاڼه لیکي:

«د ماشین جوړوني په برخه کې بریاوې له شکه وتلي دي او د دغو بریاوو څخه یادونه کول، په ویناوو او مطبوعاتو کې بې بنسټه نه دي. باید هېره نه کړو، چې پخوانۍ روسیې یوازې ساده توکي او ماشین آلات تولیدول، شوروي اتحاد دا مهال د میټالوژۍ او الکتریک په برخه کې ټول اړین تجهیزات تولیدوي. دا هیواد د توکو د تولید داسې صنایع را منځته کړي دي، چې ټول اړخونه - د لوړ دقت لرونکي کوچنیو توکو څخه نیولې تر درنو صنایعو پورې - ټول په بر کې نیسي. هغه څه چې د کرنې په صنعتي ماشینونو پورې اړه لري؛ دادې چې شوروي اتحاد نور د بهر څخه د دغو توکو واردولو ته اړتیا نه لري. د هغه سره یو ځای، د شوروي دولت داسې تدابیر وسنجول چې د اوسپنې او سکرو په تولید کې ځنډ، د پنځه کلن پلان د عملي کېدو خنډ نه شي. د شک ځای نشته، چې د لویو فابریکو رغونه د درنو صنایعو دپام وړ پراختیا تضمینوي.»

په دې وروستیو کې، د لومړۍ نړیوالې جګړې پر مهال د تزاري روسیې د شتمنۍ خبرې د ورځې په موډ بدلې شولې او د ۱۹۱۳ کال شمیرې یې د

بيلګي په توګه راوړلې، خو آيا د سټالين د دوران د اغېزناکو برياوو ته هغه رسېدلای شواى؟ دلته ځيني شميرې را اخلو:


په ۱۹۱۳ کال کي، د روسيې د صنعتي توليداتو حجم د امريکا متحده ايالاتو اته چنده، د آلمان درې نيم چنده او د برتانيې يو نيم چنده کم وه. په ۱۹۱۳ کال کي، د روسيې ونډه د نړۍ په صنعتي توليداتو کي، تقريباً ۴٪ وه. د کورنيو جګړو او لومړۍ نړيوالي جګړې په کلونو کي د هيواد صنعتي ځواک په بېساري ډول کښته شو. د درنو صنايعو د توليداتو حجم د ۱۹۱۳ په پرتله ۷ برابره کښته راغلی، خو د کورنيو جګړو تر پاى وروسته د ملي صنايعو چټکه بيارغونه ترسره شول. تر ۱۹۲٦ کال پوري ملي صنايع تقريبا بيا ورغول شول او په ۱۹۲۷ کال کي د شوروي اتحاد د صنعتي توليداتو حجم د ۱۹۱۳ کال شاخصونه شاته پرېښودل. تر ۱۹۲۹ کال پوري د لومړي پنځه کلن پلان د پيل تر مخه، تر ۲۰۰۰ زياتي لويي دولتي صنعتي موسسې جوړي او ورغول شوې، خو دا ټولو د هيواد د ساتني او وړتياوو لپاره بسنه نه کول. د هغه سټاليني وظايفو د ترسره کولو لپاره چي د ګوند په ۱۴ کنګره کي وټاکل شوې؛ د ملي اقتصاد د نظام اداري اصلاح اړينه وه. په همدې سبب د ۱۹۲۹ کال راهيسي، د هيواد اقتصاد د پنځه کلنو پلانونو سره سم پراختيا پيدا کړل. هغه اصلي شاخصونه چي د لومړي پنځه کلني دورې پر مهال د صنعتي اقتصاد د پراختيا کچه ښکاره کوي، د شواهدو په ډول دلته را نقلوو:




پام مو دئ؟ د پنځو کلو څخه په کمه موده کي د صنعتي توليداتو حجم د سوسياليستي توليد سره دوه برابره زيات شو!

دا په داسي حال کي وه، چي ډېر صنعتي موسسات له صفر څخه پيل شول، په نوي تجهيزاتو او ټکنالوژۍ سمبال شول او په کار ولوېدل. دا يعني، په رښتيا سره هم اقتصادي نوښتونو د غټو اعلاميو او بي بنسټه چيغو - نارو پرته ترسره شولي. د کمونسټ ګوند (بلشويک) په رسمي کنګرې کي سټالين په وضاحت سره وايي: «زموږ هيواد په يو پياوړي او ځواکمن صنعتي هيواد باندي بدل شوی دئ.»

او دا هم هغه شميرې چي د ده ځرګندوني تائيدوي:




دغي لويي صنعتي بريا ته رسېدل او د هغو نورو برخو ته د لاسرسي پيدا کولو لپاره بايد ټولي سرچيني (اقتصادي، بشري ...) يو ځای او په ښه ډول سره سمبال شوي وای، چي دا کار شوی هم وو.

## د کرني په سياستونو کي برياوي

هغه خلگ، چي نن ورځ د تاريخي څېړنو په برخه کي فعاليت کوي او د سټالين دوران او د خلگو ترسره شوی تاريخي رسالت تر انتقاد لاندي راولي؛ په عين وخت کي ټينګار کوي، چي په هغه دوره کي بزګري اقتصاد ته لازمه پاملرنه نه وه شوې. د خلګو او هيواد په اړه د کمونسټ ګوند اوولسمي کنګرې ته په ګزارش کي، سټالين هغه څه چي د بزګرانو په اړه يې په لومړي پنځه کلن پلان کي ترسره کړي ول، خپل د ګزارش بيان په دغو ټکو را پيلوي:

«کلخوزي فعالین او سالخوزي فعالین، مکتبونه او سانتځایونه، ټراکټوریسټان (ټراکټور چلونکي –ژ) او کمباینیسټان (کمباین سمبالونکي –ژ) په ځمکو او مالدارۍ کي د اخته کسانو ډلمشران او د کرنیزو ځمکو مخکښ کارګران ټول نوموتي انسانان دي. د دوی سختو کارونو موږ لویو بریاوو ته رسولي یو، چي زه به یې وروسته یادونه وکړم.»


ددې سربېره، سټالین د ښار او کلي ترمنځ لوی واټن نه پټوي، خو په میني، ایماندارۍ او هیلي سره د کلي د بزګر نوم اخلي. د هیواد مشر په دې پوهېده، چي درانه بارونه هغوی پر خپلو اوږو وړل. پوهېده، چي هغوی څه ډول اتلولۍ کوي او په همدې سبب یې هم په کلیو کي د پوهي او فرهنګ د کچي د لوړاوي او د ښار او کلي ترمنځ د پراته واټن د تدریجي لیري کولو لپاره د هیڅ ډول کوښښ څخه مخ نه اړوه. سټالین اوولسمي کنګرې ته د ګزارش ورکولو پر مهال، په لومړي پنځه کلن پلان کي د بزګرانو سره د حکومت مرستي په دا ډول بیانوي:


«حکومت د ۲۸۶۰ ماشیني او ټراکټوري مرکزونو د را منځ ته کولو لپاره د ۲ میلیارډه روبله پورونو په ورکړي سره د بزګرانو څخه ملاتړ وکړ. دولت په یاده موده کي یوازي ۲۶۲ میلیونه پورونه د تخمونو د تیارولو او نورو کرنیزو اړتیاوو لپاره بزګرانو ته ورکړې. دغه راز، سوسیالیستي دولت د بیمې او مالیې د هڅوني په ډول ۳۷۰ میلیونه روبله د بې وزلو بزګرانو سره مرسته وکړل.»

خو ستالين په خپل راپور کي دا هم وويل، چي کرني که په يوې خوا کي پراختيا موندلې ده، خو د صنايعو په نسبت ډېره لږه ده. د شوروي اتحاد مشر وويل:

«په واقعيت کي څومره چي وړاندوينه يې کېدله؛ دا دوره د کرني په برخه کي د کوم لوی پرمختګ دوره نه وه.»

ستالين د کرني د برخي په برياوو کي، تر ټولو وړاندي د کرني د ماشينونو د توليد د صنعت د چټکي ودي او د کليو علمي او فرهنګي ودي ته هيله من وو. لاندي جدول د کرنيزي ټکنالوژي چټکه وده په لومړي پنځه کلن ستاليني پلان کي ښکاره کوي.






که د ټولو صنعتي توليداتو حجم د لومړۍ پنځه کلني دورې په برخه کي دوه برابره شوی وو، هممهاله د ټراکټورونو شمېر هم په دې دوره کي، ٦ برابره او د هغوی توليدي پوټانشيل، نژدې ۸ برابره زياتوالی پيدا کړ. ددې سربېره د کمباينونو شمېر هم ۱۵ برابره زيات شوی وو. سټالين په کليو کي د پنځه کلن پلان په اړه وويل:

**«د کالخوزونو او سالخوزونو د ټراکټورونو شمېر ۲۴۰ زره عرادې او د هغوی ځواک ۳ ميليونه او ۱۰۰ زره هارس پاوره ته رسېدلی دی. هماغسي چي ګورئ، دا ځواک په کليو کي د پانګوالۍ د ريښو د ايستلو لپاره لږ نه دی. هغه ځواک چي په ټراکټورونو کي يې دوه برابره زياتوالی راوستلی؛ په واقعيت کي د سوسياليستي رغاوي برلاسی بنيي.»**

البته، کلي یوازي په ټکنالوژۍ سمبال نه شول، بلکې د تعاوني کولو یوه غیر عادي لار یې هم ووهل. د لومړۍ پنځه کلني دورې پر مهال، تر ۲۳۰۰۰ زیات کمونستان، چي د پلان د ترسره کولو دنده یې درلودل؛ کلیو او بانډو ته واستول شول. سربېره پر دې، د لومړي پنځه کلني دورې پر مهال، حکومت ۱۱۰۰۰ تخنیکي او کرنیز متخصصین او دا رنګه ۲ میلیونه ټراکټوریستان، کمباینستان، روزل شوي چلونکي او یو میلون او ۶۰۰ زره ډلمشران، د ځمکو د کارګرانو د رهبرۍ لپاره کلیو ته واستول. سټالین شخصاً د ټکنالوژۍ او ماشین آلاتو د ساتني د شرایطو، د کرنیزو چارو د سمي ترسره کېدني او په ټولو کرنیزو ځمکو کي د تخمونو د صندوق د ودي د څرنګوالي څارنه کول. دغه ټول مسایل، اوولسمي کنګرې ته د سټالین په ګزارش کي منعکسي وې او دا د ده پر وړاندي د دې مسئلې په لوړ اهمیت باندي دلالت کوي. آیا شونې ده، چي د هیواد اوسنۍ رهبري د مسئولیت او په چارو د پوهاوي د دغومره اندازې د وړتیا یوه کوچنۍ برخه لا ښکاره کړي؟ دا رهبري حتی د دې وړتیا هم نه لري، چي د موټر جوړوني د صنایعو د عهدې څخه چي یوازي سږکال لسګونه میلیارډه ډالره پانګونه په هغه کي شوې ده؛ راووځي او ددې ستونزې د حل لپاره یوه ورځ د جرمني څخه غوښتني کوي، بله ورځ د فرانسې څخه، خو د سټالین تر رهبرۍ لاندي یوازي د ۳ کلونو په موده کي د بار وړونکو موټرونو تولید ۲،۵ برابره او مسافر وړونکي موټرونه ۱۶ برابره زیات شول.

## سوسياليزم بريالی کېږي!

د سټالين د دورې او د هغه د شخصيت د اړخونو په اړه، يوازي په دې ليکنه کي راغلي شميرې شاهدي نه ورکوي. د هغه د ويناوو او ګزارشونو څخه نه شو کولای خپله حيرانتيا د دې څخه، چي ده نه يوازي برياوي حتی نواقص هم څومره روښانه ليدل؛ پټه کړو. سټالين تل د لنين ددې ميثاق څخه پيروي کوله:

«د رهبرۍ په کار کي تر ټولو بنسټيزه مسئله، ځواکونو او سرچينو ته لوری ټاکنه او پر اجراتو څارنه ده!»


هغه په وار – وار د بورکراسۍ څخه بېزاري ښوول او د کاغذ بازيو او ډېرو خبرو، خو لږ عمل په اړه يې ګوتڅنډنه کول. سټالين د لومړي پنځه کلن پلان د پايلو د څېړنو پر مهال، د دغه پلان پر اجراء چي د څلورو کلونو او درو مياشتو په موده کي پای ته ورسېدی؛ يادي خبري وکړې. ما ددې سره، چي په خپل اثر (سټالين او معاصر مسايل) کي د انګرېزي بانک لرونکي جري ګيبسون نظر، د شوروي انسان د کار د ماهيت په اړه را اخيستی، فکر کوم دلته به هم بېځايه نه وي، چي د ۱۹۳۲ کال په اکټوبر کي د هغه نظر د لومړي پنځه کلن پلان په اړه بيا راواخلم. ګيبسون پر دې مسئله باندي تر ټينګار وروسته چي «غواړم ووايم، نه کمونسټ يم، نه بلشويک، زه شخصاً د صنايعو لرونکی يو پانګوال يم.» د شوروي نظام سره د هغه مهال د لويديځ د پرتلې په ضمن کي، د شوروي دولت او سټاليني اقتصاد په ګټه حکم کړی او وايي:

«په هغه وخت کي چي زموږ ډېري فابریکې له کاره پاته شوي دي او زموږ له خلګو څخه نژدې ۳ میلیونه کسان په ډېرۍ مایوسۍ په کار پسي ګرځي، خو د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونه مخته روان دي. موږ پر پنځه کلن پلان باندي ټوکي کولې او د هغو د ماتي وړاندوینه مو کول، خو ډاډه اوسئ چي یاد پنځه کلن پلان زموږ تر تصور هم زیاتي لاسته راوړني لري.»

په پنځه کلن اقتصادي پلان کي د سټالین او د ده د ملګرو اصلي موخه دا وه، چي یو بزګري هیواد په یوه صنعتي هیواد بدل کړي. دا موضوع ته ما په سټالین او معاصرو مسایلو کتاب کي هم پاملرنه کړې ده، خو د سټالین د ویناوو او اثارو په مطالعه کي چي ګوندي کنګرو، پولینومونو او د سرتېرو په وړاندي یې کړي دي؛ کولای شو پوه شو چي د بزګرۍ او کرني مسئله دده له نظره تر ټولو سخته وه. د تعاوني کولو غورځنګ او په بزګري مسایلو کي را منځ ته شویو ستونزو د سټالین فکر دده د عمر تر پایه پوري بوخت کړی وو.


یوازي هغه کسان په مغرضانه ډول هڅه کوي، د سټالین بزګري سیاستونه تحریف کړي، چي کولای شي د سټالین په دوره کي د کرني لپاره د دولت د لویو مرستو څخه هم منکر شي. البته، د تراکټور او کمباین په وسیله د کلیو تامین هم نه شي کولای، د دغو لویو کوښښونو او هڅو یوازینۍ بېلګې شي. حتی د دولت له خزانې څخه بې ساري مرستي هم بېلګې نه دي. د کلیوالو د علمي، تربیوي او فرهنګي پراختیا لپاره د سټالین په دوره کي زیاتي هڅي زموږ پر ځای خپله شاهدي ورکوي. د ۱۹۳۳ کال په لومړیو کي، د ۱۷ سلنه

په شاوخوا کي د لوړو زده کړو محصلین کلیوال وه. په داسي حال کي چي دا نسبت د هغه مهال په جرمني کي یوازي په سلو کي د ټولو زده کونکو ۲،۴ سلنه کېدل. هم په کلیوالو سیمو کي د ښوونځیو جوړول او هم د کلیوالو زده کړیالانو د شمېر ډېروالی دا ثابتوي، چي د یوې طبقې په ډول د سټالین لید لوري بزګرانو ته ډېر مسئولانه وو.





اوس به دا شاخصونه د ډموکراتیکي بازاري دورې سره پرتله کړو. که په ۱۹۹۱ کي د روسیې د فدراسیون په خاوره کي ۴۸٦۰۰ ښوونځی وې؛ د هغو شمېر په ۲۰۰۸ کال کي ۳٦۳۰۰ ته را کښته شو. یعني د سټالین په دوره کي د پنځو کالو په ترڅ کي تر ۲۰۰۰۰ ډېري ښوونځی پرانیستل شولې، خو د نني لیبرالانو د حاکمیت په دوره کي د اولسو کالو په جریان کي تر ۱۲۰۰۰ زیاتي

ښوونځی تړل شوي دي. د هغه مهال او شرایطو درک چې هیواد پکښې را گیر وو؛ هم الزامي دی، خو هغه تاریخپوهان چې د ستالین د خېرې د بدنامولو لپاره کار کوي؛ په دې اړه د بحث څخه تښتي چې: د نړۍ مخ پر وده هیوادونه هغه مهال په کوم حالت کې وه؟ د هغوی اقتصاد د شوروي اتحاد سره په مقایسه کې څه ډول پراختیا وموندل؟ د امریکا لوی بحران، څو شمېر انسانان د مرگ خولې ته وروستل؟ د هغه مهال د شوروي د واقعیت د درک او د دېرشمو کلونو د بریاوو او لاسته راوړنو او د نورو هیوادونو سره د هغه د ودې کچې، د پرتلې لپاره شمېرې زموږ ډاډه شاهدان دي.



دا شميرې خپله خبرې کوي، چې حتی د هغه وخت په بحران کې يومخکښ هيواد (امريکا) هم په ۱۹۳۳ کال کې ونه شوای کولای، خپل د ودې شاخص د ۱۹۲۹ کال په اندازه چې د لوی بحران کال وو؛ ورسوي. په اوسط ډول، د توليداتو حجم په دې هيوادونو کې ۲۵ سلنه کموالی پيدا کړ، خو د شوروي اتحاد د صنعتي توليداتو حجم په هغه دوره کې تر دوه برابره زيات شو. په دې ځای کې، د ديرشمو کلونو په سر کې يو څه شميرې د شوروي اتحاد او لويديځ د اقتصادي اوضاع د معلومولو لپاره د ثبوت په توګه راوړو.






هماغسې لکه ښکاري چې انګلستان او آلمان د ۲۰ کلونو په لړ کې، د روسيې پر خلاف حتی د کورنۍ جګړې د تېرولو پرته ونه توانېدل، چې خپل د

صنعتي تولیداتو کچه د ۱۹۱۳ کال تر کچې ورسوي؛ یوازي د امریکا متحده ایالات او فرانسه د ۲۰ کلونو وروسته وتوانېدل، خپل ځان د ۱۹۱۳ کال شاخصونو ته ورسوي، خو د امریکا ۱۰،۲ وده او د فرانسې ۷،٦ وده هم د شوروي اتحاد د ۴ برابره صنعتي تولیداتو د ودي سره، د روسیې د ۱۹۱۳ کال د شاخصونو سره په هیڅ ډول د پرتلې وړ نه دي.

دا دی، اوس چې موږ د ځوړ په حالت کي یو؛ د هغه دوران رښتېني او منطقي ارزیابي د ځانګړي اهمیت درلودونکې ده. باید پوه شو چې په شوروي اتحاد کي د صنعتي تولید لپاره په شلمو او دېرشمو کلونو کي د صفر څخه د دغو صنایعو منځته راوړل اړین ول. یا په بل عبارت، دا په داسي حال کي پېښه شول چې شوروي اتحاد د پېچلو دندو د ترسره کولو په لړ کي، د نوښتونو او خلاقیتونو په برخه کي تر لویدیځو هیوادونو په ډېر زیات سرعت مخکي شو. د موډرنیزم او نوي نوښتونو په پنځولو کي د وخت په نسبت، د نړۍ هیڅ بل هیواد دغه تجربه نه ده لرلې.


د هیواد د رغوني او د اقتصادي پراختیا د زیاتوالي لپاره، تر هر څه وړاندي د پوهني، روزني او تحصیل مسئله مهمه وه. دا هم د هغه دورې شمیرې:




ددې ټولو سربېره، د کارګري پوهنځیو عالي تحصیلي مراکزو تر ۱۹۴۰ – ۱۹۴۱ پوري، ۱۰۰ زره کسان ټولنې ته وړاندې کړي ول. شمېرني ښیي، چې د هغه مهال د رهبرۍ په ځانګړو بحثونو او کاري تمرکز کي، د نوي کولو او

نوښتونو د را منځته کولو لپاره، د فکري بنسټونو ايښودلو ته کار، ځان ته ځانګړی ځای درلود. حتی، د دوهمي نړيوالي جګړې پر مهال هم ماشومان ښوونځيو ته تلل او د زده کونکو شمېر يوازي ۸۰۰ زره لږ شوی وو. دا چي په زده کړي، پوهني، ښووني او روزني باندي دومره تمرکز او ټينګار څه پايلي ودرلودې؛ د دوهمي نړيوالي جګړې وروسته سټاليني دورې د اختراعاتو او اکتشافاتو د ثبت شمېر يې را ښيي.



ددې یادونه چې هر کال، د وړاندیز شویو اختراعاتو او اکتشافاتو څخه ۵۰٪ سلنه یې د تولید په دوران کې پر کار اچول کېدل؛ لازمه بولم. یادې شمیرې او شاخصونه، که د نننیو لاسته راوړنو سره په ځانګړې ډول بیا د نانو ټکنالوژۍ په برخه کې پرتله شي؛ ډېره حیرانونکې به وي.

## افسانې او واقعیتونه

د سټالین ضد تبلیغات، چې په دېرشمو او څلوېښتمو کلونو کې هټلري اس – اس یې پیلونکي وه؛ تصادفي نه ده، چې نن هم د فاسدو مقاماتو، جنایتکاري الیګارشۍ او د دوی ګومارل شوي تبلیغاتي ډلو (چې سیاسي شنونکي یې بولي) خولې ته لوېدلي دي. که له یوې خوا څخه، دوی د شوروي اتحاد پر ټولو انساني بریاوو او لاسته راوړنو باندې چپ پاته کېږي او د هغه دوران دضایعاتو د څو چنده غټ ښودلو په واسطه د شوروي تاریخ د تحریف هڅه کوي؛ د بلې خوا څخه، د دوی اندامونه اوس هم د شوروي دولت لخوا پر دولتي کارکونکو او مقاماتو باندې د دولت د شدید څار او کنټرول، د فساد او جنایتکارۍ سره د ټینګې مبارزې او د هغو کسانو سره قاطع چلند، چې په شعوري او آګاهانه ډول یا د بې مسئولیتۍ له مخې یې خلګو او هیواد ته زیان رسوئ؛ تر اوسه په رپږد دي. د دوی پوهاوی د ډموکراسۍ او آزادۍ څخه د دوی لپاره د خلګو پر حق، د نا محدودې غلا او تېرې پرته بل څه نه دی. دوی، هغه سیستم او جوړښت، چې غواړي د دوی د غلا حق محدود کړي، په ډېر شدت سره دیکتاتور او مستبد سیستم بولي. د سټالین او د ده د رهبرۍ

څخه د هغوی د نفرت اصلي دلیل خاص په همدغه ټکي کي دی. ځکه د ده په وخت کي د لوړ پوړو مقاماتو کارونه په ډېر دقت سره کنټرولېدل او جنایتکاران په خاص ډول سره ځپل کېدل. هو! البته چي انحرافونه او نا حقه قربانۍ به هم شوي وي، خو په وروستۍ پایله کي زموږ د سوسیالیستي ټاټوبي او خلګو د اکثریت په ګټه وې.

دا چي د سټالین په دوره کي پر بې ګناه وګړو باندي بې اساسه او بې بنسټه تورونه لګول شوي او یا ډېر غیر ضروري سزاوي او مجازاتونه د قانون د هغو سر غړونکو په وړاندي چي د خفیفو مجازاتو مستحق ول ترسره شوي دي؛ موږ کمونسټان د با مسئولیته او صادقو تاریخپوهانو او محققانو سره، په دوو ډېرو اړینو ټکو باندي ټینګار کوو:

**اول** – بې بنسټه تورونه او د ځواک څخه د امنیتي او نظامي سازمانونو ناوړه استفاده د سټالین شخصي نوښت نه وو. خپله سټالین، نه یوازي د هغو کسانو د بېلاریو په وړاندي، چي د نظم او امنیت د ټینګښت مسئولین وه؛ سخت غبرګون ښود، بلکې هغه چارواکي چي په ناوړو اعمالو یې د بې ګناه خلګو ژوند یا آزادي په خطر کي اچول؛ هم تر سختي پوښتني او ګرویږني لاندي نیول. همدا دلیل وو چي د دیرشمو کلونو د امنیتي سازمانونو دوه رهبران، یژوف او یاګودا په پای کي، د خپلو افراطي کړنو او بېلاریو بیه پرې کړل او محکمې ته کش شول او دا واقعیت چي د دولتي امنیت د سازمان لومړی درجه چارواکي د خپلو بې لاریو په دلیل محاکمه شول؛ د شوروي ضد

تبلیغاتو ټول بنسټونه، چې وایي د دولتي امنیت سازمانونو د سټالین په وخت کې د قانون تر کنټرول نه وه لاندې او خپل سري کړني یې کولې؛ نړوي او له منځه وړي.

**دوهم** – د شوروي ضد تبلیغات، د ننني جنایتونو د قربانیانو د یادولو پرته، په هغه دوره کې ناپایه مجازات او قربانیان په خورا بې شرمۍ سره څو چنده زیات ښيي. ددې ټکي د اثبات لپاره، په یو معتبر څېړونکي باندې استناد کوو، چې ډېره موده کېږي د شوروي دورې د محققانو او څېړونکو لپاره اصلي سرچینه ده.

هغه د تاریخ څېړونکی، ویکتور زمسکوف دی چې یو ډېر ښه تاریخي - څېړنیز اثر یې زموږ د بحث وړموضوع ته ځانګړی دی. زمسکوف، خپله څېړنه په ۱۹۸۹ کال کې، د شوروي اتحاد د علومو د اکاډمۍ د تاریخ د شعبې کمیسیون د غړي په توګه په شوروي دوره کې، د انساني تلفاتو د شمېرو د معلوماتو لپاره د هغه اسنادو مطالعه چې لا د ده د کار د پیل تر مودې پوري محرم او د ګټورو اطلاعاتو درلودونکې وه - د هغه له جملې څخه د دولتي امنیت د سازمان هغه شمیرې، چې د کورنیو چارو وزارت اړوند د اکټوبر د انقلاب په دولتي آرشیف کې ساتل کېږي - پیل کړل او وروسته یې لاسته راغلي او څو –څو واره بیا –بیا کتل شوي پایلې خپرې کړې. په پایله کې دغه تاریخپوه، د دې ترڅنګ چې د سټالین سره یې خپل مخالفت په وار –وار اعلان کړی وو؛ د لیبرالو مبلغینو د حملو سره مخ شو. دا حملې پر هغو

واقعیتونو باندي د ده د رڼا اچوني په سبب وې، چي د هغوی ادعاوي يې د سټاليني استبداد له امله د ميليونونو او حتی لس گونو میليونو قربانيانو په اړه مطلقه غلطوله. زمسکوف په قاطع ډول سره دا ثابتوي، چي د دېرشو کالو په اوږدو کي، د ۱۹۲۱ څخه تر ۱۹۵۳ پوري په ټوله کي څلور ميليونه سیاسي محکومين زندانونو او د کار کیمپونو ته اچول شوي او نژدې ۸۰۰ زره کسان د هغو څخه په اشد مجازاتو باندي محکوم شوي دي. په عين حال کي، دا تاریخپوه ټينگار کوي، چي د متعارفي ارزيابۍ په پایله کي، په هغه دوره کي د تورونو او جرايمو د اثبات په اړه تر نن هم ښه سیستم وو، یعنې دا چي هيڅ د بې گناهۍ سند پر هغو څلور ميليونه سیاسي بنديانو او نژدې اته سوه زره په اشد مجازاتو محکومینو باندي نه شته. او دا هم هغه جدول چي زمسکوف د نوېيمو کلونو په پیل کي په خپل تحقيقي اثر (سياسي تورونه په شوروي اتحاد کي د ۱۹۱۷ څخه تر ۱۹۹۰ پوري) کي يې تنظیم کړی او په ډېرو رسنیو کي خپور شوی هم دی.

**اول جدول، د انقلاب ضد کړنو او نورو جنايتونو چي د ټولنيز امنيت لپاره گواښونکي وه؛ په جرايمو د محکومو کسانو شمېره، د ۱۹۲۱ کال څخه تر ۱۹۵۳ پوري**

| کال | د محکومانو شمېر | په اشد مجازاتو باندي محکومه شوي | کمپ، خارخونه او محبس | تبعید او ایستنه | نور تنبیهي اقدامات |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۹۲۱ | ۳۵۸۲۹ | ۹۷۰۱ | ۲۱۷۲۴ | ۱۸۱۷ | ۲۵۸۷ |
| ۱۹۲۲ | ۶۰۰۳ | ۱۹۶۲ | ۲۶۵۶ | ۱۶۶ | ۱۲۱۹ |
| ۱۹۲۳ | ۴۷۹۴ | ۴۱۴ | ۲۳۳۶ | ۲۰۴۴ | - |
| ۱۹۲۴ | ۱۲۴۲۵ | ۲۵۵۰ | ۴۱۵۱ | ۵۲۲۴ | - |
| ۱۹۲۵ | ۱۵۹۹۵ | ۲۴۳۳ | ۶۸۵۱ | ۶۲۷۴ | ۴۳۷ |
| ۱۹۲۶ | ۱۷۸۰۴ | ۹۹۰ | ۷۵۴۷ | ۸۵۷۱ | ۶۹۶ |
| ۱۹۲۷ | ۲۶۰۳۶ | ۲۳۶۳ | ۱۲۲۶۷ | ۱۱۲۳۵ | ۱۷۱ |
| ۱۹۲۸ | ۳۳۷۵۷ | ۸۶۹ | ۱۶۲۱۱ | ۱۵۶۴۰ | ۱۰۳۷ |
| ۱۹۲۹ | ۵۶۲۲۰ | ۲۱۰۹ | ۲۵۸۵۳ | ۲۴۵۱۷ | ۳۷۴۲ |
| ۱۹۳۰ | ۲۰۸۰۶۸ | ۲۰۲۰۱ | ۱۱۴۴۴۳ | ۵۸۸۱۶ | ۱۴۶۰۹ |
| ۱۹۳۱ | ۱۸۰۶۹۶ | ۱۰۶۵۱ | ۱۰۵۸۶۳ | ۶۳۲۶۹ | ۱۰۹۳ |
| ۱۹۳۲ | ۱۴۱۹۱۹ | ۲۷۲۸ | ۷۳۹۴۶ | ۳۶۰۱۷ | ۲۹۲۲۸ |
| ۱۹۳۳ | ۲۳۹۶۶۴ | ۲۱۵۴ | ۱۳۸۹۰۳ | ۵۴۲۶۲ | ۴۴۳۴۵ |
| ۱۹۳۴ | ۷۸۹۹۹ | ۲۰۵۶ | ۵۹۴۵۱ | ۵۹۹۴ | ۱۱۴۹۸ |
| ۱۹۳۵ | ۲۶۷۰۷۶ | ۱۲۲۹ | ۱۸۵۸۴۶ | ۳۳۶۰۱ | ۶۴۴۰۰ |
| ۱۹۳۶ | ۲۷۴۶۷۰ | ۱۱۱۸ | ۲۱۹۴۱۸ | ۲۳۷۱۹ | ۳۰۱۵ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۹۳۷ | ۷۹۰٦٦۵ | ۳۵۳۰۷۴ | ۴۲۹۳۱۱ | ۱۳٦٦ | ٦۹۱۴ |
| ۱۹۳۸ | ۵۵۴۲۵۸ | ۳۲۸٦۱۴ | ۲۰۵۵۰۹ | ۱٦۸۴۲ | ۳۲۸۹ |
| ۱۹۳۹ | ٦۳۸۸۹ | ۲۵۵۲ | ۵۴٦٦٦ | ۳۷۸۳ | ۲۸۸۸ |
| ۱۹۴۰ | ۷۱۸۰٦ | ۱٦۴۹ | ٦۵۷۲۷ | ۲۱۴۲ | ۲۲۸۸ |
| ۱۹۴۱ | ۷۵۴۱۱ | ۸۰۱۱ | ٦۵۰۰۰ | ۱۲۰۰ | ۱۲۱۰ |
| ۱۹۴۲ | ۱۲۴۴۰٦ | ۲۳۲۷۸ | ۸۸۸۰۹ | ۱۰۷۰ | ۵۲۴۹ |
| ۱۹۴۳ | ۷۸۴۱۱ | ۳۵۷۹ | ٦۸۸۸۷ | ۷۰۷۰ | ۵۲۴۹ |
| ۱۹۴۴ | ۷۸۴۴۱ | ۳۵۷۹ | ٦۸۸۸۷ | ۴۷۸۷ | ۱۱۸۸ |
| ۱۹۴۵ | ۷۵۱۰۹ | ۳۰۲۹ | ۷۰٦۱۰ | ٦۴۹ | ۸۲۱ |
| ۱۹۴٦ | ۱۲۳۲۴۸ | ۴۲۵۲ | ۱۱٦٦۸۱ | ۱٦۴۷ | ٦٦۸ |
| ۱۹۴۷ | ۱۲۳۲۹۴ | ۲۸۹٦ | ۱۱۷۹۴۳ | ۱۴۹۸ | ۸۲۱ |
| ۱۹۴۸ | ۷۸۸۱۰ | ۱۱۰۵ | ۷٦۵۸۱ | ٦٦٦ | ۴۵۸ |
| ۱۹۴۹ | ۷۳۲٦۹ | - | ۷۲۵۵۲ | ۴۱۹ | ۲۹۸ |
| ۱۹۵۰ | ۷۵۱۲۵ | - | ٦۴۵۰۹ | ۱۰۳۱٦ | ۳۰۰ |
| ۱۹۵۱ | ٦۰٦۴۱ | ۴۷۵ | ۵۴۴٦٦ | ۵۲۲۵ | ۴۷۵ |
| ۱۹۵۲ | ۲۸۸۰۰ | ۱٦۱۲ | ۲۵۸۲۴ | ۷۷۳ | ۹۵۱ |
| لومړۍ نیمایي ۱۹۵۳ | ۸۴۰۳ | ۱۹۸ | ۷۸۹۴ | ۳۸ | ۲۷۳ |
| ټولټال | ۴۰٦۰۳۰٦ | ۷۹۹۴۵۵ | ۲٦۳۴۳۹۷ | ۴۱۳۵۱۲ | ۲۱۵۹۴۲ |

دغه شمیرې هغه افسانې او درواغ د دې اړوند، چې د سټالین په دوره کې د هیواد نیم جمیعت زندان ته اچول شوی وو او میلیونونه اعدام شوي وه، افشاء کړل او د هغه وخت د لیبرالو مبلغینو د ناراحتۍ لامل وګرځېد او نننې یې تراوسه هم اندېښمن کړي دي. د دغه علمي څېړني د حقانیت څخه انکار ناشونی دی. د دې واقعیت په مقابل کې، د سوسیالیزم مخالفان چپ پاته کیږي او د خپلو عجیبو تورونو لګولو په لړ کې لا افسانې جوړوي او بالاخره راشئ دوه ډوله یو د بله سره مقایسه کړو. د سټالین په دوره کې، د دېرشو کالو په اوږدو کې، ۴ میلیونه نفرو څخه پوښتنه - ګرلوېږنه شوې ده او د هغو څخه شاوخوا اته سوه زره یې اعدام شوي. د شوروي اتحاد د ورانونکو په اصطلاح ډموکراټانو په دوره کې، چې د ۱۹۹۱ څخه یې د هیواد چاري په لاس کې اخیستي دي؛ د روسیې نفوس ۱۵ میلیونه کم شوی دی. د پانګوالۍ د رغولو لپاره چې د هغه څخه د دوامداره او زیاتېدونکې کشمکش پرته بلشی لاسته راغلی هم نه دی؛ هیواد د دغه انساني تلفاتو په ورکولو او د نفوسو د دغه ډول کموالي د تراژیدۍ سره مخ شوی، چې په تدریج سره، کرار - کرار د دوهمې نړیوالې جګړې تلفاتو ته ور نژدې کیږي. حتی که د هغو ۸۰۰ زرو نفرو پر بېګناهۍ باندې شواهد هم وي، چې د محکمې په امر د سټالین په دوره کې وژل شوي د او د نظام قربانیان شوي دي؛ په دې حال کې هم نشو کولای پر دې باندې سترګې پټې کړو، چې د نننې نظام جوړښت تر هغه لس - شل چنده زیاتې قربانۍ اخیستي دي. زر او لک نه؛ میلیونونه انسانان یې وژلي دي. که سټالیني نظام استبدادي نظام بولو؛ نو اوسنی لیبرال ډموکراټ نظام څه

شی شو؟ خیر، پر اوسني نظام مو ډېر پخوا نوم ایښی وو؛ د انقراض او له منځه وړلو نظام!

اوس به د سټالین په دوران کې په شوروي اتحاد کې اقتصادي ژوند وڅېړو؛ او د سټالیني نوښتونو پر اغېزمنتیا به بحث وکړو.

## د پنځه کلنو سټالیني دورو شهکارۍ

تر دې ځایه خو مو ځیني شاخصونه او شمیرې د اقتصاد، کرنې او د ټکنولوژۍ د پراختیا په برخه کې وړاندې کړې دي. دلته د پنځه کلنو سټالیني پلانونو پایلې او لاسته راوړنې هم په لنډ ډول مطالعه کوو.

لومړی پنځه کلن پلان (۱۹۲۹ – ۱۹۳۳) د الکټروفیکېشن (برېښنا رسونې – برېښنا غځونې) وو. په دې برخه کې، ټولټال ۸،۷ میلیارډه ډالره ولګیدې، چې تر تېرو یوولسو کلونو (۱۹۲۸ – ۱۹۱۸) دوه برابره زیاته پانګه اچونه وه. د دې پانګې پنځوس سلنه د صنایعو په پراختیا کې ولګېدل، چې د هغه څخه یې ۷۵ سلنه درنو صنایعو ته ځانګړې شوې وه. د لومړي پنځه کلن پلان پر مهال، ۱۵۰۰ لویې صنعتي فابریکې جوړې شوې. د الوتکي جوړولو برخې، د ماشین آلاتو جوړلو صنعت، کیمیاوي او موټر جوړوني صنایع، د ماشینونو د قالب ټکنالوژي او د کرنیزو ماشینونو تولید، په مکمله توګه له صفره پیل شو. ترڅنګ یې په دې هم ټول پوهېږو، چې که د اوسپنې په ویلي کولو، د المونیمو د تولید او د عالي کیفیت لرونکي فولادو په برخو کې لویي برياوي

نه وای، په دغو نورو برخو کي چي پورته مو يې يادوني کړي؛ هم ښه محصولات په لاس نه راتلل.

د لومړی پنځه کلني دورې په جريان کي، د الکټروفيکېشن د پلان لپاره ډېر بنسټيز کار وشو. د هيواد د برېښنايي مرکزونو د توليد په ځواک کي ۲،۵ برابره زيات والی راغلی. د لومړي پنځه کلن پلان د اجراء په وخت کي، د اقتصاد مضبوطه بنسټونه، يعنې درانه صنايع او ميکانيزه کرنه را منځ ته شول. په هيواد کي د بېکاری ريښې وچي شوې او د ورځني کار موده اووه ساعتونو ته را کښته شول. د سوسياليستي اقتصادي برنامې وړتيا ډېره ښه ښکاره شول.

موږ مخکي، د حيران شويو بهرنيانو نظر د لومړي سټاليني پنځه کلن پلان د پايلو په اړه بيان کړلې. په دې ځای کي د انګرېزي مجلې (راونډ ټېبل) نظر هم را اخلو. دا مجله ليکي:


« د پنځه کلن پلان تحقق حيرانونکی دئ. د خارکوف او سټالينګراډ د ټراکټور جوړوني فابريکې، په مسکو کي د زيل د موټر جوړوني فابريکه، په نيژيني نوګوراد کي موټر جوړونه، د اوبيزي بټی، په نيپرو پطروفسک، ماګينتاکورسک او کوزنتسک کي د فولادو د توليد لويي کارخوني، په اورال کي د ماشين جوړوني او کيمياوي کمپنيو پارک، هغه څه دي چي د شوروي اتحاد په وياړونو باندي بدل شوي دي. ددې سره – سره په شوروي کي نوري صنعتي لاسته راوړني هم شته. د ټولو ستونزو او کړلېچونو سربېره، شوروي اتحاد ډېره چټکه پراختيا وکړه او پښي يې ټينګي کړې...... پنځه کلن پلان د

بنسټیزي پراختیا بنسټ کښېښودئ او د شوروي اتحاد څواک یې په حیرانونکی ډول زیات کړی.»

د دوهم پنځه کلن پلان پایلي (۱۹۳۳ – ۱۹۳۷) هم د لږي حیرانتیا څخه برخمني نه وې. هیواد لکه پخوا په تېزئ سره پراختیا موندله او البته نړئ کي هم بدلونونه پر لاري وه. په جرمني کي فاشیزم واک ته ورسېد. ترڅنګ یې سټالین، په ۱۹۳۳ کي لا د جګړې د حتمي والي په اړه ښکاره یادونه کړې وه. دا ادعاء یې په ټوله کي د هیواد د اقتصادي سیاست په اړه وه.

د صنعتي تولیداتو حجم د هماغي منظمي ودي او پراختیا سره زیاتېدئ او د پنځه کلن پلان تر پایه پوري ۲،۲ سلني ته ورسېد. د برېښنا تولید ۷،۲ برابره زیاتوالی ښکاره کوئ. ۸۰ سلنه صنعتي محصولات په تازه جوړو شویو کارخونو او فابریکو کي چي د لومړي او دوهمو پنځه کلنو پلانونو په ترځ کي جوړي شوي وې؛ تولیدېدل. په صنایعو کي د کار په موثریت او مثمریت کي ۱،۹ برابره زیاتوالی راغلی وو. ۴۵۰۰ لویي صنعتي فابریکې جوړي او پر کار واچول شوې. د اورال او کرماتور د درنو ماشینونو فابریکو، د چلیاینسک ټراکټور جوړوني، د اورال واګن جوړوني او د نووا د اوسپني د ویلي کولو فابریکې د دغو لویو موسساتو له جملو څخه وې. په ۱۹۳۵ کال کي کي د ماسکو مټرو، چي پلازمیني ته ویاړ او ښکلا ورکونکې وه؛ ګټي اخیستني ته وسپارل شول. د تیاترونو، سینماوو، فرهنګي خونو، او کتابتونونو په شمېر کي د پام وړ زیاتوالی راغلی. په کلیو کي د سینمایي اوزارو او فرهنګي خونو د

پراختیا لپاره ځانګړی کار وشو. د استراحت ځایونو او تفریح ځایونو په جوړلو کي زیات والی راغلی. د دوهم پنځه کلن پلان پر مهال کور جوړونه تر اول پنځه کلن پلان هم زیاته وه. د سټالین په دوران کي جوړ شوي کورونه نن هم زموږ ښارونو ته ښکلا ورکوي او اوسني شتمن لا د هغه دوران د کورونو د غصب لپاره تر هر ځومره پیسو تیریږي. په هره دوره کي د خلګو لپاره هستوګنځای او کور د ټولنیزي رفاه او هوساینې اصلي نښه ده. په دي ځای کي به د سټالین په دوران کي د دغه ټولنیز نعمت په اړه شمیرې وړاندي کړو.



د سټالین د دورې په پای کي د کور جوړوني چاري د هغه د دورې د پیل په پرتله تقریباً ۸ برابره زیاتوالی شیي. د ټولو لپاره اجباري تحصیل او زده کړې بیا د دوهمي پنځه کلني دورې تر ټولو لویه بریا وه. نن ورځ (د لیبرال بازار تر مدیریت لاندي) د هغو ماشومانو شمېر چي ښوونځی ته نه ځي؛ ۲ میلیونه ښودل کېږي. د سټالین په دوره کي داسي بې شرمي شونې نه وه، خو نني حاکمیت، په تحصیلي سیستم کي د شوروي نظام دغه ډېره لویه بریا له منځه وړې. په هغه کلیو کي چي د سټالین په دوران کي پکښې ښوونځی پرانیستل شوې؛ اوس پکښې ښوونځی د تل لپاره په تړل کېدو دي. دا په داسي حال کي ده چي رسنیو ته د لاسته ورغلو خبرونو له مخي، د روسیې د ښووني او روزني وزیر، په یوه نوی تحصیلي موډل باندي کتنه کوي. د پوهني د وزارت د نوي طرحي له مخي کوچنیان به استادان او پوهان نه؛ تاجران او سوداګر کېږي. د دې کار وروستۍ پایله به هماغسي چي د زده کونکو والدین هم په پوهېږي؛ د وړیا زده کړو له منځه وړل! د دوهم پنځه کلن سټالیني پلان په کلونو کي روغتیا پالنه، درمل جوړونه او د نا پېژانده درملو په اړه څېړنه، کار او مطالعه تر بل هر وخت زیاته وه. د پنسیلین جوړول د هغه وخت یو له هغو لاسته راوړنو څخه وه، چي د دوهمي نړیوالي جګړې پر مهال یې میلیونونو سرتېرو ته بیا ژوند ورکړ. د دریم پنځه کلن سټالیني پلان په لومړنیو کلونو کي د شوروي اتحاد اقتصاد، د سوسیالیزم د مطلق ښه والي او برترۍ شاهد وو. هیواد د درنو صنایعو په برخه کي، په نړۍ کي دوهم ځای او په اروپا کي اول ځای ونیو. یوازي د پنځه کلن پلان په لومړیو دریو کلونو کي د جګړې له

کبله نا تمامه پاته شوي، ۳۰۰۰ نوي صنعتي فابریکې ګټې اخیستني ته وسپارل شوې. د برېښنا بندونه، د نفتو د فلټر سیستمونه، د سیخانو او د کاغذ جوړوني لویې صنعتي ټولګي جوړې شولې. د کارګرانو شمېر په شوروي اتحاد کې تر ۱۹۴۰ کال پورې، ۳۱،۲ میلیونو ته ورسېد، چې دا شمېر په ۱۹۲۸ کې ۱۱،۴ میلیونه وو. دا میلیونونه انسانان د دایمي کار او ټولنیز هویت څخه برخمن وه. په هوسا کورونو کې اوسېدل او کولای یې شوای د کوم خنډ پرته خپل په پوهه کې زیاتوالی راولي. دغو انسانانو کولای شوای خپل کوچنیان په بریا سره لوی کړي او د هغوی په راتلونکې باندې ډاډه اوسي. په همدې سبب هم خلګ په ۱۹۴۱ کال کې، د سوسیالیستي لاسته راوړنو د ساتني په موخه په ډېر شور او شوق سره جګړې ته ولاړل. د دغسي یو ټولنیز یووالي پرته، د اکثریت د ګټو لپاره د دغسي ایمان او عقیدې پرته او د هغه د رعایت د تضمین پرته، شوروي اتحاد په سختۍ سره د پیاوړو دښمنانو تر فشار لاندې ژوندی پاته کېدلای شوای. په همدې سبب هم زموږ خلګو د دښمن پر وړاندې خپل د هیواد ساتنه وکړل او ددې شعارونو سره [د سوسیالیستي ټاټوبې په لار کې، د ملګرې ستالین په لار کې] یې د دښمن محاصره ماته کړل.

## د بریا په موخه د شوروي هوډ

د دوهمي نړیوالي جګړې کلونه هم د خلګو او هم د سټالین لپاره ډېر سخت کلونه ول، خو جګړې په قطعي ډول ثابته کړه، چي سټالین یو زوړور او هوښیار مشر وو. دقیقاً، د جګړې په هماغو اولو ورځو کي، د جنګي سیمو څخه د هیواد زړه  او ختیځ ته د میلیونونو خلګو او ډېرو شتمنیو او تجهیزاتو انتقال پیل شو. د اوسېدني په نویو سیمو کي هم د جګړې لپاره د تولید چاري ترتیب شولې.

د ۱۹۴۱ کال د جون څخه تر ډسامبر پوري، ۲۶۰۰ فابریکې او ۱۰ میلونه انسانان د اوسپنو د لاري او ۲ میلیونه نور انسانان د اوبوله لاري د جګړې د سنګرونو څخه لیري یووړل شول. د ۱۹۴۱ کال په سپټمبر کي یوازي د لیننګراډ څخه ۱۰۰ لويي تولیدي موسسې او ۶۰۰ زره کسان د جګړې د سیمي څخه وایستل شول. د نوامبر میاشتې تر پایه، ۵۰۰ تولیدي فابریکې، زیات شمېر فرهنګي آثار او د علمي، فرهنګي او هنري برخو سلګونه زره فعالین د مسکو څخه انتقال شول. د سټالین او د هغه د ننیو بد ویونکو ترمنځ د تاریخ یو حیرانونکی تناقض دا دئ، چي دده د رهبرۍ پر مهال د هغوی پلرونه او نیکونه په اول نوبت کي د لویو ښارونو څخه امن سیمو ته ولېږدول شول او د فاشیزم د تېري څخه یې وژغورل. د تاریخ دغه نه منل به د دوی پر وجدان د یو تور ټکي په ډول پاته وي. یوازي فابریکې د هیواد ختیځو سیمو ته انتقال شوي نه دي؛ د کلیو ځوانو کمسمولانو ۴،۲ میلیونه غوایان، ۱،۵

میلیونه وزې او ۸۰۰ زره آسان ختیځو سیمو ته یوووړل. دکرني ټکنالوژي او میلیونونه ټنه غله یې هم د هیواد د خلګو د اړتیاوو او جګړې سنګرونو ته د زېرمه کولو لپاره د هیواد ختیځ ته انتقال کړل. حتی د دوهمي نړیوالي جګړې د فاجعې په کلونو کي هم، بې مثاله اقصادي بریاوي د سټالیني نظام وړتیاوي را ښیي. په ۱۹۴۲ کال کي په شوروي اتحاد کي د ټانګ تولید ۹،۳ برابره، د جنګي الوتکو تولید ۹،۱ برابره او د مهماتو تولید ۳،۱ برابره زیات شو او هیټلري جرمني یې شاته کړ. په ۱۹۴۳ کال کي د شوروي اتحاد د دفاعي برخي تولیدات د ۱۹۴۰ کال تولیداتو په پرتله دوه برابره زیات شوي وه. سوسیالیستي کرنه هم د جګړې تر ګوذارونو لاندي وه. د هیواد په لویدیځو سیمو کي ۵ میلیونه هکتاره ځمکه ځانګړې او کښتونه باندي وکرل شول. د جګړې په کلونو کي، په سایبریبا کي ژمنیو محصولاتو ۶۴٪ زیاتوالی پیدا کړی وو.

د شوروي اتحاد د جګړه ائیز اقتصاد چټکه وده د هغه د بریا لامل وګرځېد. آیا دا خپله د سوسیالیستي اقتصاد او سوسیالیستي ایډیالوژی د برتری لپاره ښه دلایل نه دي؟؟؟

## د بیا رغوني اټل

هغه زیانونه چې دښمن شوروي اتحاد ته واړول، هغه که انساني وه، که صنعتي او اقتصادي او که د نورو نورو برخو؛ ټول بېخي زیات وه. که د شوروي اتحاد لګښتونه او زیانونه د فاشیزم سره په جګړې کې چې دولتي موسساتو او سازمانونو، بزګري تعاونیو او د هیواد نفوس یو ځای له لاسه ورکړل؛ یوځای کړو، د ۱۹۴۱ کال په ارزښت، یو ټریلیون او ۸۹۰ میلیارډه روبله کېږي. که دولت او خلګو ته د اړول شویو زیانونو سربېره د تعاوني توکو او د شخصي ملکیتونو خرابي او لوټ هم ور اضافه کړو، د رسمي شمېرو له مخي، ۶۸۰ میلیارده روبله نور کېږي. د هیواد د اقتصادي او پرمختیایي بنسټونو ټراژیدیک تخریب د فاشیزم سره د جګړې د نورو پایلو څخه وو. د دښمن پوځ ۱۷۱۰ ښارونه او کلي او د شوروي اتحاد تر اویا زره ډېري آبادۍ او ودانۍ یا مکملي وراني کړلې، یا یې د هغو ځیني برخي له منځه یووړې. د هیواد په اراضۍ کي یې تر ۶ میلیونه زیات ساختمانونو ته اور ورته کړ. ۲۵ میلیونه نفره یې بې کوره کړل. ۶۵۰۰۰ کیلومټره د اوسپني کرښه، ۴۱۰۰ ټرمینلونه او اډې او ۳۶۰۰۰ د پوسټ او ټلګراف مرکزونه یې وران کړل. د شوروي اتحاد صنایعو هم ټینګ ګوذار ولید. په ټوله کي ۳۱۸۵۰ صنعتي واحدونه وران شول. د اوسپني د ویلې کولو فابریکې او د ډبرو سکرو کانونه، چي د جګړې تر پیله یې په کلني ډول د هیواد ۶۰ سلنه تولیداتو ته خام مواد برابرول؛ هم په مکمله ډول له کاره ولوېدل. د جګړې په کلونو کي، دښمن د

کالخوزونو او سالخوزونو لسګونه زره دولتي، تعاوني او خصوصي توکي او شتمنۍ ولوټلې. یرغلګرو اووه میلیونه آسان، ۱۷ میلیونه غوایي، ۲۰ میلیونه خوګان او ۲۷ میلیونه وزې او پسونه د شوروي اتحاد څخه جرمني ته یوووړل. ټولنیزو برخو، تحصیلاتو او علومو هم زیات زیانونه ولیدل. د شوروي اتحاد په اراضۍ کي ۴۰ زره روغتونونه او نور د درملني مرکزونه، ۸۴ زره ښوونځۍ، وړکتونونه، فرهنګي خوني، علمي او تحقیقاتي موسسې او پوهنتونونه او ۴۳ زره عمومي کتابتونونه له منځه ولاړل. ددې ټولو سربېره د شوروي اتحاد د ۲۷ میلیونو اوسېدونکو وژنه د جګړې تر ټولو بده پایله وه. که جګړه نه وای؛ دوی ټولو به خپل ژوند ته دوام ورکړی وای. بچیان به یې زېږولي وای، په تولیدي او بزګري واحدونو کي به یې کار کولای، په ښوونځیو او پوهنتونونو کي به په زده کړو لګیا وای او په علمي اختراعاتو او اکتشافاتو سره به د خلګو او هیواد په چوپړ کي وای. د نني ټولنیز او اقتصادي نظام د زاویې او د هغه څخه د را زېږول شویو ایډیالوژیکو ارزښتونو له مخي، هغه هیواد چي دغسي درانه زیانونه ویني؛ د بیارغولو نه دئ، خو برعکس دا هیواد په ډېري تېزۍ سره بیاورغول شو او د شوروي اتحاد سټالیني نظام د هغه تر عهدې راووت. د جګړې تر پای ته رسېدو وروسته سمدستي، څلورم پنځه کلن پلان ۱۹۴۶ – ۱۹۵۰ طرحه او تدوین شو. د ورانو شویو سیمو بیا رغونه او د هیواد صنعتي او کرنیزه پراختیا، د جګړې د پیل کال ته بیا رسول؛ د دغه پلان اصلي او عمده موخي وې. د دغه اندازې د پام وړ زیاتوالي وروسته، د شوروي اتحاد د خلګو د مادي هوساینې زیاتوالی بیا د دغه پلان وروستي پړاوونه وه. د نوي

پلان موخي د ټولو پنځه کلنو پلانونو په شان، د ټاکل شوي وخت څخه وړاندي د هغه دندو اجراء، ترسره کول او پلي کول وه. د هیواد تولیدي ځواک کاملاً ډېر او بیا ورغول شو او تولیدات د پام وړ اندازې ته زیات شول. په ۱۹۵۰ کال کي، د ۱۹۴۰ کال په پرتله د شوروي اتحاد نا خالص صنعتي تولید ٪۷۳، د تولیدي مشخصو اصل ٪۲۴ او ملي عاید ٪۶۴ سلنه زیاتوالی پیدا کړ. ماشین جوړوني، کیمیاوي صنایعو او د لومړنیو موادو تولید په چټکۍ سره زیات شول. د کرني تخنیکي او مادي بنسټونه پیاوړي شول. د جګړې وروسته، د څلورم پنځه کلن پلان په کلونو کي، ۶۲۰۰ لويي فابریکې بیا ورغول شوې. لويي کارخوني لکه د کالوژسکي کامره جوړونه، د کالامنسک د درنو ماشینونو جوړوني فابریکه او د ریازان د قالبونو جوړوني فابریکه ګټي اخیستني ته وسپارل شوې. د برېښنا د تولید لوی ترینه تاسیساتو رغونه، د اوبو رسوني او اوبو لګوني د نوي کانالونو کیندني او په صحرایي سیمو کي ځنګل ایښودني پیل شولې.

د خلګو د ژوند د سطحي د لوړاوي لپاره ډېر ښه تدابیر ونیول شول. په ښارونو او کارګري ښار ګوټو کي په اوسط ډول ۱۰۰ میلیونه متره مربع، په کلیوالو سیمو کي ۲ میلیونه متره مربع او ۷۰۰ زره د اوسېدلو اپارتمانونه جوړ شول. د جګړې تر پای دوه کاله وروسته، د توکو د کموالي ستونزه په کُلي توګه حل شول او په ۱۹۴۷ کي کوپیني توزیع مکمله لغو شول. د ټولو قیمتونو کچه تقریباً دوه برابره را ټیټه شول. د سټالین د مشرۍ په وروستیو کلونو کي

شوروي اتحاد په خپلو قهرمانانه تلاښونو، د هیواد په جالبه بیا رغونه کي یوه پلا بیا نړیوال حیران کړل. د داسي یو ټولنیز او اقتصادي نظام او د سټالین غوندي مشر د شتون سربېره د شوروي اتحاد خلګو په رښتیا هم غوښتل او کولای يې هم شوای، چي هم د جګړې په ډګر او هم د اقتصاد په ډګر کي په مخکښه توګه بریالي شي. دا هم د اوسني دولت لپاره یو درس دی، چي په ښکاره ډول په فساد، رشوت اخیستلو او ورانۍ باندي اعتراف کوي. دا د خلګو په ټولولو او هیواد په موډرنیزه کولو کي هغه سټالیني، شورایي او تاریخي درسونه وه، چي د لویو ورانیو څخه د وتلو لامل شول. خوځښت، اصلي ټولنیزي او اقتصادي پراختیا ته د رسېدلو او بریا لپاره ټینګ عزم او اراده یوازي د سوسیالیستي نظام په شتون او پیاوړي ملي حاکمیت کي شوني دي.

## تېرو وختونو ته د درناوي سره؛ مخ پر وړاندي!

د نننۍ روسیې واقعیتونه، د سټالین د منتقدانو ریاکاري او شاته پاته والی او د ده د رهبرۍ د دورې ښه والی ثابتوي. د جنایتکاري پانګوالۍ جوړونکي او لارویان او هغو چي پر دا سیستم باندي د تکیې له لاري يې ډېره شتمني او داسي سیاسي نوم و نښان چي د دوی د وړتیاوو خلاف وه؛ لاسته راوړل، په ډېر خښم، کرکي او پټي وېري سره پر سټالین تورونه پوري کوي او دا هېروي، چي د چا تر مشرۍ لاندي په هیواد کي، رشوت او بورکراسي له منځه ولاړل او ټولنیز جنایتونه عملاً صفر ته را کښته شول. دا داسي یو کار وو، چي د هیواد یو مشر هم، نه تر ده مخکي او نه تر ده وروسته د هغه په ترسره کولو

باندي توانيدلی وو. پر ځای ده چي دلته هم هغه قول راواخلم، چي ما په خپل بل کتاب (ستالين او معاصرو مسايلو) کي را اخيستی:

«په دې تاريخي شخړي کي د ستالين د حقانيت قاطع دليل هماغه لوی سوسياليستي هيواد دئ، چي ده تر خپل ځان وروسته پرېښود. هغسي هيواد چي ننني روسيه او د پخواني شوروي اتحاد جمهوريتونه د ده لخوا په جوړو شويو بنسټونو ولاړ دي. ستالين ته د کنځا کونکو په وړاندي قاطع ترينه دليل هماغه لوټ شوی، تر پښو لاندي شوی او خراب شوی ننني هيواد دی. که هيواد خپل تاريخ، د ستاليني دورې مهمترينو کارونو او د ستالين ميراثونو ته پام وکړي؛ کولای شي بيا پر پښو ودرېږي. موږ کمونستان د دغسي يوه خوځښت په حياتي والي باندي باور لرو او سم زموږ همدغه باور وو چي موږ خپله لاره او خپل پيغام خلگو ته تر دې سرليک لاندي (د روسيې لاره – وړاندي د سوسياليزم پر خوا) صادر کړو او د هغه په ترڅ کي د پراخي ملي جبهې تشکيل وړانديزوو.»

په دې پيغام کي، د روسيې د کمونستې گوند د پلان جوړوني اصلي لوري او هغه مهم او اړين مسايل، چي زموږ په باور د هيواد ويښې اوسېدونکي، د هيواد بيارغوني لپاره ورته لېواله او تيار دي؛ بيان شوي دي. په دې ځای کي د دې پلان اصلي مواد تکراروو:

- د هیواد د اضمحلال او وېشلو د لړۍ درول تر هر څه وړاندي د ټولنیز او اقتصادي فورماسیونونو د تغیر له لاري، د تولید د ډېروالي لپاره د هڅونکو لارو – چارو څخه ګټه اخیستل.
- د درو بچیانو لرونکو کورنیو ته امتیازات ورکول، د کوچنیانو او وړوکتونو سره د مرستي د سیستم بیا جوړونه، د ځوانانو لپاره د کور او هستوګنځای تامین.
- د اقتصاد په ستراتیژیکو اړخونو او د روسیې په طبیعي شتمنیو باندي د ټولنیز مالکیت برقرارول، په اول ګام کي پر الکترونیکي انرژۍ، لېږد را لېږد، نظامي صنایعو، د نفتو او ګازو پر کانونو، د سکرو پر کانونو او هغو فابریکو چي د غیر قانوني لارو څخه خصوصي شوي دي.
- د بې وزلۍ د له منځه وړلو لپاره د مبارزې پیل، پر لومړنیو توکو اوسون پر توکو دولتي څار.
- د کور او ټولنیزو خدمتونو را ګرځول دولت ته، د کور جوړول د دولت لخوا، له کورنو څخه د خلګو د ایستلو مخنیوی، د کورنیو حداکثر ٪۱۰ عواید د ټولنیزو خدماتو لپاره جلا کول.
- د لوړ کیفت لرونکې درملنه او ټولو خلګو ته روغتیایي خدمات، د وړیا درملني تامین یا د اړمنو خلګو ملاتړ.

- د دولتي مديريت د ګټي اخيستني ښه والی، د اجرايوي اداراتو د اوږدو پروسو او زياتو کار کونکو کموالی، د خلګو د خپلي سازماندهۍ د بيلابېلو اشکالو د جوړولو څخه ملاتړ.
- د رشوت او جنايتکارۍ سره قاطع چلند، د لوړو دولتي اداراتو څخه د ناکاره او فاسدو کسانو پاکول.
- د جرايمو په ارتکاب باندي د اعدام د مجازاتو د قانوني څنډوني لغوه.

زموږ په تګلاره کي د ټولني او اقتصادي سيستم د بدلولو لپاره ډېري نوري اړيني موخي هم شته، چي په ډېر دقت سره فورمولبندي شوي دي. دا سختي دندي دي، خو د هغوی حل د هيواد لپاره حياتي اهميت لري. هماغسي چي د سټالين د رهبرۍ په دوران کي، د سختو کورنيو او وطني جګړو وروسته زموږ هيواد د موډرنيزم او صنعتي کولو سخت وظايف سرته ورسول او د نظم په برقرارولو کي په غلو او جنايتکارۍ باندي تر برلاسه کېدو وروسته وتوانېد، چي له سره پر پښو ودرېږي او خپل ښايسته ژوند ته دوام ورکړي. موږ کمونسټان هم په دې باور يو، چي د خلګو سره يو ځای کولای شو دغه نجات ورکونکی کار ترسره کړو.

# دویم څپرکی

## د شوروي اتحاد د صنعتي کولو او کرنیزو پالیسیو اړوند ځیني مسایل

# د شوروي اتحاد د صنعتي کېدني تجربه

## والنتین کاتاسانوف

په ۲۰۱۹ کال کې، د شوروي اتحاد د صنعتي کېدلو ۸۰ کاله پوره کېږي. ډېر تاریخپوهان دا صنعتي کېدنه په ۱۹۲۹ کال کې د بلشویک ګوند د شپاړلسم کنفرانس څخه پیل بولي. موږ به یوه پلا، د شوروي اتحاد په ټولنیز - اقتصادي تاریخ کې پر ځینو مهمو پېښو رڼا واچوو. د ۱۹۲۱ کال څخه د نپ اقتصادي تګلاره عملي شوه او څه وخت وروسته بیا د صنعتي کولو سیاست را منځته شو، خو د صنعتي کېدني د پای ته رسېدلو د مودې په اړه یو واحد نظر نه وو. ځیني په دې باور دي، چې د صنعتي کولو لړۍ په شوروي اتحاد کې د هټلر تر تېري وروسته په ۱۹۴۱ کې پای ته ورسېده، خو ځیني بیا په دې باور دي چې تر دوهمې نړیوالي جګړې یوه لسیزه وروسته د شوروي اتحاد د کمونسټ ګوند په شلمه کنګره کې، د خروشچف په واک ته رسېدلو سره ختمه شول. په دې لیکنه کې هڅه کوم، چې په ۱۹۲۹ کال کې تر ګوندي کنفرانس وړاندې شرایطو او د صنعتي کېدلو لپاره د ګوند پر تدابیرو باندې رڼا واچوم. تر ۱۹۲۰ وروسته د نپ سیاست د شوروي لپاره د ساه کښلو یوه موکه وه. په دې دوره کې د دولت ځای په اقتصاد کې کمزوری شو. د پیسو او توکو مناسبات لا پراخ شول او پانګوالي نظام چې د بلشویکانو حاکمیت یې ګواښه؛ بیا پښې ټینګې کړې وې. شوروي اتحاد د لویدیځو هیوادونو او د امریکا د متحده ایالاتو تر اقتصادي محاصرې لاندې راغلی. د بلې خوا څخه

د نظامي تېري احتمال هم وو. لويديځ، شوروي اتحاد ته نه عملي کېدونکي التيماتومونه ورکړل. دوی، د يوه موقت دولت جوړول او د تزار د دوران د پورونو تاديه کول غوښتل. هغه پورونه ۱۸ ميلیارډه او پنځه سوه مېليونه روبله کېدل. بلشويکانو په ۱۹۱۸ کال کي، د يوې اعلاميې په خپرولو سره وويل، چي دوی د تزاري روسيې د دوران پورونه نه اداء کوي. د لويديځ بله غوښتنه پانګوالو ته د ملي شويو شتمنيو يا د هغو د مبلغ بيا ورکړه وه. بل يې د بلشويکانو لخوا په سوداګرۍ باندي د دولتي انحصار له منځه وړل هم غوښتل. شوروي اتحاد په ۱۹۲۲ کال کي د لويديځ ټولو غوښتنو ته د جينيوا په اقتصادي کنفرانس کي په قاطعيت سره د رد ځواب ورکړ. د هغه سره لويديځ پر شوروي اتحاد باندي اقتصادي بنديزونه لا کلک کړل. دغو ټولو کارونو بلشويکان دې ته وهڅول، چي د يوه پياوړي سوسياليستي اقتصاد د جوړولو په فکر کي شي. داسي يو اقتصاد چي هم سوسياليستي وي او هم د شوروي اتحاد سوسياليستي جمهوريتونه پر ځان بسيا او د لويديځ د صادراتو څخه خلاص کړي. په ۱۹۲۰ لسيزه کي د [صنعتي کولو] لفظ د شوروي اتحاد د مشرانو خولې ته ولوېد. په سر کي، چا – چا د اروپايي هيوادونو د صنعتي کېدلو د څرنګوالي او يا د انګلستان د صنعتي انقلاب بېلګي راوړلې، خو دا کارونه هغه مهال شوني نه وه. اول دا چي د انګلستان د صنعتي انقلاب لپاره شتمني، د مستعمراتو د تالاکونو په واسطه منځ ته راغلې وه. دوهم دا چي د انګلستان د صنعتي انقلاب هغه وخت سل کاله کېدل. سټالين د ۱۹۳۱ کال

د فبروري په څلورمه، د صنعتي کارگرانو لومړني سرتاسري کنفرانس ته په خپله وينا کې وويل:

«موږ د پرمختللو هيوادونو څخه ۵۰ – ۱۰۰ کاله وروسته پاته يو، که مو د سلو کالو دا لار په ۱۰ کې ونه وهل؛ موږ به له منځه يوسي.»

په کرملين کې ډېرو «صنعتي کېدنه» يو خوب گاڼه. د هغې جملې څخه نيکولای بوخارين، د پخواني نپ سياست ملاتړ کوئ او د صنعتي کېدني سره يې خپل مخالفت وښود. هغه، د بازار په ميکانيزم او د پيسو او توکو پر جادويي قدرت باندي باور درلود او ويل يې بايد اول د همدې لاري سپک صنايع او بيا وروسته درانه صنايع را منځته کړو. د بوخارين د نُسخې پر بنسټ، بلشويکان او د شوروي اتحاد سوسياليستي جمهوريتونه بايد سلگونه کلونه د صنعتي کېدلو لپاره کښېنستلي وای، په داسي حال کي چي هره شېبه د پانگوالی لخوا د بريد گواښونه وه. په کرملين کي ځيني توندلاري هم وه. د هغو جملې څخه ټروټسکي په ډېري چټکي صنعتي کېدني باور درلود. د ده نظريه د چټکي صنعتي کېدني ترڅنگ په دوامداره انقلاب باندي ولاړه وه، چي نړيوال اړخونه يې درلودل. هغه په مارکس او لنين باندي دلايل راوړل، خو سټالين په يوه واحد هيواد کي د سوسياليزم پر بريا باندي ټينگار کاوه. د کمونسټ گوند په مرکزي کميټې، وزيرانو او د کار په شورا او نورو دولتي او خلقي واحدونو کي، پر «صنعتي کېدني» باندي مفصلو بحثونو [د صنعتي کېدني گټورتيا، چټکتيا، د کار لپاره سرچينې، الگاريتمونه، بهرني او کورني

شرایط ] ته په ۱۹۲۸ کي د پای ټکی کښېښودل شو، خو په تخنیکي مسایلو بحثونو دوام وموند، یوازي بنسټیز او تیوریک اړخونه یې حل شول.

اوس به د صنعتي کولو په اړه د ځینو رسمي پېښو یادونه وکړم:

## په ۱۹۲۵ کال کي، د کمونسټ ګوند څوارلسمه کنګره:

د «صنعتي کېدني» خبره اول د همدې کنګرې د ټربیونه را پورته شوه. په هغه کنګره کي د یوه وروسته پاته کرنیز هیواد څخه په یوه پرمختللي صنعتي – سوسیالیستي هیواد باندي د شوروي اتحاد د بدلولو قاطع پرېکړه وشوه.

## په ۱۹۲۷ کال کي، د کمونسټ ګوند پنځلسمه کنګره:

په دې کنګره کي اعلان وشو چي د پنځه کلنو پلانونو پر بنسټ دي، د شوروي اتحاد د صنعتي کېدلو لړۍ شروع شي. په کنګره کي ټینګار وشو، چي د صنعتي کولو لړۍ باید د چټکو پنځه کلنو پلانونو پر اساس پیل شي.

## په ۱۹۲۹ کال - اپریل کي، د کمونسټ ګوند کنفرانس:

هغه پلانونه چي په پنځلسمه کنګره کي یې د جوړولو خبره شوې وه؛ د ګوند د کنفرانس لخوا تائید شوه، خو د ولسي شوراګانو تائید ته یې لا اړتیا درلوده.

## په ۱۹۲۹ کال – مي میاشت کي، د شوروي اتحاد د ولسي شوراګانو کنګره:

کنګرې د وزیرانو شورا لخوا پلان واورېد او هغه يې تائید کړ. په ټوله هیواد کي، د «صنعتي کېدني لومړي پنځه کلن پلان» آوازه خپره شول. د صنعتي کېدني دوې بنسټیزي موخي، هم د کمونسټ ګوند په شپاړلسم کنفرانس او هم د ولسي شوراګانو په عمومي کنګره کي داسي فورمولبندي شوې.

۱ – د سوسیالیستي لاري، اقتصادي پر ځان بسیاوالي ته رسېدنه

۲ – د هیواد د نظامي امنیت د تامین لپاره، د پیاوړو مادي او تخنیکي بنسټونو جوړول

## د شوروي اتحاد د «صنعتي کېدني» لپاره مالي سرچيني له کومه شوې؟

د «صنعتي کېدني» لپاره د شوروي اتحاد له لوري د مالي سرچینو برابرول، د «صنعتي کېدني» د تاریخ یو پوښتنه پارونکی اړخ دی. په شوروي او سوسیالیستي ضد لیکنو کي، یادي سرچیني داسي لیکل شوي: د ګولاګونو (بندخونو) وړیا کاري ځواکونه، کالخوزونو ته د جذب شویو بزګرانو وړیا کار، د بلشویکانو له لوري د کلیساوو د شتمنیو لوټل، د تزار د واکمنۍ د مهال پاتي زر او نور. کله – کله ځیني نور عجب شیان هم پسي وتړي. ما هم پخوا په دې باور کاوه. د صنعتي کېدني د کلونو د پیل څخه بیا د دوهمي نړیوالي جګړې تر پیله (۱۲ کلونو کي) په شوروي اتحاد کي د سوسیالیستي اقتصاد او پلان جوړوني له برکته ۳۶۴ نوي ښارونه او تر ۹۰۰۰ زیات صنعتي واحدونه

جوړ او ګټې اخیستنې ته سپارل شوي وه. بیلابېل بنسټونه ورغېدل. لوی صنعتي واحدونه، لکه د سټالینګراډ د ټراکټور جوړوني فابریکې، په اوکراین کې د دنپر د اوبو برېښناکوټ او نور ورغېدل. د دولت او مرکزي کمیټې د اسنادو پر بنسټ، په لومړي پنځه کلن پلان کې ۱۵۰۰ فابریکې ورغول شوې، خو د پانګې اچونې د نظره، د یوې تولیدي موسسې تاسیس په څه معنا دئ؟ د پانګې اچونې مضمون د ثابتې شتمنۍ، د فعالو او غیر فعالو عناصرو د پر کار اچولو څخه عبارت دی. غیر فعاله عناصر عبارت دي، د ودانیزو توکو او نورو عمومي امکاناتو څخه او فعاله عناصر بیا د ماشینونو، دستګاوو او د تولید نورو وسایلو څخه تشکیلېږي. که د غیر فعاله عناصرو را منځته کول، د محلي کارګرانو په واسطه کېږي؛ نو د نورو غیر فعاله عناصرو لپاره د فعالو عناصرو کار ته اړتیا نشته. د اکټوبر د سوسیالیستي انقلاب څخه مخکې، د تولید وسایل د آلمان، انګلستان او امریکا څخه پیرل کېدل. د ۱۹۲۰ کلونو په پای کې، په کور دننه هیڅ د تولید وسایل نه تولیدېدل. د «صنعتي کېدنې» د طرحې ترسره کول یوازې د نوي تولیدي توکو او ماشینونو په رانیولو سره کېدل. د هغو د رانیونې لپاره بیا پیسو ته اړتیا وه. ما یو اټکلي حساب ورته کړی چې شوروي اتحاد به د ۹۰۰۰ موسساتو د رغولو لپاره، څومره پانګونې ته اړتیا درلودل؟ لېوال کسان کولای شي د هغه لپاره، زما بل اثر «د سټالین اقتصاد» وګوري. زما محاسباتو داسې پایلې ته ورسولم، چې د شوروي اتحاد د صنعتي کېدنې او ماشین آلاتو د را نیونې لپاره د هغه وخت پر نرخ ۵

میلیارډه ډالرو ته اړتیا وه. یا په بله، اصطلاح د هر تولیدي کمپلکس لپاره ۵۰۰ زره روزولتي ډالرو ته اړتیا وه.

## نو، د صنعتي کېدني د شروع پر مهال، د شوروي اتحاد د پیسو ذېرمه څومره وه؟

د شوروي اتحاد د دولتي بانک د شمېرو له مخي، هغه وخت دا زېرمه ۲۶۰ – ۲۷۰ میلیونه ډالره کېدل. دا اندازې د ۵۰۰ – ۵۵۰ صنعتي فابریکو د جوړولو لپاره بسنه کول، خو د شوروي اتحاد بهرني پورونه هم ۴۸۵ میلیونه روبله وه. تاسي یې خپله وانګېرئ، چي د اقتصادي محاصرې سربېره په دغه شرایطو کي به «صنعتي کېدنه» څومره سخته او په اصطلاح ناشونې وي؟ د دې سربېره، د صنعتي کېدلو لړی پیل شول. ماشینونه او توکي را نیول شول. نو شوروي اتحاد د هغو توکو پیسې له کومه کړې؟ ځیني تاریخپوهان وایي، چي هغه مهال شوروي اتحاد د غلې دانې ښه صادرات درلودل، خو شمیرې ښیي، چي په ۱۹۲۸ کال کي د صادراتو څخه یوازي ۸ سلنه یې غله وه. د کرنیزو ځمکو د تعاوني کولو د پروسې سره، ربښتیا هم کرنیز محصولات زیات شوي وه، خو ډېر محصولات بیرته په هیواد کي دننه مصرفېدل. د غلې دانې وروسته، د نفتو او لرګو صادرات ډېر وه.

تر دې وروسته بله سرچینه زر وه، خو نه هغه زر چي د تزار له کورنۍ څخه پاتي وه. هغه په ۱۹۲۰ کي لا خلاص شوي وه. د لوکوموټیفونو (ماشیني محرکینو) لپاره ښه ډېر زر د ټروټسکي لخوا سویډن ته ورکول شوي وه، خو

هیڅ لوکوموټیوف پیدا نه شو او هغه زر بېځایه د سویډن او امریکا بانکونو ته ولاړل. په هر حال، د زرو څخه هم د هیواد په صنعتي کولو کي ګټه واخیستل شوه. د ۱۹۲۰ لسیزي په پای کي، د زرو تولید په شوروي اتحاد کي تر لومړی نړیوالي جګړې مخکي اندازې ته ورسېد. د زرو را ایستنه په کلني ډول ۱۰۰ ټنه وه او کرار – کرار زیاتېدل. د دوهمي نړیوالي جګړې د پیلېدو پر مهال شوروي اتحاد ۲۰۰۰ ټنه د زرو زېرمه درلودل.

یوه بله نسخه هم وه. عام خلګ وایي، د شوروي اتحاد د صنعتي کولو چاري امریکایي، فرانسوي او انګلیسي شرکتونو ترسره کړې، هو خو هغوی شوروي ته د مرستي لپاره نه؛ د پیسو او عاید ترلاسه کولو لپاره راغلي وه. هغوی ماشینونه نصبول او سیسټمونه یې ترتیبول او د شوروي اتحاد اتباعو ته یې کار ور ښود. دوی دا کار تر عادي نرخ څو چنده لوړ ترسره کوئ. تر ټولو وړاندي د شوروي اتحاد بازار ته د البرټ کون امریکایي شرکت دننه شو. هغه شرکت د ۵۰۰ لویو پروژو او صنعتي کارخونو جوړوني طرحه په بریالیتوب سره عملي کړل. د بېلګي په توګه، د نړ د اوبو لوی برېښنا کوټ، د سټالینګراډ د ټراکټور جوړوني فابریکه، د ماګینتاګورسک د فولادو د تولیداتو کمپلیکس او د نیژه ګوارد د موټر جوړوني فابریکه د دې شرکت لخوا جوړ شوي ول. نوري امریکایي کمپنۍ لکه جنرال الکټریک، فورډ موټرز او هاروسټر انټرنېشنل هم د لومړي پنځه کلن پلان پر مهال مخکښ پانګه اچونکي وه. دغو لویو کمپینو د هغه مهال د اقتصادي بحران څخه د ځان ساتلو او بچولو

لپاره د خپلو هیوادونو له لوري، پر شوروي اتحاد باندي د بندیزونو ټول قوانین تر پښو لاندي کړل او د هغوی د بندیزونو سربېره یې د خپلي لنډ مهالي ګټي لپاره پانګونه وکړه. لویدیځ شوروي اتحاد ته هیڅ اوږد مهاله پور نه ورکاوه. ځیني نور بیا داسي وایي، چي لویدېځ په قصدي ډول شوروي اتحاد صنعتي کېدني ته پرېښود، تر څو په وروسته کي د شوروي او آلمان جګړه را منځته شي. دا چي د لویدېځو هیوادونو له لوري د هټلر سره مېلیارډونه ډالره مرسته وشوه تر څو جګړه پر لار واچوي؛ ددې لپاره ډېر دلایل شته، خو دا چي د شوروي د صنعتي کېدني لپاره لویدیځ یوه آنه مرسته هم کړې؛ هیڅ سند یې نشته!!! نړیوال اقتصادي بحران وو او لویو شرکتونو چي په واقعیت کي د لویدیځو دولتونو اصلي چلونکي هم دوی وه / دي؛ د بحران څخه د ځان ساتلو لپاره په شوروي کي پانګوني وکړې.

## د شوروي اتحاد د صنعتي ماشین د کار څرنګوالی

د نپ د سیاست څخه د «صنعتي کېدني» سیاست ته د شوروي اتحاد تګ داسي وو، لکه یو پلی روان کس، چي چټک موټر ته وخېژي. زه به دلته د «صنعتي کېدني» په اړه د زیاتو تخنیکي جزیاتو پرته وږغېږم. د فابریکو تر جوړولو وروسته، صنعتي ماشین په یوه کُلي واحد، په یوه همږغي میکانیزم او یوه قوي سیستم باندي بدل شو، چي د هر ډول بندیزونو تاب یې راوړلای شوای.

**دا ماشین د لویو تولیدي موسساتو او کمپلیکسونو څخه جوړ شوی وو، چې د سوسیالیزم د اصولو پر بنسټ یې، نهایي موخه ګټه نه؛ د ټولنیزي هوساینې د کچې لوړول وه. د تولیدي موسساتو ترمنځ د بېځایه او د ګټې پر اساس د رقابت پر ځای، ګډ کار دود شو.**

دغه لوی تولیدي کارپورېشن د ډموکراټیک سانټریالیزم د اصولو پر اساس د خلګو، کارګرانو او لوړې رهبرۍ لخوا دقیق رهبري کېده. د بیلابېلو اداراتو څخه د څار تشکیل شوي ټیمونه هم جوړ شوي ول. دا لوی اقتصادي کارپورېشن لکه د لویدیځ اوسني لویو او ملټي نېشنل کمپنیو کورپرېشن ته ورته وو، خو بنسټیز توپیر پکښې دا وو، چې هغوی د سوسیالیزم پر بنسټ د ټولنې د هوساینې لپاره چلېدل او لویدیځې کمپنۍ د سهمدارانو د ګټې لپاره چلېږي.

د «صنعتي کېدني» پر مهال، د شوروي اتحاد د اقتصادي موډل ځینې ځانګړنې او بنسټونه:

- د تولید پر وسایلو باندې ټولنیز مالکیت
- په اقتصاد کې د دولت ټاکونکی رول
- مرکزي مدیریت
- واحده اقتصادي ټولګه
- یو ځای او همږغی کونکی سیستم

- تر وروستي بریده پر ځان بسیا والی
- طبیعي شاخصونو ته پاملرنه
- تر وروستي بریده، د بازار د [توکو او پیسو] مناسباتو له منځه وړل
- د تولیدي وسایلو د تولید چټکه وده، نسبت د مصرفي توکو ودي ته
- د کار د مادي او اخلاقي انګېزو یو ځای کول
- د ځینو ښاریانو (پخوانیو پانګه والو) لپاره د تولیدي کار پرته د مادي امتیازاتو نه ورکول
- په ښه توګه سره د ټولني د اړتیاوو د پوره کولو لپاره لوری ټاکنه

په دې کې تر ټولو اصلي یې مرکزي پلان جوړونه وه. سټالین په ۱۹۴۱ کال کې، په خپله وینا کې وویل، چې زموږ د اقتصاد د دومره چټک پرمختګ اصلي محرک پلان شوی اقتصاد وو:

«که موږ، د صنایعو لپاره د پلان جوړوني مرکزیت نه درلودای؛ صنایع بلې خواته تلل. ټول به سپک صنایع وای، نه درانه. موږ د پانګوالۍ قوانین ناکامه ثابت کړل او تر هغو مخکې شولو. موږ ځکه بریالي شولو، چې د سپکو صنایعو پر ځای مو د درنو صنایعو څخه پیل کړل. نو د دا پانګوالي هیوادونو پراختیا بیا څنګه ترسره شوه؟ دوی ټولو د سپکو صنایعو څخه پیل کړی وو، ولې؟ په دې خاطر چې سپک صنایع زیاته شخصي ګټه لري. دا پانګوال، ولې د اوسپنې د ویلې کولو، سون توکو او نورو درنو صنایعو د پراختیا سره لېوالتیا نه لري؟ ځکه د دوی لپاره د پانګې ګټه مهمه ده او ګټه په سپکو

صنایعو کي ده. که موږ هم د پانګي په ګټي پسي تللای، نو اول به مو د غنمو وړه تولید کړي وای، دوهم به مو هم د ماشومانو د لوبو وسایل. دا ډول تولیدات خورا ښه ګټه کوي.»

سټالین تل په دې ټینګار کوئ، چي پلان شوی اقتصاد د عرضې او تقاضا او د تولید او مصرف ترمنځ د تعادل د را منځ ته کېدلو لامل کېږي. یوازي د پلان شوي اقتصاد په واسطه کولای شو پر پانګوالۍ باندي برلاسي شو. د پانګوالۍ د اضافي تولید بحران د نوولسمي پېړۍ راهیسي نړۍ د بحرانونو سره مخ کړې او د میلیونونو انسانانو د بې وزلۍ او فقر لامل شوې ده. په شوروي اتحاد کي د بلشویکانو لخوا، د مدیریت هغه تګلاري پر کار اچول کېدلي، چي د لوېدیځو کمپنیو مدیران تراوسه هم سم نه دي ورسره آشنا او ظرفیت یې نه لري. تر ټولو بنسټیز یې د سکټورونو ترمنځ د تعادل را منځته کول وه. دغه راز، د شوروي اتحاد اقتصادي موډل د عمومي توکو او تولیداتو ښه سمه وېشنه هم په پام کي نیولې وه. د ټولنیز تولید او خصوصي مالکیت ترمنځ تضادونه یې هم پای ته ورسول.

هغه مهال د ګډ کار څخه اضافي تولید د قیمتونو د کښته کولو او د لګښتونو د عمومي بنسټونو د جوړولو له لاري د ټولني د ټولو غړو ترمنځ په مساوي ډول وېشل کېده. سټالین داسي پلان کړې وه، چي تر ۱۹۶۰ کاله پوري به حیاتي توکي، په ځانګړي ډول خوراکي توکي په ټول هیواد کي وړیا شي. د شوروي د اقتصاد د څینو نورو بنسټیزو برخو یادونه مي نه ده کړې، دلته به یې وکړم:

- د بهرنۍ سوداګرۍ انحصار
- د پیسو دولتي مدیریت
- د بانکي فعالیتونو دولتي انحصار
- دوه ګونی کورنی دوران (نقدي او غیر نقدي)
- د اقتصاد د تعاوني شکل څخه ګټه اخیستنه
- د عمومي توکو ترڅنګ د وړو کورنیو توکو تولید

## د شوروي اتحاد د صنعتي کولو ځیني لاسته راوړني

په لنډه توګه که ووایم، دوې هغه بنسټیزي موخي، چي د «صنعتي کېدني» د پیله ټاکل شوي وې؛ لاس ته راوړل سوې:

۱ – شوروي اتحاد اقتصادي پر ځان بسیا والي ته ورسېد او د هر ډول بندیزونو پر وړاندي یې تاب راوړلای شوای.

۲ – شوروي اتحاد وکولای شوای، چي پیاوړي نظامي او دفاعي بنسټونه جوړ کړي.

هغه څه چي په هیواد کي د ۱۹۲۹ څخه تر ۱۹۴۱ پوري د بلشویکانو لخوا ترسره شول؛ په تمامه معنا یوه اقتصادي معجزه وه. هر څه یې بدل کړل. شوروي اتحاد له صفره څخه پیل وکړ، خو دوولس کاله وروسته په امریکا پسې، د نړۍ دوهم لوی صنعتي هیواد شو. د دې امتیاز د سوسیالیزم او مرکزي اقتصاد پرته د بل شي نه دی. د پلان په سر کي اقتصادي بسیج او ټولوني د


خلګو پر هوساینې اغېزه وکړل. تر ۱۹۳۵ پورې توکي په کوپنې ډول وېشل کېدل، خو د ۱۹۳۵ وروسته کوپنې وېشنه لغوه شول او خلګ هوسا شول. د ۱۹۳۰ کلونو په پای او د ۱۹۴۰ کلونو په سر کې، په بازار کې مصرفي توکي ښه ډېر شول. د روسيې معاصر تاريخپوه، ديمتري وارخاتوف د صنعتي کېدنې د کلونو ټولنيزه وضعه داسې بيانوي:

«ددې سربېره چې کله – کله به خلګ د ګوند او دولت په وړاندې خښمېدل، خو کرار – کرار يې په خبراوي کې زياتوالی راغلی او په اقتصادي کار کې به يې ونډه لا زياتېدله.»

په ۱۹۳۰ کې ۵۰۰ فابريکې او پرمختيايي بنسټونه ورغېدل او له هغو څخه د پنځوسو فابريکو لپاره نيمه ځانګړې شوې پانګه په کار شول. د لېرد را لېږد لويې پروژې لکه د ترکستان – سايبريا لويه لار، د دنپر د اوبو برېښنا کوټ، د ماګينتاګورسک، ليپتسک، چليا بينسک، نو واکوزنتسکو، ناريلسک د اوسپنې د ويلې کولو لوی توليدي کمپليکسونه، د اورال ماشين جوړونه او لسګونه نورې فابريکې جوړې شوې. د ۱۹۲۹ او ۱۹۳۹ کلونو په منځ کې، ۹۰۰۰ فابريکې جوړې شوې. د دغو کارو لپاره کوم بهرنی پور شوروي اتحاد نه وو اخيستئ. د شوروي اتحاد صنعتي معجزه په فاشيستي آلمان باندې د پوځي بريا سره لا ښه تکميل شول. د شوروي سوسياليستي موډل دومره جالب او د کار وړ وو، چې د دوهمې نړيوالې جګړې پر مهال يې د توليداتو اندازه لږه يا ثابته نه؛ بلکې لا زياته شول. د جګړې په لومړيو دوو کلونو (۱۹۴۱ – ۱۹۴۲)

کي د شوروي اتحاد بودجه د لومړي ځل لپاره د کسر سره مخ شول، خو د جګړې په وروسته دوو کلونو کي ددې سربېره چي په بیا رغوني خورا زیات لګښتونه کېدل؛ د بل هر وخت په شان بودجه مازاد کېدل. د جګړې پر مهال لویدیځ دولتونه د پیسو د پاړسوب، بېکارۍ، بودجې د کسر او نورو ستونزو سره لاس و ګرېوان ول، خو په شوروي اتحاد کي ددې پدیدو درک نه وو. د شوروي د سوسیالیزم دا اقتصادي موډل یوازي پر رغونه نه، په بیا رغونه کي هم خپل فوق العاده ګټورتوب وښود. ۱۷۱۰ لوی او کوچني ښارونه، تر ۷۰۰۰۰ زیاتي آبادۍ او کلي او ۳۲۰۰۰ تولیدي موسسات د فاشیستي تېري پر مهال وران شوي وه. فاشیستانو د فولادو ۶۰ سلنه، د سکرو ۷۰ سلنه، د نفتو او ګازو ۴۰ سلنه تولیدي ظرفیتونه او ۶۵ زره کیلومتره د اوسپني لاري له منځه یووړې. فاشیستانو د شوروي اتحاد کرني ته هم درانه زیانونه واړول. ۱۰۰ زره کالخوزونه او سالخوزونه له منځه یووړل شول. په ټوله کي د شوروي اتحاد یو پر درې شتمني له منځه ولاړه یا لوټ شوه. هیڅ بل اقتصادي سیستم دومره تاب نشوای راوړلای، خو په ۱۹۴۸ کي د شوروي اتحاد اکثره شاخصونه بیرته د جګړې تر مخکي کلونو پوري ورسېدل. د شوروي اتحاد د دفاعي او پلان جوړوني د کمیټې له تدابیرو سره سم، بیا رغونه د جګړو د کرښو تر شا شروع شوه، ځکه خو ډېره چټکه وه. شوروي اتحاد د امریکا څخه کومه مرسته ونه غوښتل او د هغه سربېره تر مارشال پلان هم مخکي یې خپل هیواد بیا ورغاوه. کوپني وېشنه، شوروي اتحاد په ۱۹۴۷ کي له منځه یووړه، په داسي حال کي چي په انګلستان کي یې په ۱۹۵۳ کي لا دوام درلودئ. د ۱۹۴۸ او ۱۹۵۳

کلونو په منځ کي د کوچنيو توکو قيمتونه پنځه – شپږ برابره کښته شول. د يوه کال په جريان کي ۵۳ ميلیارډه روبله خلګو ته، د قيمتونو د کښته والي څخه ور پاته شول. د توليد لګښتونه ښه پوره کم شول. د نوي ځپاره شويو اسنادو له مخي د ۱۹۵۱ او ۱۹۵۵ کلونو په منځ کي د توليد په پروسه کي د ګټورتوب او اغېزمنتيا اندازه ۱۷ سلنه زياته وه. ګ . ايخانين وايي، چي د شوروي په تاريخ کي د ۱۹۵۰ څخه تر ۱۹٦۰ کلونو ترمنځ لس کاله د اقتصادي پرمختيا د اړخه تر ټولو ښه کلونه وه.



د ۱۹۵۱ – ۱۹۶۰ کلونو پوري، د شوروي اتحاد د ناخالص ملي تولید زیاتوالی د نړۍ د ٦ هیوادونو له کتاره، تر جاپان وروسته دوهم ځای ونیو. تاسي که پام وکړئ، چي شوروي اتحاد په اولو ۱۹۵۱ – ۱۹۵۵ کلونو کي تر ټولو هیوادونو مخکي وو، خو د سټالین تر مړیني وروسته، د ۱۹۵٦ څخه تر ۱۹٦۰ پوري تولیدات کمېږي او جاپان مخکي کېږي. دا ځکه چي سټالیني سیاستونه شاته پرېښودل کېږي او د سمونونو په نوم شاتګپالنه راځي. یو بل بنسټیز توپیر د هغه مهال د جاپان او شوروي دا دئ، چي په شوروي اتحاد کي د انسان څخه د انسان ځېښناک نه وو، خو په جاپان کي امریکایي پانګونو دا کار کړی وو. د انګلستان او امریکا هیوادونه، هم تر شوروي ښه سم شاته پاته دي. شوروي اتحاد خپل نظامي ځواک ته هم وده ورکړل. په ۱۹۴۹ کال کي، یې خپل لومړنی اټومي بم وآزمویه او د امریکا د اټومي وسلو انحصار یې مات کړ، شوروي اتحاد په ۱۹۵۰ کي تر امریکا هم مخکي شو او خپل لومړنی هایدروجني بمب یې جوړ کړ، خو په ۱۹۵۳ کي د اټومي اوبتلونو جوړول بند شول. په دې دوره کي، د شوروي اتحاد د طراحیو په دفترونو کي د مافوق صوت الوتکو، جیټ الوتکو او نورو باندي کار شروع وو او په ۱۹۵۵ کال کي د کارالیوف په طراحي ځای کي، لومړنۍ لویه وچه وهونکی بالسټیک توغندی جوړه شول.

ځیني خلګ داسي وایي، چي د ۱۹۵۰ کلونو اقتصادي بریاوي د کمي عواملو له مخي وې، ځکه د ۱۹۳۰ کلونو څخه میلیونه کارګران ښارونو ته راغلل او په

صنعت کي لګیا شول، خو داسي نه ده. د خانین او نورو اقتصاد پوهانو د ارزیابۍ له مخي، دا کمي عامل دومره هم مهم نه وو. د تولیداتو په زیاتوالي کي یو پر پنځمه علت یې کمي وو، خو د تولیداتو د زیاتوالي اصلي علت، د کار د ګټورتیا او اغېزمنتوب زیاتوالی وو. په ۱۹۵۰ کلونو کي شوروي اتحاد او امریکا دواړه، په نظامي سکټور کي مخکښه وه، خو اصلي سیالي د اقتصادي موډلونو روانه وه او امریکا د سوسیالیزم د اصلي موډل سره د سیالۍ وس نه درلود. دلته به په هغه حیرانونکې مسئلې هم بحث وکړو، چي څه ډول د سټالین تر مړیني وروسته، ډېر ژر هغه اقتصادي سیستم چي ده را منځته کړی وو؛ له منځه ولاړ او څه ډول یې په سیستماتیک ډول د شوروي سوسیالیزم د پښو غورځولو او سقوط طرحه جوړه کړل؟

## د صنعتي کېدلو د اقتصاد زوال او د شوروي اتحاد د صنعتي سیستم سولول

د صنعتي کېدني په لړۍ کي را منځته شوی سوسیالیستي اقتصادي سیستم، په ۱۹۵۰ لسیزه کي، د سټالین تر مړیني پوري پر خپل ځای پاته وو. د ۱۹۵۰ څخه تر ۱۹۹۱ پوري سټالیني اقتصاد خپل ځیني ځانګړني لکه، پلان جوړونه، مرکزي مدیریت، د پیسو او توکو محدود مناسبات، د دولتي مالکیت برلاسی موقعیت، د دولتي مالکیت ټولنیز ماهیت او نور له لاسه ورکوي. د سټالین په دوران کي لوی خصوصي ملکیتونه ټولنیز شول، خو تر ده وروسته د ټولنیزو

ملکیتونو خصوصي کول شروع شول. ن . ارخانګلسکي د شوروي اتحاد د مناسباتو د تغیر په اړه په خپله مقاله کي لیکلي:

«که د ۱۹۳۰ څخه تر ۱۹۵۰ پوري د هیواد اقتصاد یوه واحده ټولګه تشکیلول، د ۱۹٦۰ څخه تر ۱۹۸۰ پوري ټوټې –ټوټې او جلا شو.»

د سټالیني اقتصاد له منځه تلل په درو دورو کي ترسره شول:

۱ – د نیکیتا خروشچوف په وخت کي ۲ – د کاسیګین، لیبرمان او بریژنیف د دوران په سمونونو او ځوړ کي ۳ – د ګورباچوف د دوران په پروسترویکا (نوې رغونه) کي

د سټالین تر مړیني وروسته د سوسیالیستي اقتصاد موډل، په کرار - کرار او نه لیدونکي شکل سره، د دولتي پانګوالۍ سیستم ته د اوښتو پر خوا روان وو. دا لړۍ د نیکیتا خروشچف څخه پیل شول، د کاسیګین او بریژینیف په دوره کي یې دوام موند او د ګورباچوف په دوران کي ختمه شول. سټالین هڅه کول، د خلقي ځواک د سیاسي بنسټونو په را منځته کولو سره اقتصادي بنسټونه لا پیاوړي کړي. د دې سیستم د را منځته کولو لپاره نقشې د ۱۹۳٦ کال په اساسي قانون کي کښل شوي وې. ده داسي پلان درلود، چي ګوند باید په اقتصاد کي له مداخلې څخه ډډه وکړي، خو سیاسي حاکمیت باید د تولید پر وسایلو د ټولنیز مالکیت د ساتلو ضامن وي. د خلګو د خلقي او سوسیالیستي حاکمیت د سیاسي بنسټونو د جوړولو پرته د دې ګواښ وو، چي

سوسیالیستي ټولنه به د دولتي پانګوالۍ په یوې ټولني بدله شي. په دې مانا چي د تولید وسایل به دولتي وي، خو نه د خلګو په ګته، بلکې د څو دولتي بوروکراتانو په ګټه، خو د خلګو حاکمیت د سیاسي بنسټونو په را منځته کولو سره سټالین تر پایه بریالی او ورته فارغه نه شو. هغه به تل ویل چي د نظریې نه شتون نور زموږ مرګ دی.

تر ده وروسته داسي کلیشه رااوتل، هر څه چي دولتي وي، یعنې سوسیالیستي دي. په انګلستان او امریکا کي د وروستیو بحرانونو پر مهال دولتونو د بودجې څخه ملیاردونه ډالره بانکونو ته ورکړې او هغه یې یو ډول په خفاء کي ملي کړل، خو نه د خلګو د ګټي لپاره، بلکې د پانګوالو د ګټي لپاره. سټالین د ګوند، دولت او خلګو ترمنځ د مسئلې د حلولو لپاره هم د پام وړ یو څه وکړل. هغه د ګوند واک لنډ کړ، خو په دوو برخو کي ټاکونکې ونډه ور تر غاړي شول:

۱ - سیاسي، اقتصادي او ټولنیز مسایل ایډیالوژیک تګلوري ته سمول ۲ - د سوسیالیزم لپاره د کادرونو روزنه او ټاکنه. دا هر څه د خروشچف په وخت کي، بیرته بدل شول. خروشچف د تصفیې پر مهال د ګوند ښه ترینه کاردونه، هر یو مولوتوف، کاګانویچ، بریا، کراوشکین، زوریف او نور له صحنې څخه لیري کړل. د خروشچف لخوا اقتصاد ته څو ګونی حاکمیت راغی. د سټالین په دوران کي د تخصصي مدیریت اصول ښه پر ځای کېدل، خو وروسته عمودي مرکزیت له منځه ولاړ. په ۱۹۵۷ کال کي خروشچف د خلقي اقتصاد

په اصلاح لاس پوري کړ، چي ماهیت یې د سیمه ائیز مدیریت شدیده تقویه وه. د یادو شوراګانو په جوړېدلو سره، تخصصي وزراتونه منحل شول. د عمومي اقتصاد مرکزي – عمودي مدیریت د شاخصونو د نه شتون له کبله کمزوری شو. د سټالین په دوران کي په درانه صنعت کي د پیسو او توکو مناسبات نه وه، خو خروشچف دا تابو ماته کړه. د سټالین په وخت کي، کرنیزه ټکنالوژي او ټراکټوران نه مستقیماً کالخوزو ته، بلکې دولتي - تخنیکي بنسټونو ته ورکول کېدل او کالخوزونو د قرارداد له مخي یوازي د هغو څخه ګټه اخیستل، خو په ۱۹۵۷ کال کي دا کار ودرول شو او کالخوزونه یې اړ ایستل، چي کرنیز اوزار رانیسي. په ۱۹۵۷ کال کي د شوروي اتحاد د وزیرانو شورا د پرېکړي له مخي، ټول کرنیز توکي د توکو او پیسو مناسباتو ته واوښتل. هماغسي چي سټالین یې وړاندوینه کړې وه، په کرنیزه برخه کي پاشلتیا را منځته شول او د ټکنالوژۍ ظرفیت بېخي کم شو. د هغه په مقابل کي ماشینونه تر اندازي زیات ورته تولید شول. اکثریت کالخوزونه داسي حالت ته ورسېدل، چي د نوی ماشین آلاتو رانیول خو پرېږده، د دولتي پور ورکولو ځواک یې هم نه درلود.

د درنو صنایعو لپاره د سوسیالیستي اقتصاد میکانیزم د لیبرمان او کاسیګین په دوران کي وټکول شو. په ۱۹٦۵ کال کي نوي سمونونه عملي شول، چي څلور اساسي ټکي یې دا دي:

۱ – دا سمونونه د ارزښت شاخصونو ته نږدې شوه او طبيعي شاخصونه يې پرېښودل. دا کار د سټالين په دوران کې د سپما لوی را منځته شوی سیستم له منځه یووړ.

۲ – د عایداتو د وېش د ټولنيزو شکلونو (د لګښت بنسټ، د سوداګريزو توکو کښته بيو) پر ځای خصوصي او ډله ائيز شکل را منځته شو. تر هغه وروسته جلا – جلا د موسساتو لوړ عايد ته حساب کېدئ، نه په ملي سطحه عمومي عايد ته.

۳ – په دولتي کچه يو سکټور پالنه را منځ ته شوه. هري برخي ته جلا – جلا زيات موسسات را منځ ته شوه. هرې موسسې او بنسټ د خپل ځان ګټو ته پام کوئ. ميخايل انتونوف په دې اړه ليکي:

«د توليد پر وسايلو دولتي مالکيت چي د هغه مهال، د اقتصاد د برخي د متخصصينو سره وو؛ نور يوه واحده پديده نه وه، بلکې د انحصارونو، وزارتونو او موسساتو تر لاس لاندي وه او هر يوه د خپلي ګټې لپاره کار کوئ.»

۴ – د بودجې څخه موسساتو ته د پيسو ځانګړي کول د دې لامل شول، چي د توليدي ټولګو او خلګو تر منځ يو ټکر را منځ ته شي. توليدي ټولګي يو مخ پر دولتي بودجې باندي تکيه شولې او خپل صندوقونه يې تش شول.

د کاسيګين د سمونونو سره، بيا په شوروي اتحاد کي د [لګښت پالني] روحيه را منځته او ښه پسي پراخه شول.

د وخت بهرنیو مطبوعاتو چې په دې پوهېدل دا سمونونه به په نهایت کې کومې خواته ولاړ شي؛ د هغو سمونونو ښه ستاینه یې کوله. حیرانونکې نه ده، چې د شوروي اتحاد او سوسیالیزم جیوپولټیکو دښمنانو د سمونونو ستاینه کوله؟

سوسیالیستي صنعتي کېدنه په ۱۹۹۱ کې د ګورباچوف د چټکې خصوصي کولو د سمونونو سره له منځه ولاړل او په دې ډول یې هغه سوسیسالیستي موډل له منځه یووړئ. اوس تاسي پرېکړه وکړی، چې سوسیالیزم مات شو، که په سوسیالیزم کې لیبرال سمونونه؟

# پر وچکالۍ به هم برلاسي کېږو!

## ری املیانوف

د ۱۹۴۰ لسیزي په وروستیو کي، د شوروي اتحاد په اروپايي برخو کي داسي پوسټرونه چاپ شول، چي په هغو کي د سټالین شاته شنه ځنګلونه نقاشي شوي او پر هغو انځورونو لیکل شوي وه: «پر وچکالۍ به هم برلاسي کېږو!!!»

تر دې پوسټرونو مخکي، د شوروي اتحاد د وزیرانو شورا او کمونسټ ګوند مرکزي کمېټي لخوا هغه فرمان چي د «د خاوري د ساتني لپاره د ځنګلونو د ایښودلو، د څړ ځایونو پراختیا او د کرنیزو محصولاتو د دوامداره ښه محصول لپاره په غرنیو، ځنګلي او دښتي سیمو کي د اوبو د لویو ډنډونو جوړولو» په اړه وو؛ هم د شوروي اتحاد په مطبوعاتو کي خپور شوی وو. هغه طرحه څه وخت وروسته په مطبوعاتو کي د «د طبیعت د لاندي کولو [په طبیعت باندي د انساني برلاسۍ] سټالیني طرحي» په نوم هم ونومول شوه.

نن ورځ د پانګوالۍ تبلیغ کونکي وایي، چي سوسیالیزم چاپېریال ساتني ته پام نه کوی، واقعیت خو دا دی چي سوسیالیزم د چاپېریال ساتني لومړنۍ طرحه جوړه کړې وه، چي خورا پراخ او حیرانونکي اړخونه یې درلودل. د پوهانو له قوله لس زره کاله مخکي، د ځمکي ۶۰ سلنه ځنګلونو نیولې وه. سل کاله مخکي ۳۰ – ۴۰ سلني ته را کښته شول، خو د شلمي پېړۍ په منځنیو کي دا اندازه بېخي ۲۴ سلني ته ورسېدل. د هغه سربېره دا ځنګلونه اوس هم ډېري

سرچینې لري. نن ورځ، تر ۳۰۰ زره ډېر ډول – ډول بوټي په ځنګلونو کي پیدا کیږي.

په ۱۹۴۸ کي اکاډمیسین سوکاچوف، د ۱۹۴۸ کال د فرمان په اړه د خپلو توضیحاتو په هغه مقاله کي چي د «پر طبیعت د برلاسي کېدو ستالیني طرحه او د هغه په تحقق کي د شوروي اتحاد د علومو د اکاډمۍ ونډه» تر عنوان لاندي یې خپره کړې وه؛ داسي لیکي:

«د ځنګلونو لړۍ، د هغه شاوخوا سیمي پر هوا باندي هر اړخېزه اغېزه لري. د باد لورى اړوي او تېزوالى یې کموي، د خاوري د تبخیر مخه نیسي، د واوري ښوېېدني مخه نیسي، د هوا په تودوخي او خاوره کي د کښت او کرني لپاره مساعد شرایط منځته راوړي او د خاوري د فرسایش او بادېدو مخه هم نیسي.»

اکاډمیسین زیاتوي، چي دا پلان د کرنیزو توکو په زیاتوالي کي ډېره مرسته وکړه، غله ۲۰ – ۳۰ سلنه، د بڼوالۍ محصولات ۵۰ – ۷۵ سلنه او بوټي ۵۰۰ – ۱۰۰ سلنو پوري په کمي او کیفي شاخصونو سره زیات شول. ځنګلي لړیو، هماغه ځوانۍ د دوران څخه، تر ایښودلو ۳ – ۵ کاله وروسته خپلي مثبتي پایلي وښودلې.

د طرحي له مخي، په ۸ ناحیو کي، تر ۱۹۶۳ کاله پوري د ۸ میلیونه هکتاره ځنګلونو ایښودل پلان شوي وه، چي هغوی د سویل ختیځ د وچو بادونو مخه

نیولای شوای. د ۹۰۰ کیلومتره په اندازه لومړنۍ لوړه ځنګلي لړۍ د والګا سیند په دوو غاړو کې د سارتوف څخه تر استراخانه پورې کېښودل شول. دوهمې برخې یې د ۶۰۰ کیلومتره اوږدوالي درلود او د پنزا څخه تر کامنسک ښار پورې غځېدل. دریمې ناحیې اویا کیلومتره اوږدوالی درلود او د کائیشن څخه تر سټالینګراډ پورې غځېدلې وه. څلورمه ناحیه ۸۵۰ کیلومتره د چاپایوسک څخه تر ولادمیر - والګا پورې رسېدل. پنځمه ناحیه د سټالینګراډ څخه تر چرکاسک پورې وه، چې ۵۷۰ کیلومتره اوږدوالی یې درلود. شپږمه ناحیه ۱۰۸۰ کیلومتره وه، چې د اورال د غرونو د جنوبي برخو څخه یې د خزر تر بحیرې پورې اوږدوالی درلود. اوومې ناحیې ۹۶۰ کیلومتره اوږدوالی درلود او اتمې هم ۵۰۰ کیلومتره د دُن د ښار او سواحلو پر شاخوا وه. د ځنګلونو دا لړۍ د وچو ځمکو، غرونو، رغونو، دښتو او لوړو او کښته سیمو کې تېره شوه او د هغه فرمان په تعقیب د ځنګلونو او شاخوا کرنیزو تولیداتو د ودې لپاره ۴۴۲۸۸ د اوبو ډنډونه هم جوړ شول. دا ډنډونو د اوبو د بېځایه بهېدنې مخنیوی کاوه او د اوبو لویه زېرمه یې د احتمالي وچکالۍ پر وړاندې جوړه کړې وه.

## د ځنګلونو د ایښودلو لړۍ د سرې جګړې په دوران کې

په ۱۹۴۸ کې چې د طبیعت د تسخیر طرحه اعلان شول؛ د شوروي اتحاد لپاره سخت وختونه وه. د ملګرو ملتونو په سر مشریزه ناسته کې د شوروي اتحاد هیئت آی ویشنسکي، د نوموړي کال د سپټمبر پر ۲۵ د امریکا د دفاع وزیر

فورسټول، د جګړې وزير رويال، او د برتانيې د هوايي ځواکونو د مرستيال هغه خبري، چي پر شوروي اتحاد د حملې په اړه يې کړي وي؛ وڅېړلې. ويشنسکي دا توضيح کړله، چي لويديځ هيوادونه غواړي مسکو، خارکوف، کيف او لنينګراد په لويو اټومي بمونو باندي بمبار کړي. هاغه فورسټول چي ويله يې شورويان پر موږ حمله کوي او موږ بايد وار د مخه کړو؛ يو کال وروسته د واشنګټن په کوڅو کي ځغستل او ناري يې وهلې، چي هلئ د شورويانو ټانګونه راغلل. بيا چي يې سر را پورته کړ؛ په يوه رواني روغتون کي بستر وو، آخر يې د روغتون له کړکۍ څخه هم ځان لاندي واچاوه. د شوروي او سوسياليزم څخه د دوی وېره دغسي زياته او بې مورده وه. په هغه وخت کي د شوروي اتحاد سوسياليستي جمهوريتونو په دې اړه لازم اطلاعات نه درلودل چي امريکا د [چاريوتر] محرمانه پلان جوړ کړی وو او د هغه له مخي يې د شوروي اتحاد اويا ښارونه د جګړې په اولو درو ورځو کي په ۱۳۳ اټومي بمونو ويشتل او د دوو کالو په جريان کي يې ۳۰۰ نور اټومي بمونه په نظر کي ورته نيولي وه، چي په هغو ټولو به شوروي اتحاد ورانوي او د ځمکي له کُري به يې ورک کوي. په ۱۹۴۸ کي د لويديځو هيوادونو د اتحاد د تړون لاسليکول او د شوروي اتحاد په شاوخوا هيوادونو کي د پوځي اډو جوړول، شوروي اتحاد دې پايلې ته ورساوه، چي لويديځ حتماً ګوذار کوي. په دغه وخت کي لويديځ د برلين بحران هم را منځته کړی وو. د يادوني وړ ده، چي شوروي اتحاد او سوسياليستي بلاک لا دغه مهال اټومي بم نه درلود او نه يې ددې وړتيا درلودل، چي په لويديځو هيوادونو کي ليري

موخي په نښه کړي. د شوروي اتحاد رهبرۍ د دې سربېره خپل ساړه ماغزه ساتلي وه. سټالین په ۱۹۴۸ کي د پراواډا ورځپاڼي د خبریال سره په مرکه کي د لویدیځ د تېري کونکو سیاستونو په اړه خپله اندېښنه نه کړل پټه او داسي یې وویل:

«د امریکا او انګلستان د مشرانو اوسني سیاستونه تېري کونکي دي او یوه نوې جګړه را منځته کوي.»

سټالین د داسي کړو –وړو په ارزیابۍ کي وویل:

«دا هر څه د نوي جنګ د جوړونکو د ماتي لامل کېدای شي. دوی په دې کارونو سره د خپلو ملتونو او د نړۍ د ټولو ډموکراټیکو ځواکونو ملاتړ له لاسه ورکوي. د نړۍ د سوله غوښتونکو ځواکونو لاسونه تر هغه ډېر اوږده دي، چي جنګ غوښتونکی چرچیل یې وغواړي پرې کړي.»

په سوسیالیزم کي د خلګو ګټو ته د شته ژمنتیا پر بنسټ، د طبیعت د تسخیر سټالیني طرحه، د اوبو د برېښنا کوټونو او بندونو په جوړولو، د اوبو رسوني او اوبو لګوني کانالونو او نورو تدابیرو په واسطه په خورا چټکۍ سره ترسره شول، خو ځیني اړخونه یې لا پاته او په پلان کي وه. د بېلګي په ډول د دنپر پر سیند باندي، د کاخوفسکي د بند جوړېدلو پلان، چي د اوکراین جنوبي دښتو او د کریمیا شمال دښتونو ته یې اوبه ور رسولای او ټول یې سمسورولای شوای. د آمو اوبو ته د دوو لویو بندونو پلان جوړ شو. نوي

پلانونو په خلګو کي نوي هیلي پیدا کړې او هرې خواته د ونو او بوټو د ایښودلو او کرلو خبري وې. د زرغونولو یوه سوسیالیستي او خلقي انګېزه خپره شوې وه. د وچو – طوفاني بادونو په وړاندي د ځنګلي کمربندونو جوړول د سوسیالیزم په دوره کي په شوروي اتحاد کي ډېره وده وکړه او په دې برخه کي هم سوسیالیزم خپل موثریت وښود. په ۱۹۱۷ کي د دښتونو څخه د ساتني لپاره ۱۱ ځنګلي لړۍ وي، چي دا شمېره په ۱۹۴۱ کي ۴۶۸ لړیو ته ورسېدل. د بیا رغوني پر مهال هم د ښارونو زرغونوالي ته بنسټیز پام کېده.

## پر طبیعت د برلاسي کېدلو د طرحي هیرول

د شوروي اتحاد ولسونه په دې نه وه خبر، چي دا طرحه به پاتېږي. د سټالین تر مړیني درې اونۍ وړاندي ښکاره شوه، چي نوي لوړ پوړي ګوندي چارواکي خروشچوف، د کلکو - شاړو ځمکو پر کرلو ټینګار کوي او تر خپل لاس لاندي سیمو کي یې پر کلکو - شاړو ځمکو زړي شیندلي، خو لومړني ترتیبات یې په پام کي نه وه ورته نیولي. بریژینیف چي کله د قزاقستان د کمونسټ ګوند دوهم منشي وټاکل شو؛ په خپل کتاب کي یې د وچو ځمکو په اړه ولیکل:

«دا وچي او شاړي ځمکي تر هغه کلکي وې، چي موږ یې په اړه فکر کاوه. دا ځمکي د وخت په تیرېدو سره نور هم کلکېږي. ددې خاورو پسته کول ډېر سخت وه. تخمونه ژور نه تلل.»

البته چي په ځینو برخو کي شاړي او کلکي ځمکي حاصلات ورکړل او هلته کرنه، کورونه او بندونه جوړ شول، خو دا کار په ټولو برخو کي د ښې پلان جوړوني پرته ناشونی وو. بریژینیف خپله وایي، چي په ۱۹۵۳ کي د زړو د شیندلو وروسته، په ۱۹۵۵ کي زموږ ټولي خواری عبث ولاړې او وچو بادونو، بې وخته سېلابونو او نورو آفتونو محصولات یو مخ خراب کړل. دلته وه، چي د دغو شاړو ځمکو د کرلو لپاره د کمربندو شتون حس شو او ستالین یوه پلا بیا خپل تاریخي برات ترلاسه کړ، ځکه خو هغه اول طبیعت ته د اېښودلو شویو ځنګلونو په واسطه خنډونه جوړول او بیا یې شاړي ځمکي کرلې. بندیکتوف د شوروي اتحاد د وخت د کرني وزیر د ریژونیسټ خروشچوف د هغو منفي نوښتونو، چي پر شاړو ځمکو یې زړي وشیندلې، په اړه وایي:

«موږ په ۱۹۵۰ کلونو کي د کرني لپاره هر څه درلودل، خروشچف لارښوونه وکړه، چي شاړي ځمکي دي وکرل شي، موږ هغه وکرلې، په پیل کي کي محصولات ښه وه، هغه موږ مست کړلو، خو وروسته لوی تاوانونه راورسېدل. موږ د مسئلې عمق او ژورو ته نه وو ورغلي. سطحي فکر مو کاوه.»

د خروشچف په راتلو سره د ځنګلونو د ایښودني پلان پاته شو او پر هغه ځای ودرېد، اېښودل شوي ځنګلونه یوازي د بوټو پیدا کېدلو مرکزونه شول. د شوروي وروسته رهبری هم چندان پام ورته ونه کړ او د پانګوالی په راتګ او د شوروي اتحاد د پر شاتګ سره خو بیا ببخي هر څه له منځه ولاړل، اوس یوازي د ونو وهل شوي تنې ولاړي دي.

# لومړنی سور او زرغون!

## ن . ګالوبچيکوف

د سټالين تر رهبرۍ لاندي په سوسياليستي شوروي کي د يوې حيرانونکي بريا په اړه ليکنه چي ډېره کمه يادونه يې شوې ده.

د دوهمي نړيوالي جګړې وروسته واقعيتونه: د سوسياليستي ټاټوبي ۲۷ ميليونه وګړي ووژل شول. د شوروي اتحاد ۲۵ ميليونه وګړي بې کوره شول. يو پر درې برخه بشري سرچينې مو له لاسه ورکړې. د جګړې ورانۍ او ويجاړۍ يوې خواته پاته وې، چي په ۱۹۴۶ کال کي يوه ګواښونکې وچکالي هم راغله. هغې وچکالۍ بلغاريا، يوګوسلاويا، رومانيا، هنګري او اتريش مضبوطه وځپل. په ليري ختيځ او سايبريا کي بيا د ډېرو بارانو له کبله کرنيز محصولات له منځه ولاړل. په ۱۹۴۶ کال کي د کرنيزو توليداتو اندازه د جګړې څخه مخکي کلونو نيمايي ته هم نه رسېدل. وچکالۍ درانه زيانونه هم درلودل. د هغه په ترڅ کي ميليونونه کليوال ښارونو ته ولاړل، څکه په ښارونو کي لږ تر لږه د دولت لخوا د خواړو د وېش سيسټم موجود وو. ددې سربېره، شوروي اتحاد د غلې دانې لس سلنه محصولات هغو هيوادونو ته استول، چي تازه پکښې سوسياليزم جوړېده. يوه برخه بيا د احتياط له مخي، د بلي احتمالي جګړې د پيل لپاره د دولت لخوا زيرمه کېدل.

که فرض کړو، د روسیې ننني لیبراله رهبري وای، دا رهبرۍ به په هغه حالت کي څه کړي وای؟ خو ښکاره ده چي د اړینو توکو بیې یې جګولې. هر سړی په دې پوهېږي، چي د یوه اقتصادي توکي په نه شتون کي که یې بیه لوړه شي؛ خپله پیدا کېږي! بل به یې دا کړي وای، چي د کار کونکو حقوق به یې ور کمولای او د تقاعد موده به یې زیاته کړې وای، خو......

خو د بېسواده لیبرالانو په اصطلاح [سټالیني استبداد؟!] بیا په هغو شرایطو کي څه وکړل؟ د خوراکي موادو بیې کال په کال لا کښته سوې او د بیو کښته والي ټولنیزه هوساینه را منځته کول. د کار کونکو حقوق هم کال په کال زیات شول.

رښتیا، سټالین او ملګرو یې د فساد سره څنګه مبارزه کوله؟ دا مبارزه داسي نه وه، چي جنایتکاران پر دوو برخو ووېشي: خپل او پردي! خپل د غلا او فساد حق لري، خو پردي نه. هغه پیسې چي د جګړې وروسته په بانکونو کي د دولتي کار کونکو او نورو سره وې او دوی پیدا کړي وې؛ ټول د یو خاص میکانیزم له مخي مبادله شولې. که تاسي په بانک کي ١٦ زره روبله درلودل؛ ١٢ زره روبله مو کارولای شوای. په جګړې کي ځینو خلګو توري پیسې پیدا کړي وې. دا پیسې د جګړو په کرښو کي د غنیمتونو د مبادلې او نورو لارو پیدا کیدلې. د تبادلې میکانیزم د خلګو د اکثریت په ګټه تمام شو. ددې کار سره نوي پیسې هم عرضه شولې.

## پر طبیعت د برلاسي کېدلو طرحه

د ۱۹۴۷ کال وچکالۍ حکومت دې ته اړ ایست، چې په راتلونکي کې د داسي وچکالیو د پېښېدو مخنیوی وکړي. په ۱۹۴۸ کال کې د شوروي اتحاد د وزیرانو شورا او د کمونسټ ګوند د مرکزي کمیټې فرمان «د خاوري د ساتني لپاره د ځنګلونو د ایښودلو، د څړ ځایونو پراختیا او د کرنیزو محصولاتو د دوامداره ښه محصول لپاره په غرنیو، ځنګلي او دښتي سیمو کي د اوبو د لویو ډنډونو جوړولو» په اړه صادر شو. دا طرحه د اکاډمیکو پوهانو تر رهبرۍ لاندي چي مشري یې ترافیم دیسناویچ لیسنکو کول تدوین شول. دا خورا بنسټیزه طرحه وه، چي اوسمهال که یې د کرني په برخه کي لېږ اغېزمنتیا پاته ده، طبیعي ښکلا یې هم ورسره شته. د دې طرحي له مخي په هره سیمه کي باید، تر کښت لاندي ځمکو لپاره ځنګلي لړۍ او ډنډونه وي. په یاده طرحه کي داسي وړاندوینه کېدله:

۱ – د ځنګلي لړیو د یوې شبکې جوړول د ۶ څخه تر ۲۰۰ متره پوري مستطیل شکله عرض سره، چي ویالې شاوخوا پر را ګرځېدلي وي.

۲ – د اوبو د حوضونو جوړول

۳ – کرني ته د ځمکي د تیارولو لپاره د وښو او شفتلو کرل

د ځنګلونو په ایښودلو سره، د ځمکي د سطحي اوبه د ځمکي تل ته کښته شولې. د دولتي ځنګل ایښودني ترځنګ په کرنیزو تعاونیو او خصوصي ملکیتونو کي هم د دا پلان عملي کول په کار وه. د ۴۴۲۲۸ ډندونو او کوچنیو بندونو د رغولو پلان جوړ او پلي کېدل يې پیل شول. د هغو څخه ډېر بندونه د کرنیزو تعاونیو لپاره د برېښنا د تولید یوه کوچنۍ وسیله هم ګرځېدلې وه. د ځنګلونو کرني وکولای شوای، د روانو اوبو مخه ونیسي، رطوبت او لنده بل را منځته کړي او د هغه په مرسته د وچو او تودو بادونو مخنیوی هم وکړي. د واورو لپاره هم ترتیبات ونیول شول. ددې طرحي محتوا عبارت وه: [د چاپېریال د ساتني او د دوامداره کرنیزو محصولاتو د اخیستلو لپاره د طبیعي بدلونونو په وړاندي خنډ جوړول] دا طرحي چاپېریالي بیلابېل والی او ښکلا هم را منځته کړل. ځنګلونه په راتلونکي کي د لرګیو یوه ښه سرچینه هم کېدل. نوموتي لیکوال ولادمیر چیولوخین په دې اړه لیکلي وه: «نړۍ ددې طرحي لویوالي ته ګوته په غاښ پاته شول.»

په امریکا، افریقا، کاناډا، چین او نورو هیوادونو کي هم د ورته طرحې څخه وروسته ګټه واخیستل شول، خو څوک يې یادونه نه کوي چي ددې تاریخي ریښه چیري ده؟

پر طبیعت د برلاسي کېدو د سټالیني طرحې پر بنسټ، د ۱۹۶۰ کلونو پوري شوروي اتحاد د خوراکي توکو له اړخه په هر اړخیز ډول نه یوازي پر خپل ځان بسیا کېده، بلکې د نړۍ په کچه د خوراکي توکو پر تر ټولو لوی

تولیدونکي باندي هم بدلیږي. هغه مهال سوسیالیزم فوق العاده وده کول او پانګوالي د ډول – ډول بحرانونو سره مخ وه؛ ځکه خو باید شوروي اتحاد د ځمکي د نیمي کُرې لپاره خواړه تیار کړي وای.

## د طرحي له منځه تلل

خروشچف پر هر هغه څه چي د سټالین نوم پوري وو؛ په ډېر قاطعیت سره له منځه یووړل. هماغسي لکه نن ورځ، پر هر څه چي د سوسیالیزم ټاپه وي؛ له منځه ځي. د خروشچف د امر سره سم د ټولي طرحي د عملي کېدلو کار ودرېد. نه یوازي دا چي نوري وني یې نه کېنولې، بلکې د هغو تنې وهل لا پیل شول، خو تر نن ورځي پوري هم د هغو ونو څخه ځیني یې پاته دي او خپله دنده ترسره کوي. د کبانو د روزلو لپاره جوړ شوي ډنډونه او حوضونه وچ شول. تراوسه هم په پخوانیو کرنیزو تعاونیو کي د اوبو د کوچنیو بندونو د بربښنا د تولید ځیني ماشینان پاته دي. دا وو سوسیالیزم!!!

د خروشچف او ریژیونیستانو د واک ته رسېدلو سره، چي سټالین ځپنه او د سټالین بدنامي پیل شول (ماهیتاً د سوسیالیزم د بدنامۍ هڅي وې -ژ) د یادي طرحي په اړه هم ناوړه تبلیغات وشول. د ځنګلونو لړۍ د تورو خاورو لرونکو سیمو د تودوخي د زیاتوالي لپاره خورا ګټور ثابت شول. خروشچف د سټالین غوندي د لومړنیو تدابیرو پرته پر ځمکو باندي تخمونه وشیندل، دا کار نه یوازي حاصلات زیات نه کړل، بلکې ځمکي یې خرابي لا کړې. دا وو چي په نړۍ کي د غلې دانې د ستر تولیدونکي په توګه سوسیالیستي شوروي

اتحاد خپل ځای لاس ته رانه وړ او د سټالین او بلشویکانو طرحه پاته شول. په ۱۹٦۳ کال کې شوروي اتحاد، خپل د زرو د زیرمي یو پر څلورمه برخه د نورو هیوادونو څخه د غلې دانې پر رانیولو ولګول. د لویدیځ او امریکا سره، د وسلو سیالۍ هیڅکله د سوسیالیستي شوروي ملا نشوای ماتولای، دا کار د خوراکي او لومړنیو توکو د نه شتون څخه وشو! هغه هم په طبیعي ډول سره نه، په تصنعي ډول سره!

د سټالین دا طرحه د انسان او طبیعت ترمنځ د یوې عقلاني اړیکي ټینګول وه. سوسیالیزم د طبیعت سره په مبارزه کې او د انسانانو د موږوالي، هوساینې او رفاه لپاره تر بل هر سیستم مخکښ، پیاوړی او ښه دئ. دا یوه تشه نظریه نه، په اثبات رسېدلې عیني واقعیت دئ.

# دريم څپرکی

## سټاليني نظريات او د منتقدينو بدیلونه او لاسته راوړنې (؟) يې

# د سټالین د زیږېدني د ورځې په مناسبت

## ګنادي زوګانوف

د ۲۰۱۰ کال، د ډسامبر یوویشتمه، د جوسیپ سټالین د زیږېدني ۱۳۱ کلیزه ده، چې له بده مرغه په سم ډول ونه لمانځل شول. سټالین چې ملګرو یې په ځوانۍ کې [کوبا] باله، په ګرجي ژبه کې ماته نه خوړونکي ته وایي. دی، د نړیوال کمونستي غورځنګ یو مشهور شخصیت وو، چې کولای شو ووایو، یوازینی سیاسي شخصیت دی، چې نوم یې هم د ژوندانه په دوران کې او هم د مړیني څخه ٦٠ کاله وروسته پر ژبو باندې شته او وي به هم. د علمي سوسیالیزم پیروان او د ټولنیز عدالت د تامین د لارې مبارزین د ده څخه په نېکۍ او درناوي یادونه کوي. فکر کوم د سټالین څخه، د پانګوالۍ د لویو او کوچنیو سیاستمدارانو، نظریه ورکونکو، تحلیل کونکو، څېړونکو او لیکوالانو د کرکې اصلي علت، چې له بده مرغه یوه لویه برخه چپیان یې هم په ځان کې را نغاړلي دي؛ دا دی، چې سټالین د لومړنۍ سوسیالیستي ټولنې د رغاوي یعنې په تولیدي مراکزو او موسساتو، ځمکو، ملي شتمنیو او د ځمکې پرمخ او ځمکې لاندې، د خصوصي مالکیت د لغوې پروسه د بشر په تاریخ کې رهبري کړل او د روسیې ورانه امپراتوري یې د پانګوالۍ د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي اغېزو له منګولو بهر راوایستل او د سوسیالیزم له لارې یې داسي لوی ځواک ورڅخه جوړ کړ، چې هیڅ کومه نړیواله ستونزه او مسئله د هغه د ګډون پرته نه شوای حلېدلای. د زیاتوني پرته، باید ووایم چې د نړیوال

سوسیالیستي سیستم تر نړېدلو وروسته کلونو کي، ما د خپل وس او توان په اندازه، د سوسیالیستي رغاوي د دوران او د سټالین د سیاسي شخصیت په اړه ډېر مطالب ولیکل یا وژباړل او د هغه اصلي دلیل همدا وو، چي زما په نظر هر بې غرضه انسان، چي د ختیځ سوسیالیستي بلاک په نړېدلو کي یې خاصي ګټي نه درلودې او که یې د پخوانیو سوسیالیستي هیوادونو مسخه شوې څېره په اتیایمو کلونو کي او د هغوی بد وضعیت د آزاد بازار د سیستم وروسته لیدلی وي؛ هرومرو به د سټالین او بلشویکانو په اړه ډېر عادلانه قضاوت ولري. سټالین چي تر لنین وروسته یې د بلشویکانو د ګوند رهبري پر غاړه واخیستل، تر هر څه وړاندي، د نړۍ په تاریخ کي د لومړني سوسیالیستي جمهوریت په رغاوي او بیا د ملي آزادۍ د تیورۍ د تدوین او د ملي مسایلو د بنسټیز حل په اړه په تاریخ کي ځان ته یو تلپاتي نوم پرېښود. په دې ځای کي د تکراري او نه خلاصېدونکو بحثونو څخه د تکرار د مخنیوي لپاره، زما په نظر د یوه عیني مثال طرحه او د هغه د یو شمېر فرضي نتایجو پر شمېر کولای شو، د دغه تاریخي او نړیوال شخصیت په اړه د دقت او عدالت سمه پرتله وکړو:

راځئ فرض کړو، چي یو کمونسټ ګوند د ربنتینو آزادو، سالمو او رښو ټاکنو په ترڅ کي یا د یو ولسي انقلاب په واسطه په یوه فرض شوي هیواد کي واک ته ورسېد او وروسته غواړي د خپلو لیري او نژدې برنامو پر بنسټ، پر تولیدي موسساتو، ځمکو او نورو ملکیتونو باندي خصوصي مالکیت لغوه کړي او د

انسان څخه د انسان ګټه اخيستنه (څېښناک) پای ته ورسوي. په دې صورت کي اړينه ده، د ټولني د ځينو برخو عکس العمل ته هم پام وشي، چي سوسياليزم د خپلو ګټو سره په ټکر کي بولي. په داسي يو حالت کي، د سوسياليستي دولت د عدالت غوښتونکو پروسو د طرحه کولو لپاره دوه احتماله شتون لري:

اول احتمال – نه پخوا، نه نن او نه په راتلونکي کي، نه يوازي کېږي نه، بلکې د تصور وړ لا نه دي چي پانګه وال، د زرو ميلياردران، د لويو شتمنيو خاوندان، مالي هِرمونه، د لويو توليدي موسساتو او صنايعو خاوندان او نور د موجوده واقعيت د پوهېدلو سره د مالکيت ټولنيز کول ومني، او د ټولني د لوی اکثريت په شان په يوه شرافتنمدانه او ګټه لرونکي ژوندانه باندي لګيا سي. طبعاً د دې قضيې دغه احتمال خيالي دی او د کارګرانو او زيارايستونکو د عمومي هرکلي سره به مخ شي، دولت او ټولنه د کومي ستونزي سره د مواجه کېدو پرته د ټولنيز عدالت د برقرارۍ او د ټولو لپاره د امکاناتو د شتون پرخوا ولاړ شي. که داسي ونه شي او پانګوال، ځمکوال، او په ټوله کي څېښناکګران د خپلو ګټو د ساتني لپاره دوهم احتمال –يعنې:

- د ليبرالي ډموکراسۍ د اصولو په اډانې او د بشر حقوقو د اعلاميې د ۱۷ مادې پر بنسټ، د خپل مالکيت او ګټو په دفاع کي به را ولاړ شي.

- که د دوی سوله ائیز لاریونونه پایله ورنه کړي او د سوسیالیزم مخالفین د خپلو څواکونو په سازماندهۍ سره، مثلاً لاس وسلې ته وروړي او د خپلو ملاتړ کونکو څخه هم په کورني او هم په نړیوال مقیاس کي مرسته واخلي او د کورنیو جګړو ورانونکي اورونه به بل کړي، او په جګړې کي بیا ماته هم وخوري.
- که په کورنیو جګړو کي تر ماتي وروسته په حاکم ګوند کي د نفوذ له لاري د کارګرانو او زیار ایستونکو حاکمیت مخته یوسي او د خپلو څواکونو د مخفي سازماندهۍ سره، د سوسیالیستي رغاوي په لاره کي جدي خنډونه جوړ کړي، او د دوسیې جوړولو، بدنامولو، د درواغو د شهادتونو د ورانډي کولو او نورو لارو، د صادق ترینه ګوندي مقاماتو وژنه وکړي؛ په دې صورت کي، کومه ښه او رغونکې لاره کولای شي د سوسیالیستي ټولني رغاوي ته ولاړه شي؟ هم هغه وخت او هم اوس به ستاسي ورانديز څه وي؟

زما په نظر د دغسي توصیو په ورانډي کولو سره د سوسیالیستي ټولني د برقرارولو په لاره کي هم کولای شو د سټالین د تاریخي شخصیت په اړه او هم د سوسیالیزم د رغاوي په پېښو کي په ښه ډول سره قضاوت وکړو او هم د اوس او هم راتلونکي لپاره اغېزناکي طرحي ولرو. دغسي منطقي چلند کولای شي هم ګوند او هم د کارګرانو او زیار ایستونکو دولت د خطاګانو او تېروتنو څخه وژغوري او د ټولنیز عدالت د دایمي مخالفانو هڅي چي د دښمنانه تور

لګولو له لاري يې کوي؛ د سوسیالیزم د رغونکو په وړاندي خنثی کړي. پاته دي نه وي، چي د قضیې دوهم احتمال، د شوروي اتحاد د غمجنو پېښو انځور د سوسیالیزم د رغاوي پر مهال وړاندي کوي، چي بیلابېل عوامل، له هغو څخه د علمي سوسیالیزم د لارویانو مېلیوني وژني، یعني کورنۍ جګړې او دوهمي نړیوالي جګړې کې د بلشویکانو وژني او بیا وروسته د سټالین د وژني د ټولنیز عدالت د دښمنانو لپاره مساعده زمینه منځته راوړل، چي په پای کي د خصوصي مالکیت او د انسان څخه د انسان د استثمار پلویان د کمونسټ ګوند پر ارګانونو باندي د کاملي ولکې په ترلاسه کولو سره، د ۸۰ لسیزي پرمهال، د سوسیالیزم انحلال او د پانګوالۍ بدرنګه ترینه او بد شکله ترینه ډول يې په ۱۹۹۱ کي اعلان کړ او د علم، ټکنالوژۍ، تولیدي صنایعو او پرمختللو علمي موسساتو په له منځه وړلو سره يې سوسیالیستي هیوادونه، د بازار په بې بندو باره سیستم باندي واړول، چي د هغه په ترځ کي د بېکارۍ، بې حقوقۍ، فقر، لوږي، اعتیاد، فحشاء، بې کورۍ او نور ټولنیز مفاسد په پخواني سوسیالیستي ټولنو کي را منځ ته شول. سم په همدغو شرایطو کي، په سټالین او سوسیالیزم باندي حمله، د ټولنیز عدالت د رغاوي د دورې پر رهبر باندي، چي د اکټوبر د انقلاب د بریا له هماغه اوایلو څخه په ډېر شدت سره شروع شوې وه، په مراتبو لا پسي زیاته شول. که پر هغه څه چي وویل شول، دا هم زیاته کړم چي د سوسیالیستي ضد فعالیتونو په ټوله دوره کي، کورني د انقلاب ضد ځواکونو ته د هر ډول سیاسي، فکري او تبلیغاتي ملاتړ لپاره نړیوال امپریالیزم هم لاس ورکړ او خپل ټول امکانات يې هم د سوسیالیزم د

ژوند په دوره کي او هم د هغه د تخریب وروسته، د ګوند، ولسي دولت او د هغه د رهبر د بدنامولو لپاره پر کار واچول، ددې تحلیل وروسته موږ دا پرېکړه ښه کولای شو، چي د سټالين ځېني دايمي ماهيت پر ټولنيز عدالت باندي د تېزابو پاشل دي؛ که بل څه؟

## په سوسیالیستي ټولني کې سټاليني طبقاتي نظريه او د هغې تاريخي اهميت

د دې ليکني څخه اصلي موخه، د طبقاتي مبارزې په اړه، په سټاليني نظريې او د هغه په تاريخي اهميت باندي پوهېدل دي. ولي مو دا موضوع وټاکل؟ عوامل يې دا دي:

اول دا چي معاصر ټولنيز علوم هڅه کوي سټالين يوازي د يوه سياستوال په توګه وپېژني او د سټالين تيوريکي ميراث د مارکسيزم په خزانه کي لږ پېژندل شوی او په عملي ډول تر تحقيق او څېړني لاندي نه دی نيول شوی.

دوهم، د ۱۹۲۰ – ۱۹۵۰ کلونو په منځ کي د شوروي اتحاد د رهبرۍ د سياست د درک لپاره د هغه دوران د غالبې نظريې د تحليل او څېړني پرته دا هڅه کومه اغېزه نه لري.

دريم، ددې د اثبات لپاره هڅه چي سټالينيزم يوازي د (اجباري کار د کمپونو) درې اړخيزه کمېټو او نورو څخه جوړ ترکيب نه دی او د سټالين سياسي او ايډيالوژيک واقعيت ميراث په دې مورد کي نه را لنډېږي. د

مارکسيزم د تکامل سټاليني مرحله عبارت وه، د نويو مسايلو له طرحي څخه! هغه نوي مسايل چي تر هر څه وړاندي، د سوسياليزم د تيورۍ په برخه کي سټالين د مارکسيزم – لنينيزم خزانې ته ور زياتي کړلې. لازمه ده چي ووايم، ټول هغه څه چي سټالين په خپلو ويناوو کي ياد کړي دي او په خپلو نظري آثارو کي يې توضيح ورته ورکړې ده، په عمل کي په اثبات ورسېدل. پر دې بنسټ، ټولي لوړي خبري، زموږ پام د مارکسيزم – لنينزم د سټاليني دورې تکامل ته اړوي. د دې سربېره، د سټالين ټوله جامع او متنوع خزانه د حاضري مقالې په اډانه کي نه ځايېږي. ددې مقالې په اډانه کي موږ د دغه ميراث يوازي د يوي برخي (د طبقاتي مبارزې تيوري) توضيح کوو. دې ته په پام سره چي طبقاتي مبارزه د مارکسيزم –لنيزم د خزانې اصلي مسئله ده، په دې سبب، سټالين ددې موضوع اړوند، د مارکسيزم خزانې په غني کولو کي غوښينه ونډه لري. طبقاتي مبارزه د کوڅې او سړک، کورنۍ جګړې يا کودتا مبارزه نه ده. طبقاتي مبارزه، يعنې د ټولنيزو طبقاتو نه پخلا کېدنکی ټکر، چي په بيلابېلو شکلونو ترسره کېږي. دلته موږ طبقاتي مبارزه د يوې جلا پديدې په توګه په پام کي نه نيسو، بلکې په مسقيم ډول به په سوسياليستي ټولنه کي د طبقاتي مبارزې سټاليني نظريې ته ورشو. د طبقاتي مبارزې سټاليني نظريه په ترتيب سره په تاريخي دوره کي، د پانګوالۍ څخه سوسياليزم ته د اوښتون په طبقاتي مبارزې او وروسته، د سوسياليستي نظام د تحکيم پر مهال باندي ويشل کېږي.

## د پانګوالۍ څخه سوسياليزم ته د اوښتون د دورې طبقاتي مبارزه

د پانګوالۍ څخه سوسياليزم ته د اوښتلو په دوره کې د طبقاتي مبارزې اړوند مسايل، په ۱۹۲۰ – ۱۹۳۰ کلونو کې د بحث وړ تاوده موضوعات وه. بوخارين په دې نظر وو چې ( زموږ د تعاوني بزګرۍ اصلي شبکه به د غير کولاکي تعاوني هستو څخه تشکيليږي او کولاکي تعاوني ځالي به هم په دې سيستم کې وده وکړي.)

نيکولای بوخارين فکر کاوه، لکه څه ډول چې (کولاکونه او کولاکي سازمانونه د تللو لپاره کوم ځای نه لري) په دې خاطر به هم هغه خپله د سوسياليستي سيستم د مناسباتو پر بنسټ (وده وکړي.) د بوخارين د دې نظر څخه، په طبيعي ډول دا فرضيې چې متناسبه طبقاتي مبارزه به د سوسياليزم خواته د پرمختګ او ودې سره په متناسب ډول زياتيږي او د سوسياليزم خواته به ځي؛ شکل واخيست. زموږ په عقيده، دا فرضيه په کُلي ډول سره سمه نه ده، ځکه هغه طبقاتي مبارزه زموږ د هيواد په تنګ مفهوم کې درک کوله او د هيواد په شاخوا باندې د پانګوالۍ د کړۍ شتون، چې طبقاتي دښمنانو ته يې هر ډول - حتی نظامي مرسته ورکوله، په نظر کې نه نيول. ددې سربېره بوخارين په دې نه پوهېده، چې حتی د ځېښناکګرانو يوه کوچنۍ ژوندۍ کتله تر ټاکلو شرايطو لاندې، د نړيوالې پانګوالۍ په ملاتړ سره، کولای شي د ځوان سوسياليسټ دولت لپاره يو جدي ګواښ وګرځي. د دې پر وړاندې،

سټالین یوه بله نظریه وړاندي کړه. د (روسیې د کمونسټ ګوند د کنفرانس د پایلو د کاري ریپورټ له مخي) سټالین پر دې مسئلې ټینګار وکړ، چي زموږ هیواد په دوه ډوله تضادونو: یو کورنی تضاد؛ د پرولتاریا او بزګرانو د تضاد او بل بهرنی تضاد؛ زموږ د هیواد اونړۍ د نورو ټولو پانګوالي هیوادونو ترمنځ تضادونو کي را ګیر دی. هغه ددې تضادونو د تجزیې او تحلیل څخه دې پایلي ته ورسېد، چي:

«د طبقاتو لغوه کول، نه د طبقاتي مبارزې د اور د وژلو له لاري، بلکې د هغه د سخت والي او تازه د ساتلو له لارې شوني دي.» دې پایلي ته په رسېدو سره، زموږ په نظر سټالین خپل تیوریکي نبوغ ښکاره کړ.

ځکه دا واقعیت په ډېري آسانۍ سره د پوهېدو وړ دی، چي د شوروي حاکمیت د کورنیو جګړو څخه را منځته شوي زیانونه د ۱۰ کالو څخه په کمه موده کي (چي د تاریخي معیارونو له مخي ډېره زیاته کمه موده ده) د بهرنیو دښمنانو د محاصرې په کړۍ او د دې محاصرې د کړۍ کورنیو ملاتړو (لویو ځمکوالو) په خپل ټول توان سره هڅه کوله هغه کمزوری او زوړ نظم له سره څخه را منځته کړي؛ بیا ورغول. ددې واقعیت پټول ناشوني دي. له دې مخي، نن ورځ چي کله د سټالین د نظام د ویني تویوني(؟!) څخه خبره کیږي، د دې ویني تویوني؟! طبقاتي ماهیت هېروي. د همدې وضعي سره – سره آیا په هغه شرایطو کي چي طبقاتي دښمنانو د دولتي سیستم بنسټونه ګواښل، د طبقاتي دښمنۍ لپاره مقاومت ارزښت نه لري؟

لازمه ده دا سپینه کړو، هر حاکمیت او هر دولت د حاکمي طبقې د دیکتاتورۍ پرته بل شی نه دی او هره طبقه خپله دښمنه طبقه په خپل طبقاتي دولت او خپلو طبقاتي قوانینو سره، حتی که اړتیا پېښه شي، په غیر قانوني کړنو سره هم د خپلې لارې لیرې کوي. دا د تاریخ قانونمندي ده! کارگره طبقه، د شوروي اتحاد حاکمه طبقه، د سټالین د رهبرۍ په دوران کي د تاریخ د قانونمندۍ څخه استثناء نه وه او د خپل طبقاتي سیاست په ترسره کولو سره، لکه هره بله طبقه او هر بل طبقاتي دولت په شان، خپل طبقاتي دښمنان په ښه ډول سره له خپلې لارې ایسته کړل.

## د سوسیالیستي برياوو پر مهال طبقاتي مبارزه

د سرتاسري شورا گانو اتمي (فوق العاده ) کنگرې ته په گزارش کي، د ۱۹۳٦ کال د نومبر پر ۲۵ باندي، سټالین اعلان وکړ چې:

«دا مهال، د انسان په وسیله د انسان څېښناک له منځه تللی دی، لغوه شوی دی او سوسیالیستي نظام زموږ د شوروي ټولني د بنسټ په توگه تحکیم موندلی دئ.»

دی په دوام کي وایي: «ددې بدلونونو او اوښتونونو په پایله کي موږ اوس مهال د نوي سوسیالیستي اقتصاد درلودونکي یو.»

په شوروي اتحاد کي د سوسیالیزم جوړېدل په هغه دوره کي د ډېرو بحثونو د را پورته کېدلو لامل شول، چي تراوسه هم دوام لري. له هغه جملې څخه،

ټروټسکي تصور کاوه، چې په شوروي اتحاد کې سوسیالیزم نه دی جوړ شوی، بلکې یوه بورکراتیکه دیکتاتوري حاکمه ده. زموږ په باور، سوسیالیزم زموږ په هیواد کې جوړ شو، خو هماغسې چې ف .ن گلتسواک ټینگار کوي، د وخت څخه مخکې سوسیالیزم وو، **چې د هغه توپیر د پرمختللي سوسیالیزم سره، د معاصري پانگوالۍ او د اوولسمې پېړۍ د پانگوالۍ په شان دی.**

که هغه ورانیو او انساني تلفاتو، چې دوهمې نړیوالې جگړې او د هغه په تعقیب د شوروي اتحاد پر کمونسټ گوند باندې د ریژیونیزم د تسلط په واسطه، چې زموږ د هیواد سوسیالیستي ودې اندازه یې کراره کړل او وروسته یې بېخي ودرول، نه وای را منځ ته شوي؛ په ډاډ سره ویلای شم، شاید د یوې لسیزې څخه په کمه موده کې زموږ سوسیالیزم، په پرمختللي سوسیالیزم بدل شوی وای. شمیرې ښیي، چې زموږ په هیواد کې تر ۱۹۳۰ پورې سوسیالیزم جوړ شو. هماغسې چې پروفیسور ف .ن گلتسواک ټینگار کوي، د ۱۹۴۰ تر اوایلو پورې ټولنیز مالکیت، په ټولو اقتصادي برخو باندې مسلط شو. د ټولنیز مالکیت سهم، په اصلي تولیدي مرکزونو کې ۹۹ سلنو ته، په ملي عاید کې ۹۹ سلنې او په تولیدي صنعت کې ۹۹،۸ سلنې ته ورسېد. ددې بریاوو سربېره، سټالین د اوضاع د پېچلتیاوو د درک له مخې، دا وروستۍ بریاوې ونه گڼلې. د اوضاع د علمي بررسۍ او تحلیل لپاره یې «د سوسیالیزم د بریا» او «د سوسیالیزم د نهایي بریا» مضامین تعریف کړل.

سټالين وويل، زموږ په هيواد کي د سوسياليزم بريا په څه مانا ده؟ دا يعنې د پرولتاريا د يکتاتورۍ برقرارول او د سوسياليزم جوړښت او د پانګوالۍ د عناصرو په ليري کولو سره، په اقتصاد کي زموږ د انقلاب په کورنيو ځواکونو باندي تکيه! د سوسياليزم وروستۍ بريا بيا زموږ په هيواد کي په څه مانا ده؟ دا، د خارجي تېري او پانګوالۍ د بيا رغولو د هڅو د شنډولو لپاره د يو کامل تضمين او په څو نورو هيوادونو کي د سوسياليستي انقلاب د ترسره کېدلو په مانا دی.

**د دې خبري څخه داسي فهم اخيستلای شو، چي د سوسياليزم د رغولو پر مهال، د پانګوالۍ محاصرې ته چي په سوسياليستي هيوادونو کي به د پانګوالۍ عناصر بيرته ښخ کړي او د سوسياليزم سره به طبقاتي مبارزه تشديد کړي؛ بې پامه ونه اوسو او په کمه سترګه ورته ونه وګورو. د دې ټولو پر وړاندي د يو مناسب غبرګون د ښکاره کولو لپاره، د دريو عناصرو شتون يا په روښانه عبارت سره، اول د پرولتاريا د ديکتاتورۍ پياوړی دولت، دوهم پرمختللې تيوري او دريم سمي سياسي او اصولي کرښي ضروري دي.**

په دې صورت او يوازي په دغه حالت کي کارګري دولت کولای شي، د پانګوالۍ په محاصره کي دوام راوړي او ټوله بشريت د ځانه سره يو ځای کړي.

دغسي وه د نړیوال انقلاب سټالیني نظریه، چي د تروتسکیانو د نړیوال انقلاب تیورۍ ته یې په نړیواله کچه ټکان ورکړ. د لوړو توضیحاتو پر بنسټ، سټالین دې پوښتني ته چي که سوسیالیزم بریا ته ورسېږي؛ طبقاتي مبارزه له منځه ځي، که لا تشدید کېږي، ډېر مناسب ځواب ورکوي او وایي:

«هر څومره چي زیات مخته ځو، هر څومره چي ډېرو بریالیتوبو ته لاسرسی پیدا کوو؛ د ځبېښاکګرو طبقاتو پاتي شوني هم په هغه اندازه پرمختګ کوي، هغوی به تر پخوا هم مبارزه ډېره شدیده کړي او هغومره به ډېر د شوروي پر دولت حمله وکړي. دوی به د مبارزې سختي لاري –چاري پر کار واچوي او درنو وسلو ته به لاس وروړي.»

دغه د طبقاتي مبارزې سټالیني تیوري د ټولنیز ژوندانه د ژوري پوهېدني څخه سرچینه لري. د سټالین له نظره طبقاتي مبارزه، یوازي د هیواد دننه ټولنیز مسایل، لکه انقلابونه، کورنۍ جګړې، کودتا او نور نه دي. **هغه طبقاتي مبارزه د ټولنیز ژوندانه د جیوپولټیکي پدیدې په توګه پېژني.** سټالین د طبقاتي مبارزې نړیوال اړخونه هم دا ډول توصیفول:

«دا ناسمه ده چي وایي، طبقاتي مبارزه د شوروي اتحاد تر سوسیالیستي جمهوریتونو پوري محدوده ده، که د یوه لوري څخه طبقاتي مبارزه د شوروي اتحاد په محدوده کي عمل کوي، د هغه بل لورى د بورژوازي دولتونو په خوا کي چي موږ یې محاصره کړي یو، پراختیا پیدا کوي او د

ځېښناککرو طبقاتو پاتي شوني له دې څخه ښه خبر دي. دوی په همدې باندي پوهېږي، څکه خو خپلو گوذارونو ته دوام ورکوي.»

زموږ په عقيده، دغه پوهېدنه د فوق العاده مهم ميتودولوژيک اهميت څخه برخمنه ده. د شوروي دولت، د دغه نظري ملاحظاتو په پام کي نيولو سره په حرکت کي، کولای شوای جيوپولټيکه وضع تشخيص او سمي پرېکړې وکړي. برعکس، د شوروي اتحاد له لوري دې نظريې ته په ناپامۍ سره، د پانگوالۍ د عناصرو (لکه سوداگرو) او د پانگوالۍ د نظم د بيا را منځته کېدلو لامل وگرځېد. د طبقاتي مبارزې د تشديد په اړه سټاليني تاملات په سوسياليستي ټولنه کي د دې واقعيت د پوهېدو څخه را منځته کېږي، چي طبقاتي گټي او د هغه تضادونه د هر سياست په بنسټ کي، هغه که کورنی سياست وي که نړيوال؛ ځانته شکل اخلي. د شلمي پېړۍ په دوهمه نيمايي کي د شوروي اتحاد حالت، سراسر د طبقاتي مبارزې د سټاليني تيورۍ کره والی او سم والی ثابتوي. د پانگوالۍ له لوري، پر سوسياليستي هيوادونو باندي، د وسلو د سيالۍ او سړې جگړې تپنه ټولو ته ښکاره ده. د شوروي اتحاد پر وړاندي د امريکا او انگلستان د استخباراتي سازمانونو برنامې د هيچا څخه پټي نه دي. د روښانه انځور د وړاندي کولو لپاره د امريکا د ملي امنيت د شورا سند محتوا (د شوروي اتحاد سره د اړيکو لپاره د امريکا موخه – شمېره ۱- ۲۵، نېټه ۱۸/۸/۱۹۴۸) تر سرليک لاندي تاسو وړاندي کوو، چي د متحده ايالاتو اصلي موخه د شوروي اتحاد په وړاندي عبارت دي له:

«الف: تر شوني بریده پوري د ماسکو د واک او اعتبار کمول

ب – د بهرني سیاست په تیورۍ او عمل کي بنسټیز بدلون راوستل، کوم چي د شوروي حاکم دولت اوس د هغه څخه پیروي کوي.»

موږ هڅه کوو خپله دغه نظریه شوروي اتحاد ته ور وپېژنو چي: «د شوروي حاکمیت ړنګول زموږ موخه ده. په دې ټکي باندي د ژور فکر کولو په واسطه، کولای شو ووایو، چي دغه موخي ته د رسېدلو لپاره جګړه نه کول، ناشوني ده او د هغه په دوام سره موږ غواړو ووایو، چي د شوروي اتحاد په اړه زموږ وروستۍ موخه جګړه او په تاوتریخجن ځواک باندي د هغه لاندي کول دي. موږ د دې لپاره چي دغه څه په شوروي اتحاد کي پېښ شي؛ کار کوو.»

ددې لاربښووني څخه ښکاري، چي د پانګي نړۍ د شوروي اتحاد په شاوخوا کي هم کرار نه کښېنستل. دا هم جالبه نه ده چي ووایو، شوروي اتحاد د مترقي بشریت ځراغ وو. دا شوروي اتحاد وو، چي د مظلومو ولسونو د ملي مبارزو د تشدید، چټکتیا او بریالیتوب لامل وګرځېد. دا شوروي اتحاد وو، چي د خپلو حقوقو د اخیستلو لپاره د پانګوالي هیوادونو د پرولتاریااوو د را ویښېدلو لامل وګرځېد او د هغه په ترڅ کي لوېدیځه او د پانګي نړۍ تر ډېر څه تېر شول. دا د سوسیالیستي بلاک په راس کي شوروي اتحاد وو، چي د نړۍ د ټولو خلګو او استثمار شویو طبقاتو څخه یې د خپلو مادي او ټکنالوژیکو امکاناتو په واسطه مرسته کول. شوروي اتحاد د ټولي پانګوالي

نړۍ د پزې ورښته شول، ځکه چي د پانګوالۍ د حیاتي ګټو سره په اصولي تضاد کي راغلي وو. په دې سبب هم هغوی په شوروي اتحاد کي دننه د پانګوالۍ د عناصرو د ملاتړ (خروشچوف ... ګورباچوف) په پایله کي، زموږ په هیواد کي پانګوالي بیا را منځته کړه.

د طبقاتي مبارزې د تشدید سټالیني تیوري، د دولت د پیاوړي کولو له لاري د هغه د زوال د فرضیې پیدا کول وه. دا فرضیه د لومړي پنځه کلن پلان د پایلو په اړه د مرکزي کمیټې او د شوروي اتحاد د کمونسټ ګوند د نظارت د مرکزي کمېسیون د ګډ پلینوم په ګزارش کي را منځته شول او خپله وده یې په اتلسمه کنګره کي ښکاره کړله. سټالین په دې کنګره کي په صراحت سره اعلان وکړ، چي د پانګوالي نړۍ د موجودیت په دوام کي به دولت په شوروي اتحاد کي، حتی د کمونیزم په دوره کي هم حاکم وي او د هغه دوران دولت به هم لکه اوس د پرولتاریا دیکتاتوري وي. دا فرضیه زموږ په باور، د سټالین د اصولي تیوریک والي په اړه شاهدي راکوي. ده کولای شوای د هغه فرضیو د تحقق لپاره موخي، لاري چاري او میکانیزمونه هم وړاندي کړي. سوال دا دی، چي په بې دولته ټولنه کي چي د پانګوالي هیوادونو په محاصره کي را ګیر وي، څه ډول کولای شو کمونستي ټولنه جوړه کړو؟ ښکاره ده چي شونې نه ده! د سټالین وروسته د شوروي اتحاد رهبرۍ او د ټولنیزو علومو نمایندګانو د طبقاتي مبارزې سټالیني نظریه درک نه کړل، یا په بل عبارت نه یې غوښتل چي درک یې کړي. د سټالین تر مرګ وروسته، د طبقاتي مبارزې

تیوري په ډېر شدت سره تر انتقاد لاندي ونیول شول. نیکتا خروشچوف په خپل ګزارش (کېش شخصیت او د هغه پایلي) کي وویل:

«د طبقاتي مبارزې د تشدید فرضیه، د ټولنیزي ټکوني په تیوریک بنسټ باندي بدله شوې وه.»

د طبقاتي مبارزې د سټالیني نظریې څخه د خروشچف دغه درک، د سټالین تیوریکي میراث اعدام کړ. دغه ارزیابي په مشهورو درسي کتابونو لکه (د شوروي اتحاد د کمونسټ ګوند تاریخ) او (د مارکسیستي فلسفې بنسټونه) او نورو کي هم ثبت شوله. د و . ګ افاناسیف په درسي کتاب کي په دې ټینګار کېږي چي:

«د متناسبي طبقاتي مبارزې د تشدید نظریه د سوسیالیستي څواکونو د ودي درجې ته په کټو یوه لویه تېروتنه وه، دا نظر هغه مهال چي په شوروي اتحاد کي ځبېښاکونکي طبقې وټکول شوې او سوسیالیزم جوړ شوی وو، تدوین شو او د ګوندي او دولتي ژوندانه څخه د لنین معیارونو سره په ښکاره ډول په ټکر کي وه.»

په بل مشهوره کتاب (د شوروي اتحاد د کمونسټ ګوند تاریخ) کي راغلي: «د طبقاتي مبارزې هر څه ډېر تشدیدول، د سوسیالیزم د موقعیت د تحکیم په تناسب، چي سټالین په شوروي اتحاد کي د سوسیالیزم تر بریا وروسته د مرکزي کمیټې د مارچ میاشتي په پلینوم کي مطرح کړل؛ تېروتنه وه. په

واقعيت کي، د طبقاتي مبارزې د تشديد د منلو فرضيه، د سوسياليزم تر بريا وروسته غلطه ښکاره شوه.»

لازمه ده ووايو، چي د څوړ په دوران کي دغسي ځان آرامول، په شوروي اتحاد کي د سوسياليزم د ماتي يو کوږنی علت وو. د نوي کولو په کلونو کي [موخه د گورباچوف واکمني ده. پ.ژ] دغه ډول ارزيابي او د طبقاتي مبارزې د سټاليني تيورۍ څخه دا ډول انعکاس په ډېر بد او تېز شکل سره بيا تکرار شوله. د مثال په ډول، د چارو شنونکي، د هغو له جملې څخه و. آستيپن، آ، حسين اوف، و . مژويف، و. تالستخ په خپل يو گډ اثر کي د (طبقاتو او بشر عموميات) کي د سټالين طبقاتي مبارزه په لاندي ترتيب سره نقد کړله:

«همدا چي د دغه سيسټم د بدلون خطر ښکاره شو، د هغه ورسته فوراً د دفاع ميکانيزم په کار ولوېد. د طبقاتي مبارزې په تشديد سره، هر انتقادي سيسټم په سوسياليزم باندي د حمله کونکي په توگه پېژندل کېده.»

ای سيمونوف د (طبقاتي تزلزل يا د طبقاتو متقابله ملگرتيا) تر سرليک لاندي اثر کي کاږي: «سټاليني نظريه د مارکسيزم يو کاريکاتور وو.»

له بده مرغه، دا کليشه تراوسه هم تکرارېږي. د مثال په توگه، ب . کاگارلينسکي ليکلي دي: «د سټالين د دوران نظري بنسټونه د عيني عمل په خدمت کي نه وه، بلکې د ده په خدمت کي وه.»

هر کال د سټالين ضد استدلالونو تجزيه او تحليل په ښکاره سره دا ښيي، چي هغوی په دې فرضيې باور لري، چي د طبقاتي مبارزې سټاليني نظريه د ټولنيزي ټکوني لپاره يوه سياسي وسيله وه. پر دې بنسټ، ددې مسئلې سپړل لازم دي. دلته پر لاندي څو ټکو باندي ټينګار ضروي ښکاري:

**اول** – د قانون د هر ډول پښو لاندي کولو سربېره، ناوړه ګټه اخيستنه او خپلسرۍ، چي په هغه کلونو کي په هيواد کي حتماً پېښېدلې، د هغه مهال مترقي ګامونه او منفي پروسې تر اغېز لاندي راوستلې. بايد هېره نه کړو چي په دغه دوره کي هيواد په يوې ناوړي محاصرې کي را ګير وو او لږ څنډ هم کېدلای شوای د ماتي لامل شي. بېځايه نه وه چي وروسته مولوتوف وويل:

«په هر حال، لازمه ده چي هيواد د ۱۵۰ ميليونه نفوس لپاره، چي د هغوی له نيمايي څخه زيات بېسواده وه او د دښمن په پوره محاصره کي را ګير وه، بايد سوسياليزم جوړ شوی وای او داسي يو هيواد هم بايد په يو ترتيب سره تر لوړو پوړيو رسېدلی وای. البته په دې لاره کي پرمختګ، د سرسختو د ښمنانو پر وړاندي د کلکو تدابيرو د نيولو پرته ناشونی وو، خو يو شمېر بې ګناه خلګو هم زيان وليد.»

دا واقعيت نشو کولای پټ کړو، چي د ستونزو سربېره موږ لوی پرمختګونه درلودل. هماغسي چي تاريخ شاهدي ورکوي، د ۱۹۲۰ کلونو په پای او د ۱۹۳۰ کلونو په سر کي موږ ۵۰ – ۱۰۰ کاله د پرمختللو هيوادونو څخه شاته

پاته وو، موږ باید دا لار په لسو کلونو کي وهلې وای او البته د قربانیو د ورکولو سره موږ تر هغه ځایه ورسېدو، چي د فاشیزم پر وړاندي مو د ځان او ټولي نړۍ بریا وساتل. شمېرنو ته به مخه کړو. که ۱۹۱۳ کال د صنعتي ودي په توګه په پام کي ونیسو، دا اندازه په ۱۹۳۹ کال کي ۹۰۸،۸ سلنه زیاتوالي ته ورسېدله. د لازمي مقایسې لپاره لازمه ده، چي ووایو د امریکا د ودي شاخص په دغه موده کي ۱۲۰ سلنه، او په انګلستان کي ۱۱۳،۳ سلنه او په آلمان کي ۱۳۱سلنه وو. په دې دوره کي د ټراکټورونو شمېر د ۲۱۰ زرو څخه تر ۴۸۳ زرو پوري ورسېد، یا په بل عبارت دوه برابره زیات شو.

**دوهم** – نه شو کولای یوازي سټالين د ټولو سخت نیونو عامل وبولو. دا ډول ارزیابي ډېره غلطه ده. تاریخ هم داسي نه وایي. ولي دا خلګ، د کمونسټ ګوند د مرکزي کمیټې د پلینوم په اړه، په ۱۹۳۸ کي (د ګوند څخه د کمونسټانو په ایستلو کي د ګوندي سازمانونو تېروتني، د ګوند څخه د ایستل شویو کسانو د شکایاتو سره بوروکراټیک او فورمالیستي چلند او د دغه نیمګړتیاوو د له منځه وړلو په اړه تدابیر) څخه څوک یادونه نه کوي. همدا پلینوم د سخت ګیریو اړوند نیمګړتیاوي وښودلې. د شوروي اتحاد د وزیرانو د شورا او د کمونسټ ګوند د مرکزي کمیټې پر بنسټ (د نیونو، قضایي کنټرولونو او د څېړنو پروسه) کي یې د درې ګونو کمېټو قانوني والی لغوه او درسي نصاب یې تیار کړی؛ په دې اړه هم څوک څه نه وایي. د ګوند د اتلسمي کنګرې د پرېکړه لیک په اړه، چي د (ګوندي جوړښت) په اړه وو،

هم لږ خبري کېږي. تر هغه پرېکړه لیک وروسته، د کمونسټ ګوند مرکزي کمیټې د سوسیالیستي رغوني په لړ کي انحرافونه تقبیح، خلګو ته تاوان رسونکي یې د رسنیو پر وړاندي مجازات او په کورني نظام کي یې د پام وړ بدلونونه راوستل. سیستم یې لا زیات ډموکراټیک کړ. د ۱۹۳۰ لسیزې د وروستیو کلونو د جزاوو او مجازاتو په اړه هم څه نه ویل کېږي. د مسئلې د روښانه انځور د وړاندي کولو لپاره ځیني اړوند شمیرې په ۱۹۳۹ – ۱۹۴۰ کلونو کي د مجازاتو د شدید کموالي په اړه دلته وړاندي کوو: شمیرې، د محکومینو شمېر لس برابره او د اعدام د احکامو د کموالي اندازه ۱۶۲،۳ سلنه، د ۱۹۳۷ – ۱۹۳۸ په نسبت کموالی ښیي. ایګور پنخانوف لیکي:

«په ۱۹۳۸ کال کي ۳۲۸۶۱۸ تنه د انقلاب ضد فعالیتونو په تور اعدام شول، خو په ۱۹۳۹ کي په اعدام د محکومو کسانو شمېر ۲۵۵۲۳ کسانو ته را ټیټ شو. که وغواړو د سیاسي محکومینو مجموعه وښیو، په دې ترتیب سره، چي په ۱۹۳۸ کال کي ۵۵۴۲۵۸ تنه او په ۱۹۳۹ کي ۶۳۸۸۹۴ تنه محاکمه شول. ګوند، د هغو کسانو لپاره چي بې بنسټه مجازات یې وړاندي کول، یو لړ ګامونه واخیستل. په دې اړه، غیرکمونستي سرچینې هم مورږ خبروي. په ۱۹۳۹ کال کي ټولټال ۷۳۷۲ کسان د امنیتي سازمانونو څخه وایستل شول. یا په بله ژبه، ۲۲،۹ سلنه کارکونکي یې وایستل شول او د هغو څخه ۹۳۷ تنه زندان ته ولوېدل. د ۱۹۳۸ کال په پای کي د هیواد رهبري په دې وتوانېدل، د کورنیو چارو وزرات ۶۳ زره

کارکونکي چې خلگو ته یې بېځایه دوسیې جوړولې او ډلبازي یې کوله؛ محمکې ته ور وپېژني، چې په محاکمو کې د هغو څخه ۴۱ زره تنه یې اعدام شول. په دې ترتیب سره بې گناه محکومان هم تبرئه شول. د کاري کمپونو د گزارشونو پر بنسټ، په ۱۹۳۹ کې ټوټل ۲۲۳۶۲۲ تنه د اجباري کاري کمپونو څخه راووتل. د ځینو نور راپورنو له مخې، بیا ۸۳۷ زره کسان آزاد شول.»

**دریم** – ټولنیز او فلسفي مسایل نه شو کولای تر تاریخي واقعیتونو پوري محدود کړو. د طبقاتي مبارزې د تشدید حتمي والی ته مي هماغسي چې توضیح ورکړله؛ د (طبقاتي مبارزې) په مقولې د ژوري پوهېدني څخه راوځي. ددې سربېره، هماغسي چې مو لوړ په مستدل شکل سره ثابته کړل، زموږ د هیواد تاریخي لوري او پرمختیا او په ټوله کې، ټولې نړۍ دغه نظریه په اثبات ورسوله. پر دې ټکي باندي د تینگار له لاري دا چې یوازي د طبقاتي مبارزې سټالیني نظریه د هغه سختگیریو د تحمیل دلیل وه او د دې تیورۍ را لنډول یوازي سیاسي برخي ته زموږ په عقیده د جدي مسایلو عادي نیول او د سیاسي تاریخ د اختلافي مسایلو د واقعتیونو په برخه کې د ټولنیز – فلسفي ماهیت څخه لیري والی دی.

**څلورم** – د سټالین ضد کسانو، لکه پورته چې اشاره ورته شوې ده، نه غواړي د طبقاتي مبارزې د تشدید واقعیت زموږ په هیواد کې وگوري. د یوې

قاعدې په توګه، هغوی د هغه کلونو پېښې د [بېرحمانه سټالیني اعدامونو] په نوم په یو اړخیز ډول ارزیابي کوي، خو د مسئلې طرح په دې ډول چې ولې یې اعدام کړل؟ څوک یې اعدام کړل؟ په کومو شرایطو کې یې اعدام کړل؟ او څه ډول دغسې تدابیر زموږ د حقیقت پالني او انسانپالني په فورم کې شوني شول؟ نه حل کوي! پر هرحال، د بورژوازي حاکمیت د نوکرانو (هو، تش په نوم د ټولنیزو علومو پوهان او نورو د خوله ډکونکو نومانو او القابو درلودونکي لکه د علومو ډاکټر، اکاډمیسین، د فلاني مډال لرونکی او ورته نور چې د پانګې تر حاکمیت لاندې ټولنې کې پانګوالو ته ښه سم د ګټې وړ دي) د هغه چټیاټو د ویلو پرته، د نورو خبرو تمه هم ونه کړو. البته، که دوی غواړي د علمي تحلیل او تجزیې په ترڅ کې واقعیتونه خلګو ته ښکاره کړي؛ یا د ټولو امکاناتو څخه محرومه کېږي یا خپله دنده له لاسه ورکوي. موږ پرته له دې چې پر هغو لارو باندې تکیه وکړو او د دغسې پوهانو د شخصي کیفیتونو مجذوب شو، د طبقاتي مبارزې د سټالیني تیورۍ تشدید د ځینو واقعیتونو سره یو ځای په سوسیالیستي ټولنه کې را اخلو.

موږ چې سره جګړه د مبارزې د تشدید د یوه شکل په توګه یاده کړل، په دې ځای کې دا هم ور زیاتوو، چې دوهمه نړیواله جګړه هم د یوه میلیټاریستي (پوځي) دولت طبقاتي مبارزه د یوې پرولتاریایي دیکتاتورۍ سره وه. دا دی، په داخل کې د سوسیالیستي ځواکونو د ودې سره د طبقاتي مبارزې د تشدید او په هغه باندې د پانګوالۍ د عناصرو پر حملو باندې بحث کوو. د بوخارین

د نظر خلاف، په سوسیالیزم کي د کولاک د ودي په اړه، واقعیتونه مطلقاً نور څه ول. هماغسي چي اولګ موزاخین د حقوقي علومو نوماند او د ملي امنیت د سازمانونو د تاریخي مطالعاتو د ټولني غړی دی، لیکي: «که په ۱۹۲۴ کال کي کولاکانو ۳۳۹ تروریستي عملیات ترسره کړل، په ۱۹۲۵ کي د دغه ډول حملو اندازه یې ۹۰۲ ته زیاته کړل، په ۱۹۲۶ کي پکښې لږوالی راغلی، ۷۱۱ بریدونو ته کم شول، خو د ۱۹۲۷ او ۱۹۲۸ کلونو پېښي د تروریزم بله ننداره وړاندي کوي. په دې ترتیب سره چي په ۱۹۲۷ کي ۹۰۱ واره او د ۱۹۲۸ کال په لومړیو ۷ میاشتو کي د تروریستي بریدونو شمېر ۱۰۴۹ ته ورسېد. په ۱۹۲۹ کي ۹۱۳۷ پېښي وشوې. د ۱۹۲۹ کال ترورونه په لاندي ډول وه: قتل – ۹۷۸، زخمیان ۵۵۲، د قتل لپاره اقدام ۱۵۸۱، وهل او ټکول ۲۷۴۵، اور اچونه ۳۱۲ ځلي، د ویجاړی او خرابی پېښې ۳۸ ځلي، د عامه اموالو لوټ، تخریب او نور ۲۲۲ ځلي. د هماغه کال د ترورونو د مجموعي څخه ۳۹۶۸ چاري د ډودۍ د تامین او ۳۰۴۹ هم د ځمکوالی پر وړاندي د مبارزې په تشدید پوري اړه درلودل، خو په ۱۹۲۹ کي په ځانګړي ډول د هغه کال په پای کي، تروریستي علمیاتو د پام وړ وده وکړه، چي د تعاوني کولو په وړاندي طرحه شوې وه. د هغو پېښو شمېره ۸۹۱ ته رسېدله. د ۱۹۳۰ کال په جون کي بیا د پېښو اندازه ۷۵۰ او په فبروري کي ۱۷۵۱ ته لوړه شوې وه. د اپریل په میاشت کي دغه عملیاتونه ښار ګوټو ته هم ورسېدل او په اولو لسو ورځو کي ۵۱۵ مورده پېښي وشولې، د جون په میاشت کي اور اچوني خورا زیاتي شوې. د ۱۹۲۹ کال د ۹۱۳۷ تروریستي کړنو څخه یوازي یې ۳۰۲۱ اور

اچوني وې، خو د هغه اندازه تروريستي اقداماتو شمېر د ۱۹۳۰ کال، د جون په مياشت کي ۱۸۸۳ (مجموعي ۴۳۶۵) ته ورسېدلې. په دې عملياتو کي اساساً د کرني بنسټيز تعاوني بنسټونه، د تعاوني غړو کورونه او د تعاوني کولو په چارو کي فعال وګړي په اور وسوځېدل. په دې ترتيب سره، ۴۳۶۵ تروريستي عملياتو څخه د هغه ۲۷۲ پېښو د تعاوني کولو د چارو فعالين او يوازي ۸۴۸ يې د شوراګانو فعالين په نښه کړي وه. ۹۸۰ واره د کالخوزي توکو او ۷۷۰ واره د عامه سازمانونو تاسيساتو ته اور ور اچول شوی. دغه ټول واقعيتونه پر دې دلالت کوي چي طبقاتي مبارزه د سوسياليزم د ودي د تناسب سره نه يوازي په نړيوال مقياس کي حتی د سوسياليستي هيوادونو په دننه کی هم شدت پيدا کوي او د سټالين د طبقاتي مبارزې د تيورۍ کره والی تائيدوي.

د لوړو ټولو خبرو په را لنډولو سره، پر دې ټکي ټينګار لازم دی، چي د طبقاتي مبارزې سټاليني تيوري په اوږد مهال کي د خلګو او ګوند ښه ترينه لار ښوونکې او رهنمايي کونکې ده. دقيقاً ددې په نظر کي نيولو سره چي يوازي موږ د متضادو طبقاتو لرونکې ټولنه په نړۍ کي نه يو، په مقابله نقطه کي هم ګټې شته او طبقاتي مبارزه د دې ګټو په منځ کي مبارزه ده او همدا واقعيت چي په مرګ محکوم طبقات هيڅکله خپل حاکميت د مبارزې پرته نه تسليموي، ګوند او د شوروي ولسونو د رښتيني دښمن د پېژندني او د سوسياليستي تاټوبي د بنسټونو پياوړي کولو ته وهڅول. د طبقاتي مبارزې

سټاليني تيوري، د طبقاتي ځواکونو توازن مشخص کړ او هيواد ته يې د دې جوګه کړ، چې د چرچيل خبره تر اټومي بمونو پوري، په لنډه موده کي لاره ووهي.

## د نړيوال انقلاب سټاليني نظريه

ډېر خلګ د نړيوال انقلاب عبارت اوس هم د ټروټسکي له نامه سره تړي. دا تصور د هغه ځايه را پيدا کيږي، چي هغه د دوامداره انقلاب نظريه د اکټوبر د لوی انقلاب څخه وړاندي را منځته کړه او د مداوم انقلاب مفهوم د انقلاب د مسايلو او سوسياليزم د رغاوي سره مستقيمه اړيکه لرل. پر ته له دې چي د ټروټسکي د نظريې بيلابيلو اړخونو ته ورشو، لازمه ده، چي يادونه وکړو، د دې نظريې اصلي مضمون په يوه هيواد کي د سوسياليزم د جوړېدلو د ناشوني والي څخه عبارت دی. ټروټسکي دا عقيده درلوده، چي په يوه هيواد کي د سوسياليستي انقلاب ترسره کول ناشونې ده. ده ټينګار کاوه، چي په بورژوازي ټولنه کي د بحران د را منځته کېدلو اصلي علت دا دئ، چي د دې ټولني توليدي ځواکونه نور نه شي کولای په ملي چوکاټ کي سره را ټول شي. په دې ترتيب سره سوسياليستي انقلاب د کلمې په واقعي معنا سره تداوم پيدا کوي او په نړيوال مقياس کي د نوي نظم د را منځته کولو وړاندي، نه شي کولای خپل رسالت اداء کړي. ده باور درلود، نړۍ په داسي ډول سره تړلې ده، چي د سوسياليزم بريا په يوه هيواد کي شونې نه ده او د شوروي جمهوريتونه به د نورو هيوادونو په محاصره کي خفه شي. ټروتسکي او دده

پلويانو، د نړيوال انقلاب په وړتيا د خلګو تر قوت هم زيات باور درلود. ټروټسکي ليکي: «د کارګري دولت د تضادونو حل د بزګري ټولني سره، په وروسته پاته هيواد کي يوازي په نړيوال مقياس کي شونې ده.»

د خپل هيواد پر پرولتاريا باندي د ده بې باوري او د بزګرانو سره ښکاره دښمني د ده د شخصيتي او طبقاتي توازن سره اړه درلودل. پوهېږو چي ټروټسکي زيات کلونه په مهاجرت کي ژوند کړی. ټروټسکيانو د وړې بورژوازۍ د روښانفکرانو د نمايندګۍ روحيات خپل کړي وه، د سوسياليزم جوړول د رغاوي يو لوی کار ته اړتيا درلود. هغوی د نړيوال انقلاب د را منځ ته کولو لپاره يوازي توندي ويناوي کولې، خو کله چي د مشخصو ميکانيزمونو بحث د نړيوال انقلاب په اړه راتلئ؛ هغوی به يا د ګوند سياست نقدوئ او يا به يې په بې مانا خبرو سره د سوسياليزم په رغاوي کي، ګوند او خلګ په پاته راتللو او بې عملۍ باندي تورنول او يا د مسايلو د حل لپاره يې شخړه پارونکي وړانديزونه کول او پرولتاريايي دولت يې د بورژوازۍ نړۍ سره جګړې او بيا ماتي ته وربلئ. دا تيوري د (انتظار تيوري) هم بللای شو. ځکه چي د هغه ګټه د عملي ژوند سره هيڅ اړخ نه خوري او يوازي د ګوند او شوروي د خلګو د کادرونو ترمنځ يې ګډوډۍ جوړاوه. د دغسي ليد پر وړاندي د سوسياليزم د جوړولو ليد ته، نورو نظرياتو هم شتون درلود. دا نور نظريات د سوسياليزم د جوړولو لپاره هماغه د لنين او سټالين نظريات وه، چي په يوه هيواد کي يې د سوسياليزم د جوړولو په اړه درلودل. د شوروي په

ادبیاتو کې یې یوازې د لنین نظریات په یوه هیواد کې د سوسیالیزم د جوړولو په اړه را اخیستي دي، مثلاً د (د شوروي اتحاد د کمونست ګوند تاریخ) په کتاب کې راغلي دي:

«لنین استدلال کوي، دا چې سوسیالیزم د امپریالیزم په دوران کې نه شي کولای پر یوه وخت، په ټولو پانګوالي هیوادونو کې بریالی شي، د هغه بریا په یوه هیواد کې شونې ده.»

دا استدلال بېخي سم دی، خو زموږ له نظره، دا نظریه یوازې په لنین پسې تړل غلطه ده. لنین د دې نظریې بنسټیز اصول را منځته کړي او د موضوع طرحه په دې ډول سمه ده، چې لنین د سوسیالیزم د بریا فرضیه په یوه جلا هیواد کې مطرح کړل او سټالین هغه د نظریې تر حده مخته یووړل. دغه راز، دا به هم غلطه وي، چې په یوه هیواد کې د سوسیالیزم جوړلو نظریه یوازې په سټالین پسې غوټه کړو، سټالین خپل ملاحظات په دې اړه د لنین د امپریالیزم د تیورۍ او د پانګوالي هیوادونو د نامتوازني ودې پر قوانینو باندې ودرول.

**هماغسې چې مو لوړ وویل، د امپریالیزم په دوران کې د پانګوالي هیوادونو د نا متوازني ودې قوانین د وروسته پاته هیوادونو د چټکې ودې زینې په ډېره لنډه موده کې برابروي. ددې څخه کولای شو داسې پایله واخلو، چې سوسیالیستي انقلاب د پانګوالۍ په تکاملي شرایطو کې بلوغ نه کوي او هلته پیښېږي، چې د پانګوالۍ نوي تضاونه خپل اوج ته ورسېږي او دا په نه چندان پرمختللي هیوادونو کې هم د سوسیالیستي**

**انقلاب د بریا په ګټه تمامېږي. د نړیوال انقلاب سټالیني نظریه په یوه جلا هیواد کې د سوسیالیزم بریا دغه لنیني حکم تشکیلوي. دلته به دې نظریې ته نور هم ژور ولاړ شو.**

د نړیوال انقلاب په سټالیني نظریه کې باید دوې مسئلې په دقت سره تر پام لاندې ونیسو: اول په یوه هیواد کې د ځانته سوسیالیزم جوړول او دوهم په یوه بل هیواد کې د سوسیالیزم بریا.

۱ – په یوه ځانته جلا هیواد کې د سوسیالیزم د جوړولو شونتیا: هماغسې چې موږ وویل، په یوه هیواد کې د سوسیالیزم نظریه لنین را منځته کړه. هغه د (اروپا د متحده ایالاتو) په کتاب کې ولیکل چې:

«بریا ته رسېدلې پرولتاریا، د خصوصي مالکیت په لغوې او د سوسیالیستي تولید په سازماندهۍ سره په خپل هیواد او تر ستم لاندې نورو هیوادونو د خلګو د پام ځانته د را اړولو له لارې کولای شي د پانګوالۍ نړۍ پر وړاندې ودرېږي.»

د لنین دغه خبرې خپل کامل سموالی ښکاره کړ. دې مفهوم ته ورته، نور بیانونه هم د هغه په نورو آثارو کې په کامل وضاحت سره بیان شوي دي. لنین په خپل بل کتاب (د تعاونیو په اړه) کې لیکلي:

«د دولتي مالکیت جوړول په ټولو لویو تولیدي وسایلو، پرولتاریا ته د دولتي ځواک په لاس ورکولو، د پرولتاریا اتحاد د بزګرانو سره، پر بزګرانو باندې د

پرولتاريا د رهبرۍ تامين او نور.... دا ټول د يوې سوسياليستي ټولني د جوړولو لپاره په کامل ډول الزامي دي.»

په بله مقاله (د ځواک اهميت اوس او د سوسياليزم وروسته) کي ليکي:

«زموږ تر ټولو بېړنی دنده، هم له اصولي اړخه بېړنۍ، هم له علمي، هم د روسيې د فدراسيون د سوسيالستي جمهوريت له اړخه او هم د نړيوالو اړخونو څخه، د سوسياليستي اقتصاد د بنسټونو جوړول دي.»

د لنين د لوړو ويناوو څخه کولای شو داسي نتيجه واخلو، چي په يوه جلا هيواد کي د سوسياليزم د جوړولو فرضيه خپله د لنين له لوري طرحه شوې، خو د لنين په آثارو کي د دغه سوسياليزم د جوړولو د څرنګوالي په اړه مشخصه توضيح نه وينو. د لنين ټول آثار د راتلونکي نظام په اړه د مثالونو او عامو بحثونو په اړه دي. دا عام بحثونه، د هغي نظريې خام مواد تشکيلول چي سټالين ورته پراختيا ورکړل. سټالين په يوه جلا هيواد کي د سوسياليزم د جوړلو په تشريح کي، لنيني لارښووني او مارکسيستي ډيالکتيک چي ده ته يې اجازه ورکوله، لنينيزم ته په نوښتګر ډول پراختيا ورکړي؛ خپل د عمل لارښود وټاکئ. لازمه ده چي توضيح کړو، د سټاليني تيورۍ د نقطه نظره «په يوه ځانته جلا هيواد کي د سوسياليزم بريا، نه وروستۍ موخه، بلکې په نورو هيوادونو کي د انقلاب د پراختيا او ملاتړ لپاره يوه وسيله ده.» دا اصولي سټاليني نظريه د دې حکايت کوي، چي د سوسياليزم سټاليني تيوري نه، د ملي مارکسيزم يو ډول بلکې انټرناسيوناليستي زده کړه او د نړيوال انقلاب

منسجمه او کامله تیوري په لاس راکوي. د دې لپاره چې د هر ټولنیز نظام د را منځته کولو د شوني والي یا ناشوني والي په اړه خبري وکړو، د هغه د [ماهیت] ټاکنه اړینه ده. په دې صورت کي کولای شو، د سوسیالیزم سیاسي او اقتصادي بنسټونه وپېژنو. سټالین د سوسیالیزم سیاسي او اقتصادي بنسټونو ته مفهوم ورکړی. ده وویل: «موږ د پرولتاریا دیکتاتوري را منځته کړه او د سوسیالیزم پر لور د پرولتاري خوځښت قرارګاه مو تشکیل کړه.»

دقیقاً د پرولتاریا دیکتاتوري باید په لنیني او سټالیني بنسټونو باندي ولاړه وي، څو تر کمونیزمه پوري ولاړه شي. تر هغه مهاله چې یو طبقاتي دښمن هم وي؛ د پرولتاریا د دیکتاتورۍ د نظریې څخه انصراف د بورژوازۍ په وړاندي طبقاتي سنګر نیوني څخه پرشاتګ حسابېږي. سټالین، د سوسیالیزم د آدرسه څخه داسي تعریف وړاندي کړ. هو! د سوسیالزم د سیاسي بنسټ تشکیل آسانه دی. د دې کار لپاره یوازي د بورژوازي دولت نسکورول بسنه کوي، خو د سوسیالیزم د اقتصادي بنسټونو تشکیل ډېر سخت دی. سټالین د سوسیالیزم د اقتصادي بنسټونو په اړه لیکي:

**«د سوسیالیزم د اقتصادي بنسټونو تشکیل، په یوه اقتصادي ټولګه کي د بزګري اقتصاد ادغام د سوسیالیستي صنایعو سره، د بزګري اقتصاد تابع کول د سوسیالیستي صنایعو په رهبرۍ، د کرنیزو او صنعتي توکو د مبادلې پر بنسټ، د ښار او کلي ترمنځ د مناسباتو تنظیم، د ټولو هغو سوړو تړل چې د هغې لارې طبقې، دښمنۍ او تر هر څه وړاندي پانګه**

**منځ ته راځي او بالاخره د تولید او وېش د داسي شرایطو را منځ ته کول چي په مستقیم او بې واسطې توګه سره د طبقاتو د له منځه تللو لامل وګرځي؛ څخه عبارت دي.»**

دقیقاً، په طبقاتو باندي د ټولني د وېش د مخنیوي لپاره سټالین د سوسیالیستي ټولني د واقعي ماهیت په توګه چي د تدریجي تغیر په واسطه، د کمونستي ټولني پر خوا باندي د تکامل د نوي مرحلې له لاري ځان ته لاره پیدا کوي؛ تعریف کړله، خو په یوه جلا هیواد کي د سوسیالیزم د را منځ ته کولو د شونتیا مفهوم څه شي دی؟ دا د پانګوالو څخه د مالکلیت د سلب، د پرولتاریا تر رهبرۍ لاندي د ځېښنل کېدونکو طبقاتو یو ځای کول او د سوسیالیزم د بنسټ د تشکیل څخه عبارت دي. دا ټول زموږ په هیواد کي وشول. په همدې سبب سټالین ددې سوال په ځواب کي چي آیا زموږ په هیواد کي د سوسیالیستي ټولني جوړول، په لویدیځ کي د سوسیالیزم د بریا پرته شتون لري که نه؟ وایي:

«نه یوازي شونې، بلکې اړینه او حتمي ده!»

په واقعیت سره هم، بریمنه پرولتاریا نه شي کولای په خپل هیواد کي د سوسیالیزم جوړول پرې ږدي. ځکه په یوازي توګه د ژوند دوام ورکولو ته تیار دي. خپله ښکاره ده، چي که بریمنه پرولتاریا ونغواړي سوسیالیستي ټولنه جوړه کړي؛ باید د بورژوازۍ د بیا را منځته کېدلو او د پانګوالۍ د بیا رغولو شاهده واوسي، چي د زیار ایستونکو د بیا ځلي غلامۍ د راتلو لامل کېږي.

بریمنه پرولتاریا په خپل سیاسي او اقتصادي ځواک باندي د تکیې له لاري، د سوسیالیزم جوړولو ته مجبوره ده.

## په یوه جلا هیواد کي د سوسیالیزم بریا ته رسېدل په څه مانا ده؟

ددې پوښتني ځواب د دقیقو تاریخي شرایطو په نظر کي نیولو سره داسي ورکوو:

په یوه ځانته یوازي هیواد کي د سوسیالیزم بریا، د ځبېښاکګرو طبقاتو د له منځه وړلو او د نوي اقتصادي بنسټونو رغولو سره د نوي ژوند د ډول د را منځته کولو پرته بل شی نه دی، خو د سوسیالیزم بریا نه باید د هغه د [بیا پر شاته نه تللو] سره استنباط کړو. هماغسي چي تاریخي تجربې ښیي، د پانګوالی بیا رغول په زیاتو مواردو کي پېښ شوي دي. د نني وضعي او احوالو چي موږ یې شاهدان یو؛ سټالین په ۱۹۲۶ کي وړاندوینه کړې وه. په هغه ګزارش کي چي (زموږ په ګوند کي د سوسیال ډموکراسی تمایلات) یې عنوان وو، جوسیپ ویسارینوویچ سټالین د سوسیالیزم د [بریا] او د سوسیالیزم د [وروستی بریا] مفاهیم مشخص کړل. په یوه جلا هیواد کي د سوسیالیزم بریا سټالین په بورژوازي عناصرو باندي بریا او د سوسیالیستي پیل لپاره د ملي اقتصاد د بنسټوتو رغول وه، خو آیا دا بریا وروستی بریا بللای شو؟ سټالین سم ویله، چي موږ پر خپلو پانګوالو باندي بریالي یو او هم د خپل سوسیالیزم

په جوړولو کي بريالي يو، خو دا په دې مانا نه ده چي موږ د بهرنيو ګواښونو، د نظامي تېري د ګواښ او پانګوالۍ د بيارغوني پر وړاندي د پرولتاريا ديکتاتوري تضمين کړو.

«موږ په يوه جزيره کي ژوند نه کوو، موږ د پانګوالۍ په محاصره کي يو!» دا خبري، د سټالين نبوغ ښيي چي په پخوا کلونو، په ۱۹۲۶ کي د سوسياليزم د ماتي د احتمال وړاندوينه يې وکړل. نن موږ وينو چي په رښتيا سره هم د هري نوي پديدې جوړونه، د عيني شرايطو ارزيابي غواړي.

**د سوسياليزم د بريا لپاره (په کمونستي ټولنه کي د حاضر شوروي انسان ژوند) په اړه د اوږدو خبرو او د انقلاب څخه شل کاله وروسته د کمونستي ټولني رغول لازمه نه ده، بلکې د جامع او عيني تحليل او د همدې تحليل له مخي، د دښمن په سنګر کي د تضادونو څخه د ګټي اخيستني وړتيا، زغمل او زده کړه (حتى د خپل دښمن څخه) هماغه څه دي د سوسياليزم او کمونيزم ترمنځ يو نه تفکيک کېدونکي بريا ته لار هواروي.**

کله چي د سوسياليزم د وروستۍ بريا خبره کېږي، بايد هېره نه کړو، چي لنين په دې اړه وويل:

«وروستۍ بريا يوازي په نړيوال مقياس او په ټولو هيوادونو کي د کارګرانو په ګډ عمل کي شوني ده.»

ستالين د لنین ددې نظریې سره پوره موافق وو او هغه يې په دې ډول را لنډه کړله:

«په دې ترتیب سره، زموږ په هیواد کي دسوسیالیزم بریا په څه مانا ده؟ دا د پرولتاريا د دیکتاتورۍ د برقرارولو او سوسیالیزم په رغاوي سره د انقلاب پر کورني ځواک د تکیې له لاري په ملي اقتصاد کي د پانګوالۍ د عناصرو له منځه وړل دي. زموږ په هیواد کي د سوسیالیزم وروستۍ بریا په څه مانا ده؟ دا هم د بهرني تېري پر وړاندي د کافي تضمین د شتون او د پانګوالۍ د بیار غولو لپاره د تلاښونو او هڅو کمرنګه کول او لږ تر لږه په څو هیوادونو کي د سوسیالیستي انقلاب د بریا په مانا ده.»

زموږ له نظره دغه ستاليني حکم په خپل کُلیت کي سم دئ، خو ځیني د تدقیق موارد هم لري. د لوړو موادرو څخه د ستالین نظریات د سوسیالیزم د بریا او وروستۍ بریا په اړه، داسي ښکاري، چي باید د سوسیالیزم د پدیدې په انټرناسیونالیستي واقعیت باندي باور ولرو او دا په دې مانا ده، چي باید د سوسیالیزم بریا په یوه جلا هیواد کي د ټول بشریت په چارچوب کي، د یوه کُل په توګه په نظر کي ونیسو. د سوسیالیزم رغول په یوه ځانته یوازي هیواد کي د کورني تضادونو څخه د تېرېدلو په مانا دي او په نړیوال مقیاس کي د سوسیالیزم جوړول پر خارجي تضادونو باندي بریا او د هغه په متابعت د نوي نظام تاریخي بریا شمېرل کېږي. ستالین ویل: «د سوسیالیزم بریا هغه مهال وروستۍ کېږي، چي سوسیالیزم حداقل په څو هیوادونو کي بریا ته ورسېږي.»

د تدقيق ټکی يې همدا دی. په څو هيوادونو کي د سوسياليزم بريا، خپله سوسياليستي بلاک تشکيلوي، خو بورژوازي دولتونه به د شکه وتلې د سوسياليستي بلاک د له منځه وړلو او پانګوالۍ د بيا را منځته کولو لپاره په سوسياليستي هيوادونو کي هڅي وکړي او ويې هم کړلې. په دې ترتيب سره، چي د پانګوالۍ بيا رغوني خطر تلپاته دی او حتی په څو هيوادونو کي هم د سوسياليزم بريا نه شي کولای د سوسياليزم د وروستۍ بريا لپاره تضمين وګرځي. دا واقعيت چي نوي امپرياليستي قدرتونو سوسياليستي بلاک له منځه يووړ؛ زموږ په مخ کي دی. هغوی وکولای شوای او سوسياليستي هيوادونه هم د مبارزې پرته تسليم شول. په مقابله نقطه کي، هغه مهال د بورژوازۍ تر اغيزې لاندي رسنيو کي سوسياليستي ضد تبليغات خپل اوج ته رسېدلي وه. دا پېښه داسي استنباطوي، چي د سوسياليزم وروستۍ او نه را ګرځېدونکې بريا يوازي په اکثريتو هيوادونو کي د بريا او يا حداقل په پرمختللو هيوادونو کي د بريا معنا پيدا کوي. په هر حال، د دې فرضيې څخه داسي نه ښکاري چي (بلشويکان د مارکسيزم څخه اوښتي دي) او يا روسيه د سوسياليزم د رغاوي لپاره تياره نه وه. ددې نظريې څخه يوازي دا پايله اخيستلای شو، چي د سوسياليزم په حاکمولو کي بايد د پانګوالۍ د محاصرې څخه يو روښانه انځور ولرو، چي د پانګوالۍ د عناصرو د توليد سره په سوسياليستي هيوادونو کي، طبقاتي مبارزه د سوسياليزم سره لا تشديدوي. دې ټولو ته د ځواب ورکولو لپاره، د پرولتاريا ديکتاتورۍ د سوسياليستي دولت شتون، يوه پرمختللې تيوري ده او د يوې سيده سياسي کرښي په توګه مطلق

اهمیت ترلاسه کوي. هغه مهال، یوازي هغه مهال، پرولتري دولت کولای شي د دښمنانو د محاصرې په کړی کي ژوند وکړي او ټول بشریت د ځانه سره یو ځای کړي. د نړیوال انقلاب د سټالیني نظریې اهمیت چي نړیوال انقلاب ته یې د ټروټسکي تر تیوری ډېره زیاته وده ورکړل، همدغه ده! هماغسي چي ښکاره ده، د سټالین د ژوندانه په وروستیو کي پیاوړی سوسیالیستي بلاک را منځته شو او د شوروي رهبری لخوا سیاسي انحراف ته د مخه کولو او مارکسیزم – لنینزم څخه د لیري والي (خروشچفي ریژیونیزم – پ.ژ) سره - سره تر څلوېښتو نورو کلونو پوري خپل شتون ته دوام ورکړ. البته ویلای شو بهرني شرایط او تر ټولو وړاندي په دوهمه نړیواله جګړه کي د شوروي اتحاد بریا د سوسیالیستي بلاک په جوړولو کي ونډه درلودل. ددې سربېره، خپله دغه بریا د سټالین د سیاستونو پایلي وې او دده سیاستونه بیا دده د نظریاتو انعکاس وو. پر دې بنسټ، په قاطعیت سره ویلای شو چي د سوسیالیستي بلاک تشکیل (د سوسیالیستي دولت په ملاتړ سره د نړیوال انقلاب د سټالیني تیوری سموالی) عملاً ثابت کړ.

ددې ټولو خبرو پر بنسټ کولای شو داسي پایلې ته ورسېږو: سټالین د نړیوال انقلاب د تیوری او را منځته کولو اصلي شخص وو او د ټروټسکي پر خلاف، هغه یوازي د نړیوال انقلاب د اور په اړه ویناوي ونه کړې، بلکې لومړی په یوه هیواد او وروسته د نړیوال انقلاب د مضبوطو او کلکو بنسټونو په توګه د سوسیالیزم د تحکیم نظریه یې توضیح کړل او په مادیت باندي یې هم واړول.

# د سټالین ستایونکي زموږ د عصر مخکښ رهبران ول

## دومینکو لوزرودو

یادونه: دا لیکنه ددې مفهوم نه افاده کوي، چي سټالین کوم آسماني او نادره پدیده وه او باید کېش شخصیت ورکول شي، بلکې د ده په وړاندي د نړۍ د نوموتو مشرانو، لیکوالانو، فیلسوفانو او روښانفکرانو ژور احترام ښیي، چي د دې درناوي بنسټ، دده نظریات، خدمتونه، سمه مشري او کړني وې. (پ.ژ)

دومنیکو لوزوردو ایټالوی فلیسوف او د اوربینو پوهنتون استاد، د سټالین په اړه یو کتاب لیکلی، چي د لومړي ځل لپاره په ۲۰۰۸ کال کي په روم کي خپور شو. دا کتاب په ایټالیا کي ډېر جنجالونه وپارول او د ډېرو تاریخي بحثونو لامل شو. د آلمان په کُلن ښار کي د پاپیر روسا خپرندویه موسسې هغه کتاب تر چاپ څو ورځي وروسته د (سټالین او د توري افسانې تنقید) تر عنوان لاندي په آلمان کي هم نشر کړ. هغه څه چي دلته لولئ، د دغه کتاب پیلامه ده، چي په عین وخت کي د کتاب مضمون هم را پېژني:

د سټالین د مرگ غم ډېر وو. د احتضار په شېبو کي میلیونونه کسان د مسکو په لارو – کوڅو کي ولاړ وه، تر څو د وروستي ځل لپاره خپل مشر ووینې. د ۱۹۵۳ په مارچ کي (میلیونونه کسان د هغه د مړیني په خاطر داسي غمجن وه، تا به ویل چي هر یوه کوم خپل له لاسه ورکړی دی. د هیواد په لیري پرتو سیمو کي هم د ده د مرگ په اړه ذهنیت همداسي وو. کلیو ته د دې خبر د

رسېدو سره په ټول هیواد کي چوپتیا او غم وو. خواشیني د شوروي اتحاد څخه هم ووتل. د بودا پسټ او پراګ په کوڅو کي هم ډېرو خلګو او ښکي تویولې.)

په لویدیځ کي هم د کمونستي فعالینو له لوري د ویر پروګرامونه ونیول شول. (ایزاک دویچر) هغه تاریخ لیکونکی چي خپله د ټروټسکي د مینه والو څخه وو، د هغه په غم کي ولیکل:

«په درو لسیزو کي شوروي اتحاد په کُلي ډول واوښت. د سټالینیزم تاریخي اغیزې دغه وې: کله چي ده را پیل کړه شوروي داسي یو هیواد وو چي ځمکه یې په لرګي یوې کول، خو کله چي ده پرېښود، هغه شوروي د اټومي راکټورنو خاوند وو. هغه شوروي اتحاد د سوسیالیزم له لاري، د نړۍ په دوهم لوی صنعتي هیواد باندي بدل کړ او دا فقط یوه مادي مسئله او سازماني پرمختګ نه وو. د دې لاري لاسته راغلي پایلي ښیي، چي د یوه لوی فرهنګي انقلاب پرته هیڅ شونې نه وه، تر څو هیواد داسي ورغښږي، چي ټول خلګ زده کړو ته مخه کړي او په علومو وپوهېږي.»

## لوړ برم

تاریخ هغو لیکونو او تورونو ته، چي ټروټسکي د شوروي په مشر پسي تړلي کومه ساه نه ده پرې ایښې. هغه مهال چي نوی ټولنیز نظام په اروپا او آسیا کي وده کوي او انقلاب خپل ملي سنګر پرې ایښی، سټالین ته په یوه هیواد کي د

سوسیالیزم د پیروي ویونکی څه مانا لري؟ هغه سټالین چې ټروټسکي ورته د ټوکو او سپکاوي له مخې، یو کوچنی –احمق کلیوال وایه، د تاریخ دا طنز پر کوم لوري ولاړ؟

په ۱۹۵۰ کال کې، د السکاندر کوجیو په ډول یو نوموتي فیلسوف ته سټالین، د هغه شي تجسم وو چې هیګل [د نړۍ روح ګاڼه] او دا دنده یې درلودل، چې حتی د ځواک د لارو – چارو څخه په ګټې اخیستنې سره هم انسانیت وحدت ته را وغواړي او هغې خواته یې هدایت کړي، چې عقل او اراده سره یو ځای وي. د سړې جګړې او کوبا د جګړې د دوام سربېره په لویدیځ کې هم د سټالین په مړینه د کمونسټانو او چپیانو د دایرې څخه وتلي کسانو د سټالین څخه په کامل احترام یادونه کول. په هغه مهال کې یې دی نسبتاً د خوشاله زړه لرونکی دیکتاتور او سیاستوال یادوی او خلګو د هغه انسان یاد چې هغه ته یې د [مشر کاکا] لقب ورکړی وو، په خپل یاد کې ساتئ. د هغه لوی انسان یاد چې پر فاشیزم باندې یې لویه بریا تضمین کړله.

ایزاک دویچر ویلي وه: «سیاستوال او جنرالان د شوروي په لوی جنګي ماشین باندې د ده د فني جزیاتو او د ده د استادانه ټاکنو څخه ډېر حیران ول.»

دده له ستایونکو شخصیتونو څخه یو، چې حتی د اکتوبر د انقلاب وروسته یې په شوروي باندې څو واره نظامي حمله هم کړې وه؛ د سټالین په اړه داسې نظر ورکوي:

(زما دا سړی خوښېږي! - چرچل)

اورل هايمن د امريکا سفير په مسکو کي (۱۹۴۳ – ۱۹۴۶) له ده څخه په حيرانونکي ډول اغېزمن وو او تل يې په نظامي کچه باندي د ده مثبت انځور وړاندي کاوه. ده ويلي:

«زما له نظره هغه تر روزولټ با خبره او تر چرچيل ډېر د واقعيتونو ليدونکی او په اصطلاح يو برلاسی جنګيالی وو.»

آلسيده دوګاسپري، د ايټاليا د بهرنيو چارو وزير چي د ډموکراټ مسيحي ګوند څخه وو، تر دې هم مخته ولاړ. هغه، په ۱۹۴۴ کي د ستالين لخوا د سوق شويو پوځونو د فوق العاده تاريخي خدمت په اړه چي سل کلنه اغېزه يې درلوده ولمانځل او د دا ايټالوي سياستوال تائيدونه يوازي تر نظامي برخي پوري پاته نه شول:

«کله چي وينو هټلر او موسوليني انسانان د هغوی د نژاد په خاطر تر تعقيب لاندي نيول او هغه يهودي ضد قانون يې را منځته کړ، خو په عين حال کي ستالين هڅه وکړه تر څو ۱۶۰ نژادونه او قومونه په روسيه کي سره را يو ځای کړي او بشري ټولنه سره يوه کړي.»

ستالين د روښانفکره ملګرو په کتار کي هم د لږ اعتبار لرونکی نه وو. هارلود جي لاسکي چي هغه مهال د انګلستان د کارګر ګوند د مخکښانو څخه وو، په ۱۹۴۵ کال کي د بوتر بابيو سره په خبرو – اترو کي وويل، چي د شوروي

اتحاد او د هغه د عاقل رهبر ستايونکی دی. په هماغه کال کي هانا آرنټ ولیکل:

«د هغه هیواد ځانګړتیا چي د سټالین تر رهبرۍ لاندي دی، دا ده چي د ملیتونو د اختلاف سره سم چلند کوي، اختلافونه له منځه وړي او بیلابیل ملیتونه، د ملیتونو د برابرۍ پر بنسټ سره یو ځای کوي. دا یو ډول درس دی، داسي یو درس چي هر سیاسي او ملي غورځنګ باید د هغه څخه زده کړه وکړي.»

بنه دتو کروچه (ایټالوی تاریخپوه او فیلسوف) د دوهمي نړیوالي جګړې وروسته ولیکل، چي سټالین د نازیانو سره په جګړه کي نه یوازي د خپل هیواد بلکې د ټولي نړۍ بریا تضمین کړل. ده وویل:

«د شوروي مشري د یو نابغه سیاستوال په لاس کي ده، چي مخ پر وړاندي خپل تاریخي رول ترسره کوي. د انقلاب څخه د وړاندي روسیې پر قیاس سوییټیزم د آزادۍ لپاره یو پرمختګ دی، هماغسي چي استبدادي سلطنت د فیوډالي رژیمونو پر نسبت آزادۍ ته یو پرمختګ وو او د هغه د لویو بریاوو د تداوم سبب شوی دی.»

د فلاسفه وو شک د شوروي د آیندې په اړه وو او د هغه په قیاس یې سټالین تر نورو ډېر مطرح کاوه. هغه د لنین ځای ونیو، د یوه نابغه ځای بل نابغه ونیو، خو د شوروي راتلونکې رهبري به پر کومه خوا ولاړه شي؟

## نوی تمدن

هغه کسان چي په هټلري ضد ايتلاف کي د کړکېچ په راتلو سره په دې هڅه کي شول، چي شوروي اتحاد د هټلري آلمان سره مقايسه کړي؛ د توماس مان د سختي ادبي ټکوني لاندي راغلل. هټلر د نيچه د هغه امر څخه پيروي کول چي ويلي يې وه (ليونی هغه دی، چي غلام غواړي خو عاليجناب يې روزي) خو د شوروي سوسياليزم تګلوری سم د هغه په مقابل لوري کي وو، چي د پوهي او فرهنګ د پياوړتيا په زياتوالي سره يې ښکاره کړل، چي غلامان نه غواړي بلکې متفکره او آزادي خوښونکي انسانان غواړي، چي د ټولو لپاره آزادي خوښوي. د دې مخي څخه د دغو دوو رژيمونو (شوروي او هټلر) يو ګنېل منونکې نه ده. هغوی چي دا ډول استدلال کوي، خپل ځان د فاشيزم سره يو کوي، حتی که ادعاء وکړي چي هڅه يې د فاشيزم محکومول دي. توماس مان، ليکي:

«هغوی چي دا دواړه يو ګڼي، ښايي په خپل نظر يو ډموکراټ وي، خو د خپل زړه په ژورو کي يو فاشيسټ دی.» البته وروسته سړه جګړه ونښتل. هانا آرنټ په ۱۹۵۱ کي په خپل کتاب کي د ټوټليټاريزم (مطلق غوښتني) په اړه د توماس مان د نظر سره ټکر وکړ. توماس مان د فاشيزم او سوسياليزم يو ډول ګڼېل سم نه بلل او په ټينګه يې انتقاد ور څخه کاوه، خو د هغه سره هممهاله فرانسوي فيلسوف کوژف د سټالين څخه د يو تاريخ بدلونکي مخکښ په توګه ستاينه وکړه. دا په دې مانا ده، چي حتی په لويديځ کي هم دا نوی

حققيت يا په بله مانا دا تازه فکر، يعنې د ټولټاريزم د بېلا بيلو شکلونو په سختۍ سره وکولای شوای ځان ته لاره پرانيزي. په ۱۹۴۸ کال کي لاسکي هغه نظر، چي درې کاله مخکي يې ويلی وو، تقريبا روښانه کړ. هغه د شوروي اتحاد په اړه د تعريف لپاره يوه پلا بيا يوه بله مقوله مطرح کړله، چي بناتريس وب د برټانيې د کارگري غورځنگ يو نماينده، د ۱۹۳۱ کال څخه د دوهمي نړيوالي جگړې وروسته او تر خپل مرگ لږ مخکي مودې پوري هم استعمالوله او هغه عبارت وه د [نوي تمدن] څخه. لاسکي په ټينگار سره وليکل:

«سمه ده هغه طبقه چي ډېرکله ټکول شوې ده او استثمار کېدله، د خپل ټولنيز پرمختگ لپاره هغه غوښتني مطرح کړلې، چي معمولي نه وې. د هغه د پوره کېدلو وروسته په کارخانو او فابريکو کي نوي مناسبات برقراره شول، چي د تېر پر خلاف نور د هغه حقوقي بنسټونه د توليد پر وسايلو باندي د کار د خاوند نه وه، د دې غوښتنو ټولگي په هغه هيواد کي منځته راغلې، چي د نوي تمدن مخکښ وو او سټالين د هغه هيواد مشر وو. دا نوی تمدن چي د پيدا کېدلو په حالت کي دی، لا يې تراوسه يو دروند بار پر اوږو دی، چي هغه عبارت دی د وحشي صفته روسيې څخه. د دغه وحشي صفتۍ شکل استبداد و.»

لاسکي ټينګار کوي، ددې لپاره چې وکولای شو، د شوروي اتحاد په اړه يوې سمي محاسبې ته ورسېږو، بنسټيز واقعيتونه بايد له پامه ونه غورځوو او هغه دا چې:

«هغه چا چې د مشرۍ ځواک يې په لاس کي درلود او مجبوره وو، چې په هغه وضعيت کي حکومت وکړي چې د هغه سره روږدی سوی وو. هغه وضعيت چې دوی ورسره مخ وه او مجبوره ول، چې په هغه وضعيت کي حکومت وکړي، دا وو چې تقريباً په دايمي محاصره کي وه او په دوامداره ډول په واقعي يا باالقوه جګړې کي را ښکېل ول.»

نا ويلې پاته نه شي، چې انګلستان او متحده ايالات هغه مهال چې د يو بحران سره مخ کېږي؛ سنتي آزادۍ لږ زيات محدودوي.

چرچيل چې سړه جګړه يې په فولتون کي د خپلي وينا په ترڅ کي رسماً پيل کړه، بېځايه نه وويل چې:

«زه د شوروي د زړورو خلګو او مارشال سټالين ته چې د جګړې په دوران کي زما همسنګره وو؛ ژور احترام لرم.»

بې شکه د سړې جګړې د تشديد سره د خبرو طرز، په تدريج سره سخت او لا پسي سخت شو. د دې ټولو سربېره نوموتی انګرېز تاريخپوه آرنولډ ټويبيني چې د برتانيې د خارجه وزارت کارکونکی هم وو، په ۱۹۵۲ کي د شوروي رهبر يو نابغه انسان معرفي کړ:

«په ټکنالوژۍ کې لویدیځ ته د رسېدو لپاره د سټالین استبدادي پلانونو خپل ښه والی هغه وخت ښکاره کړ، چې د جګړې په میدان کې یې د آزموینې ځای راغلی.»

نه یوازې یې د درېیم رایش (فاشیزم) په ګونډه‌و کول ښکاره کړل، چې هغه چارې سمې وې، بلکې د ناګاساکي او هیروشیما د پېښو وروسته شوروي اتحاد باید یوه پلا بیا خپل ځان تر لویدیځې ټکنالوژۍ پورې ور رسولی وای او یوه پلا بیا په یوه سخته لارتللی وای، چې هغه لار یې هم د برېښنا په چټکتیا سره ووهل.

## د وحشت کور ته د سټالین تبعیدول

احتمالاً یو بله تاریخي پېښه ده، چې د سټالین په اړه د فکرکولو په بنسټیز تغیر کې اغېزناکه وه. د چرچل هغه وینا، چې د ۱۹۴٦ د مارچ پر پنځمه یې په فولتون کې وړاندې کړله؛ د هغه نطق سره یې توپیر ډېر لږ وو، چې لس کاله وروسته، د ۱۹۵٦ کال د فبروري پر ۲۵ باندې، د شوروي اتحاد د کمونسټ ګوند په شلمه کنګره کې د نیکیتا خروشچف لخوا وړاندې شول. دا پټه وینا د هغه دیکتاتور انځور وړاندې کوي، چې وینه څښونکی، ځان خوښونکی او خاین دی! د روښانفکرۍ په حوزه کې دا ناوړه انځور تر دریو لسیزو پورې تقریباً ټولو منلی وو. دا توصیف هغو تازه رهبرانو ته چې په شوروي اتحاد کې د سیاسي ځواک خاوندان وه، دا موکه ورکول، چې د سوسیالیزم په بلاک او نړیوال کمونستي غورځنګ کې خپل ځانونه د یوازیني مشروع انقلابیونو په

واسطه وښيي، هغه غورځنګ چي د شوروي اتحاد د سوسیالیستي جمهوریتونو پلازمینه مسکو یې خپل مرکز ګاڼه. لویدیځ هم د دې څخه چي خپل پخواني اعتقاد یې تائید شوی او د سړې جګړې لپاره یې تازه استدلالونه پیدا کړي وه؛ خوشاله وو. د متحده ایالاتو سوویټولوژی (شوروي پېژندني) لومړی هغه افرادو او عناصرو چي د اکټوبر د انقلاب د لمني څخه را پورته شوي هیواد په علاقه مندی شکمن وه، تصفیه کړل. د امریکا سوویټولوژي چي د سړې جګړې د دوام لپاره یې لید لوری درلود کرار – کرار ځان ته نظامي څېره خپلول. په ۱۹۴۹ کي د امریکا د تاریخ ټولني رئیس وویل:

«باید ځان ته اجازه ورنه کړو چي یوازي اردټودکس (معتقد عیسویان) شو؛ د موخو او ارزښتونو لپاره خلګ خوښونه نوره په کار نه ده. باید پراختیا موندلي مقررات ومنو، څکه جګړه که سړه وي که توده؛ ټول موږ خدمت ته غواړي او له موږ څخه غواړي چي خپله دنده ترسره کړو. په دې دوران کي د یوه تاریخپوه دنده د یوه فزیک پوه تر دندي کمه نه ده.»

په ۱۹۵٦ کي له دوی څخه یو هم له منځه نه ول تللي، خو په لږ وخت کي د امریکا لږ و ډېره نظامي شوي سوویټولوژی نوي هڅونکي پیدا کړل، چي د کمونستي نړی له دننه څخه را پورته شوي وه. سمه ده چي د خروشچف محرمانه وینا تر ډېره یو څوک تورنوی، نه خپله کمونیزم، خو په هغه کلونو کي امریکا او متحدینو یې هم دا سلا کړې وه، چي افراط ونه کړي او پام د سټالین هیواد ته متمرکز کړي. د بالکان د ټرون د لاسلیک سره، چي ترکیه او

یونان د یوگوسلاویا سره، په ۱۹۵۲ کي د ناټو په باندني غړو باندي واوښتل او تقریباً شل کاله وروسته چین هم د امریکا سره یو ورته تړون لاسلیک کړ؛ دغو دواړو د شوروي ضد دوه فکتورونه تشکیلول. هغه څه چي دوی ته یې اوله درجه اهمیت درلود، د شوروي منزوي کېدل وه، تر څو د سټالین ځېني پر لار لا زیات گامونه واخلي.

## د پاملرني وړ!

پر سټالين باندي، د مسکو د تورونو پوري کولو له لاسه نوموتو روښانفکرانو هغه لېوالتيا او مينه چي د سټالیني شوروي سره يې درلودل؛ هېره کړل. هغو روښانفکرانو چي ځانونه يې تروتسکيستان گڼل؛ هغه تورونه د ځان لپاره تائيدی گڼلې. د شوروي، د دښمنانو د نظره ډېر وختونه ټروټسکي د کمونيزم شرم وو او دی يې ريښه ايستونکی يا يهودي ريښه ايستونکی باله. حتی په ۱۹۳۳ کي چي د تروټسکي د تبعيد څخه څو کلونه تېر شوي وه، آلماني فيلسوف اولد شپنگلر، هغه لوی بلشويک قاتل ونوماوه. د شوروي اتحاد د کمونسټ گوند شلمي کنگرې يوه د تړون نقطه منځ ته راوړه، چي د دې لامل شول، د هغه څخه وروسته يوازي سټالين او نژدې ترينه همکاران يې د وحشت کور ته واستول شي. د هغه ځايه چي د خروشچف د پټې وينا د اغېزه د ټروتسکيانو تر محافلو هم زياته ووتل او په اصطلاح د چپي مارکسيسټانو په محافلو کي يې هم تسلي جوړوله، ځکه پوهېدل چي ددې لاري د استاد (مارکس) په نظرياتو کي تجديد نظر او هغه مشخص تاثيرات چي پرځای يې

پرې ایښې وه؛ د دوی د اوږې څخه اخیستل کېدلای شي. په کمونستي هیوادونو کې نه یوازې دولتي دستګاوې له منځه نه وې تللې، بلکې لا ډېرې غټې شوې وې او ملي هویتونو په کشمکشونو کې لا نور زیات اهمیت پیدا کړی وو، څو د سوسیالیزم د بلاک د له منځه تللو او پاشل کېدو مخه ونیسي. نه یوازې د بازار او پیسو د منځه تلل نه تر سترګو کېدل، بلکې د اقتصادي پرمختیاوو سره د پیسو اقتصاد او بازارونو لا زیات اهمیت پیدا کړی وو، البته دا نه انکار کېدونکې واقعیتونه وه، خو د هغو ټولو پړه د سټالین او سټالینیزم پر غاړه وې. پر دې بنسټ، د هیلو د له لاسه ورکولو لپاره کوم دلیل شتون نه لرې. دا سیاسي او ایډیالوژیکي حوزې د سټالین یو داسې تصویر وتراشئ، چې په مطلق ډول سره د دوی خپل ذهن ته د منلو وړ وو. د دې انځور د جوړولو لپاره نه یوازې د سټالین حضور د بلشویزم د تاریخ څخه بلکې په کُلي ډول، د مارکسیزم څخه لا لیرې شو. یعنې هماغه خلګو چې د مارکس او انګلس پر نظریاتو باندې د تکیې له لارې د تدراک شوې انقلاب په ترڅ کې، تر نورو ټولو وړاندې د قدرت واګې په لاس کې اخیستې وې؛ نور یې د مارکس او لنین لاره پرېښې وه. په دې ډول سره، د انقلاب ضد عناصرو په ډېرې آسانۍ سره د شوروي اتحاد تراژیډیک او له تضادونو ډک تکامل باندې سترګې پټې کړې. تر هغه وروسته هرې سیاسي او ایډیالوژیکي حوزې، د خروشچف تر وینا وروسته خپله افسانه جوړه کړل؛ هم هغو چې لویدیځ یې پاک ګاڼه او هم هغو چې مارکسیزم او بلشویزم یې پاک ګڼئ. سټالینیزم یوه واحده او ډار اچونکې مرجع وه، ټولو مخالفینو ته یې دا موکه ورکول، چې د ځانه راضي

واوسي او د خپلي اخلاقي او روښانفکرانه برترۍ په اړه ناپایه ستاینې وکړي. د دې سره چې دا بېلابېلو تفسیرونو متفاوتي انتزاعي سرچينې درلودې، خو په پای کي یوه میتوډولوژیک یووالي ته رسېږي. د ترور په اړه د دوی څېړني چې عیني وضعي ته د دقیقي پاملرنې پرته ترسره شوي، پر دې پایلو باندي ختمېږي چې ترورونه د یوه سړي یا یوه ټولگي د رهبرانو غوښتنه وه، دوی په دې باور وه چې خپل مطلق ځواک د ټولو لارو څخه په گټې اخیستني تطبیق کړي. په دې شرایطو کي که وکولای شو، سټالین د یو لوی سیاسي شخصیت سره پرتله کړو، دا شخصیت د هټلر پرته بل څوک نه دی. په پایله کي دوی ته، د سټالیني شوروي د پېژندني لپاره د قیاس وړ یوزاینۍ بېلگه هټلري آلمان راوځي. دا یو ځای کېدنه، د لومړي ځل لپاره د ۱۹۳۰ کلونو په پای کي د تروټسکي له خوا طرحه شول، چې په وار - وار یې د مطلقي دیکتاتورۍ مقوله کارول او په دې مقوله کي یې دوه سیسټمونه (سټالیني او فاشیستي) یو د بل په څنگ کي یادول. یعنې دا هغه د پیل ټکی وو چې وروسته په سړه جگړه او په شوروي اتحاد کي د مسلطي ایډیالوژۍ لخوا عمومي نظرونو ته وړاندي شو. آیا دا استدلال دغه ډول قانع کونکی دئ؟ یا ښه داده چې د تطبیقي ادبیاتو خواته مخه کړو او هغه مهال د شوروي د تاریخ ټولگه د ښکېلو لویدیځو هیوادونو سره په دوهمه دېرش کلنه جگړه کي را وڅېړو؟ د دغه تگلاري په کارولو سره هغه رهبران او ټولگي چې په کلي ډول توپیرونه سره لري؛ یو ډول پرتله کېږي، خو آیا هغه توپیر چې د دوی په منځ کي دی یوازي د دوی د ایډیالوژۍ پیداوار دی، یا د هغوی عیني موقعیت چې

جیوپولټیک کولیکشن ورته وایي، هم د دې توپیرونو په را منځته کولو کي بنسټیز رول ترسره کوي؟ کله چي موږ د سټالین خبره کوو، په بې اختیاره ډول سره فردي ځواک، د اجباري کار د کمپونو کهکشان او د یوې سیمي څخه و بلي سیمي ته د یوه قوم په زوره کوچول مو ذهن ته راځي، خو که شوروي پرېږدو او دا پدیدې یوازي په هټلري آلمان کي مطالعه کړو، یا په هغو هیوادونو کي چي حاکم لیبرالي سنتونه لري، هم ورته پېښي نه تر سترگو کېږي؟ که کېږي، نو بیا ولي یوازي په شوروي کي دا موضوعات شاربل کېږي؟ دلته، نه باید د ایډیالوژیو ونډه هیره کړو! آیا په رښتیا سره هم کولای شو هغه ایډیالوژي چي سټالین مطرح کړله، د هغي ایډیالوژۍ سره چي هټلر ته الهام ورکونکې وه؛ یوه وگڼو؟؟؟

د (بې مثاله ارمانونو) د نظریاتو تیوریسنان وایي، د یوه سیاسي غورځنگ یا یوه سیاسي جریان لپاره د ارزښت ټاکني معیار د هغه لوړ ارمانونه نه دي، داسي ادعاء کېږي چي د دغه ارمانونو د ارزښت موندني لپاره باید په نظر کي ولرو چي د هغوی د یوې برخي اغېزه په عیني عمل کي څه ډول ده؟ پوښتنه دا ده، چي آیا دغه اصل د عمومي اعتبار درلودنکی دی، یا د هغه اعتبار یوازي تر هغه غورځنگ پوري مهم دی، چي لنین یا مارکس یې پیلونکي وه؟

دا پوښتني د ځینو کسانو له نظره بدي او لارورکي کونکي ښکاري، چي د سټالین د انځور د اوښتلو د مسئلې سره د مخامخ کېدلو پر مهال، په دې باور چي خروشچف د هغه حقیقت څخه چي ډېره موده پټ وو؛ په پای کي پرده

واړول. البته هغه تاریخ لیکونکی، چې غواړي ۱۹۵٦ کال د واقعیتونو د څرګندېدلو کال وګڼي؛ په واقعیت کې خپله میتودولوژیکه کمزوري ښکاره کوي او پر هغه ستونزو او علایقو یې سترګې پټې کړې دي، چې د سټالین ځیني الهام ورکونکي دي او تر هغه وړاندې بیا د سړې جګړې د سوویتپولوژۍ الهام ورکونکي وه. د سټالین د انځور شدید تضاد باید تاریخپوه دې ته اړ نه کړي، چې دا - یا هغه انځور یې مطلق کړي، بلکې باید د اوښتونو د انګېزو په لټه کې هم واوسېږي.

# د سټالين ځپني او سټالين ځپونکو په اړه

سرچينه: د روسيې د کارګرانو د کمونسټ ګوند سايټ

د ميخايل فدتوف په نوم يوه چا چې يو خوله ډکونکي عنوان (د روسيې د جمهوري رياست په چوکاټ کې د مدني بنسټونو او بشري حقونو د پراختيا د شورا رياست) په مقام کې کار کوي، د روسيې د خلګو او چارواکو څخه وغوښتل، چې سټالين ځپني ته په ټولنيز ژوندانه کې وده ورکړي. دده نوښت د ديمتري مدودوف د هرکلي سره مخ شو. په همدې بهانه د بورژوازۍ ماشينونو په فعاليت پيل وکړ، په دې مانا چې د سټالنيزم د رنسانس د مخنيوي لپاره په هر شکل کې [سټالين ځپنه] په ټولنيز ژوندانه کې مهمه ده، خو هغه وخت را رسېدلی، چې د دغو ښاغلو وېره د دې کارګري سوال په طرحې سره چې اصلي خبره پر چشي ده؟؟؟ څخه د ځواب غوښتونکي شو. ډېر وخت يې سټالين وځپئ، دا هم د دوی د خپل حاکميت مرګوني پايلي دي!

## اول - د هيواد اقتصاد ناصنعتي شوی:

که شوروي اتحاد د يوه پرمختللي صنعتي ځواک بېلګه وو او د علمي او ټکنولوژيکي شاخصونو پر بنسټ په نړۍ کې تر ټولو مخکښ هيواد وو، نننۍ بورژوازي روسيه کلونه - کلونه شاته ده. په ۱۹۹۰ کې شوروي اتحاد ۷۴۱۷۱ د اوسپني د پرې کولو بيلابېل وسايل درلودل، خو په ۲۰۰۹ کال کې د روسيې د توليد کچه (د شلو کالو وروسته!) ۱۸۸۲ ته رسيدلې. په داسي حال کې، چي

شوروي اتحاد په کلني ډول ۲۱۳۶۰۰ دستګاوي ټراکټورونه او ۱۴۱۳۱ دستګاوي بلډوزرونه توليدول، په نننۍ روسيه کي د هغو د توليد کلنی شمېر په ترتيب سره ۷۶۰۰ او ۷۲۱ دی او په آزاده(!) روسيه کي د نساجۍ ماشينونو توليد هم ۱۳۰۰ واحدونو ته د ۱۸۳۴۱ څخه را کښته شوی. د وطني الوتکو جوړونه هم تر پخوا لس سلنه کم دي. په بل عبارت که د سټالين په دوره کي هيواد د ماشينونو په ډېروالي کي کوښښ کاوه او هغه ته يې لاسرسی هم پيدا کوئ، نن په داسی حالت کي دی چي بايد خپله ماشينونه را وارد کړي.

## دوهم – کرنه فلج ده:

په بل عبارت، که شل کاله مخکي هيواد خپل د اړتيا وړ توکي په پوره توګه سره تيارول، نن د ۴۰ سلني څخه زيات د نورو هيوادونو څخه واردوي او يو پر درې کرل شوي ځمکي له کرنيز دورانه وتلي او او اوس ټول وچ واښه دي.

## دريم – د هيواد د خلګو د فرهنګ دخرابېدو لړۍ:

خلګ په يو ګډوډ حالت کي دي. په دې اړه، همدا بسنه کوي چي د شاهکار او دوهم کور ټلويزيوني خپروني د نظر پوښتنو پايلي ښيي، د روسيې د خلګو يو دريم يې په دې باور دي چي لمر پر ځمکه باندي را څرخي! دولت علم له منځه وړی!

په سياسي برخه کي بيا د سټالين ځېني په اړه همدا بسنه کوي، چي د هيواد بيرغ بدل شو. شوراګاني د زيار ايستونکو د حاکميت د ځواک په توګه منحل شولې او د قدرت او پانګي بسټونه بيا ورغول شول. د هيواد زيار ايستونکو خلګو ته د کاري حيوانانو دنده، هغه دنده چي هټلر يې هيله درلودل، ورکول شوې ده. په دې ترتيب سره سټالين ځېونکي اصولاً نبايد هيڅ ډول اندېښنه ولري. هغوی خپل رزيلانه کار په ټوله کي په ښه توګه ترسره کړی، پر دې بنسټ، اوس بايد د روسيې زيار ايستونکی ولس کېني او په دې باندي فکر وکړي چي په تېرو شلو کلونو کي دا ښاغلو زموږ لپاره څه شي جوړ کړي دي؟ د ماشومانو د مړيني، چي تر زېږونونو يو نيم برابر زياتي دي؟ دا ډموکراسي زموږ په څه درد خوري؟ آيا هغه وخت چي زيار ايستونکی انسان مړ نه شي او په خپل عمل باندي افتخار وکړي نه دی را رسېدلی؟ بېخي سم وخت دی، چي بايد د سټالين ځېونکو شا دېوال ته ولګوو او له هغوی څخه وپوښتو: راکړه ځواب!

## پای